**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**د افغانستان بانک**

# د افغانستان د بانکونو ترمنځ د ورکړې (ادایني)

# او

# د بیه لرونکو پاڼو د تصفیې سیستم

# پالیسي

# (AIPSSS)

**د سیستم اصول او کړنلارې**

**۲۰۱۷**

د نسخې کنټرول

| نسخه | نېټه | لیکوالان | ملاحظات |
|---|---|---|---|
| د ۰.۰۱ نسخه | ۱۲/۲۸/۲۰۱۶ | محترم أبیب گای (Abib Gaye) | دیدې پالیسي مسوده د محترم أبیب گای لخوا ترتیب شوي. |
| د ۰.۰۲ نسخه | ۰۶/۰۴/۲۰۱۷ | دمشاوریت حقوقی ټیم | د قانونگذاری له مخی دیدی مسودې شکلیات د مشاوریت حقوقی لخوا ترتیب شوي. |
| د ۰.۰۳ نسخه | ۰۷/۱۲/۲۰۱۷ | دعملی کولو ټیم | دیدې مسودې اړوند تخنیکی شکلیات د عملی کولو ټیم لخوا ترسره شوي. |

**د محتویاتو لړلیک:**

لومړی فصل: عمومي احکام او هدفونه ............................................................................4
دوه یم فصل: د ګډون او لاسرسی شرایط......................................................................۹
دریم فصل: د افغانستان بانک دندې او مسئوولیتونه/د کاروونکي مدیریت/عملیاتي جدول..................۱۵
څلورم فصل: د آداینې طی مراحل او کړنلاره.............................................................۲۱
پنځم فصل: د کتار مدیریت او د ناورین حلول...........................................................۲۴
شپږم فصل: د آداینې تثبیت او شرایط/نهایي او نه فسخ کیدنه.........................................۲۶
اووم فصل: د حساب جوړښت او مالي ترتیبات...........................................................۲۸
اتم فصل: د مشترکینو حقونه او مسئوولیتونه............................................................۳۱
نهم فصل: خالصه تصفیه او د وثیقې/تضمین کړنلارې...................................................۳۴
لسم فصل: د خطاء کنټرولول، فیسونه او وضع شوي لګښتونه.........................................۳۷
یوولسم فصل: دعوا، د خسارې جبران او احتمالي پیښې..................................................۳۹
دوولسم فصل: مصالحه (میانجیګری)، حکمیت او د افلاس پیښې......................................۴۱
لومړۍ ضمیمه: د مشترکینو لست.............................................................................۴۶
دوه یمه ضمیمه: د مشترک د کاري ساحې لړ تر لړه شکل بندي........................................۴۷
دریمه ضمیمه: د مشترک د غوښتنلیک فورم/د مشترک موافقت لیک....................................۴۸
څلورمه ضمیمه: د کاروونکي د غوښتنلیک فورم..........................................................۵۱
پنځمه ضمیمه: د کاروونکي ځنډول/د غوښتنلیک فورم حذفول...........................................۵۳
شپږمه ضمیمه: د ATS سیستم ورځنی موده ایز جدول...................................................۵۵
اوومه ضمیمه: د تفتیش کلنی فورم/توضیح/تعریف.........................................................۶۰

# لومړۍ فصل

# عمومي احکام او هدفونه

**لومړۍ ماده:**

(۱) د ATS سیستم د افغانستان د لیږد اتومات سیستم څخه عبارت دئ. د ATS سیستم د اداینې دستورونه چې د مشترکینو لخوا د انفرادي معاملې یا د ډله ییزو معاملو په بڼه چې د مشترکینو ترمنځ مبادله شوي وي، په لاره اچول کیږي، د ناخالصی تصفیې او د دې ترڅنګ د خالص وضعیت چې د خالصی تصفیې د دستورونو څخه رامنځ ته شوی وي، د نهایي والي (او نه فسخ کیدنې) څخه ډاډ ترلاسه کوي، د معاملو نهایي (او نه فسخ کیدونکي ) تصفیه کې دولتي بیه لرونکي پاڼې چې د بیه لرونکو پاڼو د مرکزي سیستم (CSD) له لارې طی مراحل کیږي او د افغانستان د مرکزي بانک له لوري ساتل کیږي، شاملې دي.

(۲) د چک فایلونه په برېښنایي توګه د چک وړاندی کولو( ELECTRONIC CHEQUE PRESENTMENT) په فایلونو کې ځای پرځای شوي او دواړه د چک معلومات او د چک انځورونه (مخکی او شاته) رانغاړي. فایلونه بیا د ځانګړي شوي اوځاریز ځانی جال( VIRTUAL PRIVATE NETWORK) له لارې تبادله کیږي.

(۳) د ATS سیستم مشترکین په خپل نوم سره عمل کوي. د مشترک کیدو لپاره یوه اداره باید د عملیاتي وړتیا (ظرفیت)، مالي سلامتیا، قانوني (حقوقي) سلامتیا او مالي شرایطو سره چې په دوه یم فصل کې د لاسرسی شرایطو په نوم درج شوی، مطابقت ولري.

(۴) " اصول" دا اصطلاح د هغو اصولو، کړنلارو او ټولي هغه ضمیمې چې دلته درج شوي او ورسره مل مواد لکه د کاروونکي لارښوود، د سیستم اسناد او نورو اسنادو (موادو) ته اشاره کوي. دغه مواد وخت په وخت تعدیل کیږي. اوکه د دغو اصولو او د کومې ضمیمې ترمنځ کوم تضاد شتون ولري، نو د اړوندو خدمتونو په برخه کې د ضمیمې شرایط ارجحیت لري.

(۵) په دغو اصولو کې ټولې بنودل شوي مودې په هغه ځای او وخت پورې اړه لري چیرته چې د مرکزي بانک اصلي دفتر واقع دئ.

(۶) د ATS سیستم کارول شوي مشخصه ترمینالوژي (اصطلاح پیژندنه) او مخففات د دغو کړنلارو او اصولو په لغت لیک کې توضیح شوي دي.

**د افغانستان بانک نقش**

**دوه یمه ماده:**

(۱) د افغانستان مرکزي بانک د ATS سیستم عامل (اجراء کوونکی) دئ، چې د دې سیستم د کنټرولو، مدیریت او اجراء کولو قانوني مسئوولیت لري.

(۲) د افغانستان مرکزي بانک د خپل ظرفیت په چوکاټ کې د تصفیې حسابونه اداره کوي، د یوې ورځې سیالیت او اسانتیاوې برابروي څو د تسویې او اداینې له اغیزناک او سالم سیستم څخه ډاډ ترلاسه کړي. په دې تړاو مرکزي بانک په افغانستان کې د اداینې فعال سیستم همغږه او ورڅخه څارنه کوي او د ATS سیستم د عامل په توګه د خپل ظرفیت په چوکاټ کې د تصفیې نماینده په توګه عمل کوي.

(۳) مرکزي بانک د دې سیستم د عامل په توګه د خپل ظرفیت په چوکاټ کې مسئوولیت لري چې د ATS په سیستم کې د ګډون لپاره اجازه صادره کړي، او د دې ترڅنګ د دغو اصولو او د امنیتی کړنلارو د جوړولو او ساتلو او د دې سیستم د عملیاتي معیارونو او کړنلارو د تصدیق او تثبیت مسئوولیت هم په غاړه لري. د افغانستان بانک د مشترکینو لخوا د دغو اصولو د سم اجراء څخه څارنه او کنټرول کوي.

(۴) د افغانستان مرکزي بانک (د افغانستان بانک) د دې سیستم د تخنیکي عامل په توګه هم عمل کوي. د افغانستان بانک د تخنیکي عامل په توګه ورځنی فعالیت اداره کوي، د راپوورونو او چارټونو (ګرافونو) پر جوړولو باندې مدیریت کوي او د مدیریتی شاتړ(Backups) او د لادرکه شویو معلوماتو د بیرته ترلاسه کولو په ګډون د ATS سیستم معلومات، پوست کالي (Software) او بیخ بنسټ د امنیت مسئوولیت پرغاړه لري.

(۵) د افغانستان بانک کولای شي چې په خپل واک سره دریم شخص ته عملیاتي مسئوولیتونه وروسپاري. دا کار د اړوندو فعالیتونو په برخه کې د مشترکینو په وړاندې د افغانستان بانک مسئوولیت ته کوم زیان نه رسوي.

**عمومي حکمونه**

**دریمه ماده:**

دا اصول او مقررات د افغانستان بانک د بانکونو ترمنځ د اداینې د تصفیې د اصولو په توګه چې د افغانستان د مرکزي بانک لخوا اجراء کیږي، ذکر شوي دي. دا اصول او مقررات د اداینې د ملي سیستم د اعلامیې د داووه اتیایمې مادې د حکمونو له مخې صادر شوي دي.

(۱) د ATS سیستم د لاندینیو مواردو د ناخالصه نهایي (او نه فسخ کیدونکي) تصفیې حالت څخه ډاډ ترلاسه کوي:

(الف) د اداینې دستورونه چې د مشترکینو لخوا یا د ځاني (Individual) معاملو په توګه یا د ډله ییزو(Bulk) معاملو په توګه چې د مشترکینو ترمنځ مبادله شوي؛ او

(ب) د خالص مالي وضعیت نهایي (او نه فسخ کیدونکي) تصفیه چې د ځنډول شوي خالصی تصفیې له سیستمونو لکه د افغانستان د توکو مبادلې څخه لامل شوی وي.

(۲)"" دا اصطلاح د هغو اصولو، کړنلارو او ټولې هغه اړوندی ضمیمې او ملپاڼې چې دلته یا ورته برخې سره مل وي او د کاروونکي لاربنوود، د سیستم اسنادو او نورو برابر شویو اسنادو (موادو) په ګډون د اړوند موادو لخوا بشپړی شوی وي، اشاره کوي. ټول مواد وخت په وخت تعدیل کیږي. اوکه چیرې د دغو اصولو او مقرراتو او دیدې سند د ضمیمو ترمنځ کوم تضاد شتون ولري، نو د اړوندو خدمتونو په برخه کې د ضمیمي شرایط ارجحیت لري.

(۳) په دې اصولو او مقرراتو کې ټول ښودل شوي وختونه د هغه ځای له وخت سره تړاو لري چیرته چې د افغانستان د مرکزي بانک اصلي دفتر واقع دی.

(۴) د دې سند موخه د هغو اصولواو مقررو روښانه تعریفول دی چې د مشترکینو او د ATS په سیستم کې د هغوی د فعالیتونو د مدیریت لپاره جوړ شوي دي.

(۵) دیدی پالیسی اصول او مقررات پر هغو مشترکینو باندې د تطبیق وړ دی چې د افغانستان د مرکزي بانک لخوا د دې اجازه لري چې د ATS په سیستم کې ګډون وکړي او د سیستم د اصولو په برخه کې مشترک هوکړه لیک لاسلیک کړې وي.

(۶) په هغه صورت کې چې د دې پالیسي د اصولو او د کړنلارو ترمنځ کوم تضاد رامنځ ته کیږي، دیدی پالیسي اصول ارجحیت لري.

(۷) په دی پالیسي کې د رجوع (منبع او ماخذ) د اسانتیا لپاره عنوانونه اضافه شوي چې د دغو اصولو شرح نه بدلوي.

(۸) د منبع او ماخذ په توګه قوانینو کې د هرې اداري مقررې، قوانین، فرمانونه او سندونه چې د قانون او د هغه اړوندو تعدیلاتو یا دهغه قانون د بیا ځلي توشیح کیدو یا بدلیدو په تعقیب کې صادر شوی وي، شامل دي.

(۹) د ATS سیستم مشترکین په خپل نوم سره عمل کوي. د ATS سیستم د غړیتوب په منظور، یوه اداره باید د عملیاتي ظرفیت، مالي سلامتیا، قانوني (حقوقي) سلامتیا او مالي شرایطو (التزاماتو) سره چې لاندې په دوه یمه برخه (د لاسرسی شرایطو) کې توضیح شوی، مطابقت ولري.

(۱۰) کومې کلمې چې یو جنډر (جنسیت) ته ارزښت ورکوي، بل جنډر هم رانغاړي.

(۱۱) جمع شمیرو کې مفرد او برعکسه شمیرې هم شاملې دي.

**څلورمه ماده:**

**اصطلاحګانې:**

(۱) **له حساب څخه لیږد"Account Transfer"** : د یو مشترک او بل مشترک یا د افغانستان بانک د تصفیې حسابونو ترمنځ د مالي وجوه لیږدولو ته وايي.

(۲) **تعقیبی تفتیش د "Audit Trail"**: یو لړ پر له پسې پېښنو سوابقو ته وايي چې په سیستم کې پېښ شوی وي.

(۳) **د سموالي تصدیق کول "Authentication"**: هغو میتودونو ته وايي چې د یو پیغام د مبداء د تثبیتولو یا د یو سیستم پورې تړلي مشترک د هویت د تثبیتولو او له دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې یو پیغام په لاره کې اصلاح شوی یا بدل شوی نه دی، کارول کیږي.

**(۴) اجازه ورکول "Authorization"** :هغه ته وايي چې یو سیستم یا سوپروایزر دا تصدیقوي چې یو کاروونکی د یو مخکې تعریف شوي عمل د اجرا کولو حق لري.

**(۵) ذینفع شخص"Beneficiary":** د هغه مالي وجهې وروستي ترلاسه کوونکي ته وايي چې د یوې ادایني دستور په پایله کې د ترلاسه کوونکي بانک د تصفیه حساب کې کریډیټ کیږي.

**(۶) بانکي پیژند کوډ "BIC or SWIFT BIC"**:هغه بانکي پیژند کوډ ته وايي چې د سویفټ لخوا برابر شوی وي یا هغه ورته کوډ دی چې په جلا ډول ټولې مالي ادارې پیژني.

(۷) **ډله ییز دستورونه "Collection Orders"** :هغه معاملو ته وايي چې د یو مشترک د تصفیې حساب ډیبټ کوي او د بل مشترک یا د مشترک د مشتری حساب کریډیټ کوي. دغو دستورونو ته د یو مشترک لخوا د مقرراتي سرغړونو، د یوې محکمې فرمان، د مالیاتي کسراتو او نورو دلایلو له امله اړتیا لیدل کیږي. دا معاملې د مشترک د ډیبټ یا د مشترک د لیږد معاملو په مرسته چې د افغانستان بانک لخوا په لاره اچول کیږي، اجرا کیږي.

(۸) **محدود کوونکي پیښې "Constraining Events"**:هغو پیښو ته وايي چې له امله یې یو مشترک نشی کولای چې د مبلغ د لیږلو یا ترلاسه کولو په عام او معمولی بهیر کې ګډون وکړي.

(۹) **احتمالي/احتیاطي پیښه "Contingency Event"**:هغه پیښې ته وايي چې عادي طی مراحل په داسی کچه ګډوډ کړي چې د احتیاطي کړنلارو د اجراء لپاره اړتیا ولیدل شي. د افغانستان بانک حق لري چې په خپل بشپړ واک سره تصمیم ونیسي او مشترکینو ته خبرداری ورکړي چې یوه احتمالي یا احتیاطي پیښه رامنځ ته شوې ده. په دې کې کېدای شي د ATS سیستم د شاتړ (Backup) ساحې ته د عملیاتو لیږد یا په خپلواک حالت کې د ATS سیستم چلول (پرته له نورو سیستمونو سره د مکالماتي اړیکي) شاملې وي یا نه وي.

**(۱۰) محکمه "Court":**هغې محکمې ته وايي چې د افغانستان په خاوره کې واقع وي.

(۱۱) **شخړه "Dispute"** : دوو مشترکینو یا د څو مشترکینو ترمنځ اختلاف ته وايي چې د دې اصولو او قواعدو له امله یا د همدې په تړاو رامنځ ته شوی وي.

(۱۲) **د افغانستان د لیږد خپلکار سیستم یا "ATS -Afghanistan Automated Transfer System":** د تسویې او تصفیې هغه سیستم ته وايي چې شامل وی د مشخصاتو د حقیقي وخت ناخالصه تصفیه (RTGS) دلوړ ارزښت/ بیړنی اداینو لپاره د خپلکار تسویی څانګه "Automated Clearing House" :د ډله ییزه/لږ ارزښت لرونکي اداینو لپاره او CSD څانګه.

(۱۳)  **غیر مترقبه پېښه" Force Majeure Event ":**هر هغې  پېښې ته وايي چې د افغانستان بانک د کنټرول څخه وتلې پديدې له امله رامنځ ته شي او د معقولو هڅو او لګښتونو له لارې نه کنټروليږي لکه هر ډول طبيعي، تکنالوژيکي، سياسي يا ورته ناورين.

(۱۴) **افلاس" Insolvency":**هغه حالت ته وايي چې يو مشترک  نشي کولای خپل ټول پوروونه پر ټاکلي وخت ادا کړي.

(۱۵) **د يوې ورځې سياليت"Intraday Liquidity" :** هغو  پانګو (Funds) ته وايي چې د يوې کاري ورځې پر مهال د لاسرسي وړ وي او زياتره وخت يوه مالي مؤسسه (مشترک) د دې جوګه ګرځوي چې په حقيقي وخت کې ادايني وکړي او د يوې کاري ورځې په لړه موده کې يې بيرته تأديه کړي.

(۱۶) **د يوې ورځې د سياليت اسانتيا يا" Intraday Liquidity Facility or ILF":** هغه اسانتيا ته وايي چې د ATS سيستم د مشترکو مالي ادارو لپاره د لاسرسي وړ وي او هغوی يې غوښتنه کوي او د افغانستان بانک يې په خپل واک چمتو کوي.

(۱۷) **توکي "Materials" :** ټولو هغو توکو  ته وايي چې د افغانستان بانک لخوا مشترکينو ته برابر شوی وي څو هغوی د دې جوګه وګرځوي چې د ATS سيستم وکاروي يا د هغه کارونه تسهيل کړي. په دې کې سيستم، الکترونيکي ټوکنونو(E-tokens) او د سيستم اسنادو ته لوژستيکي او فزيکي لاسرسی شامله ده  خو ورته محدوديت نه لري.

(۱۸) **د حساب حد اقل بيلانس "Minimum Account Balance ":**هغه حد اقل بيلانس ته وايي چې د عملياتي ورځې په پای کې د ګډون کوونکي د   تصفيې حساب کې  په اړينه توګه ساتل  کيږي.

(۱۹) **د افغانستان بانک "DAB"** د افغانستان مرکزي بانک ته وايي.

(۲۰) **خالصه** تصفيه " **Net Settlement** " د مشترکينو ترمنځ د يو لړ مالي مکلفيتونو يا ليږدونو  په خالصه  توګه  ته وايي.

(۲۱)**د خبرتيا وړ پيښه "Notifiable Event ":** د مشترک په تړاو مسايلو ته وايي:

۱. مشترک د خپل پور ورکوونکو د ګټې لپاره يوه عمومي دنده وسپاري يا د بيا ځلي تنظيم، توافقاتو يا ترکيب ته اقدام وکړي؛ يا

۲. مشترک په ليکلي بڼه ومني چې د دې توان نه لري چې خپل پوروونه  پر ټاکلي وخت ادا کړي؛ يا

۳. مشترک د يو امانت لرونکي، اداره کوونکي، ترلاسه کوونکي يا نقدي کوونکي (منحل کوونکي) يا ورته کارکوونکي د تقرر يا د هغه د پام وړ ملکيت په اړه لټه کوي، خوښي ښکاره کوي يا هوکړه کوي.

۴. په دې اړه د يوه غوښتنليک وړاندې کول يا ډکول:

الف) په هره محکمه کې يا د دعوا کوونکي ادارې په وړاندې يا د افلاس له امله د مشترک منحل کول يا د ادارې (يا د ورته طی مراحل) تصفيه کول، مګر دا چې د مشترک لخوا وښودل شي چې دا کار کړوونکی دی، يا هم دا چې د دې حالت پرته د افغانستان بانک لخوا په ورکړل شوي ځانګړي وخت کې امکان نشته چې مشترک منحل يا تصفيه شی؛

ب) د هيواد موجوده او يا د راتلونکی نافذه قوانينو او مقررو له مخې د هر ډول بيا ځلي تنظيم، هوکړې، ترکيب، بياځلي جوړښت، اداره، انحلال، تصفيه  يا ورته حل لارې په لټه کې دا شان غوښتنليک (پرته له هغه غوښتنليک څخه چې د انحلال يا ورته اقدام لپاره وي) د خپل  غوښتنليک د ترتيب او ډکولو  وروسته د ديرشو ۳۰ ورځو دننه پاتې شوی يا رد شوی نه وي.

ت) پر مشترک یا د هغه د ملکیت پر یوې برخې باندې د یوه  تصفیه کوونکي، اداره کوونکي، منحل کوونکي، امانت لرونکي یا ورته کارکوونکي مقررول.

ث) د هرې مقررې له مخې د تصفیې‌مدیر/ مدیر مقررول:

- د هر یو هیواد د تنفیذ وړ قانون له مخې، د هر ډول پیښې  پېښیدل چې په زیاته اندازه د ۱ او ۴ او الف-ب پورتنې فرعي پاراګرافونو کې د مشخص شویو پیښو   اغیزې ته ورته والی ولري؛
- د سیستم پاتې راتګ چې یو مشترک ناتوانه کړي چې د ATS سیستم له لارې خپل نورمال تادیاتي پیغام  ولیږي؛
- اوکه مشترک د هغه پر صلاحیت یا توانایي باندې د شک لپاره معقول دلیل ولري چې خپلې ادایني پرمخ وړلی نشي یا د ATS سیستم له لارې تادیاتي پیغامونه استولی نه شي.

(۲۲) **د فعالیت تصدیق لیک" Operating Certificate"** :هغه سند ته وایي چې د افغانستان بانک لخوا صادر شوی وي او دا تائیدوي چې مشترک د غړیتوب  ټول ازمایښتي مرحلې په بریا سره بشپړې کړې او د ATS سیستم د مشترک  کیدو لپاره له حد اقل شرایطو سره مطابقت لري.

(۲۳) **کاري ورځ" Operating Day** ":هرې هغې ورځې ته وایي چې پکې د افغانستان بانک د مشترکینو ترمنځ د معاملو د تصفیې او تسویې لپاره پرانیستی وي او د ATS سیستم د تادیاتي هدایتونو او د حساب  لیږدونو د طی مراحل لپاره فعال وي.

(۲۴) **کاري ساعتونه" Operating Hours** ":هغو ساعتونو ته وایي چې د ATS  سیستم پکې فعالیت کوي.

(۲۵) **مشترک "Operating Hours" :**هر هغه باصلاحیته قانوني ادارې ته وایي چې د دغو  اصولو له مخې د ATS په سیستم کې ګډون کوي.

(۲۶) **د مشترک د کاروونکو ډله" Participant User Group"** : د باصلاحیته استازو یوې ډلې ته وایي چې د هر مشترک څخه یو غړی رانغاړي چې د مشترک د کاروونکو ډلې په تصمیم سره د مرکزي بانک د عمومي رئیس تر مشرۍ لاندې لیدنه کوي.

(۲۷) **د ادایني هدایت "Payment Instruction** ": هغه هدایت ته وایي چې د یو مشترک لخوا د هغه د  تصفیې حساب د ډیبټ کولو او د یو بل مشترک د حساب په داسې بڼه کریډټ کولو لپاره په لاره اچول  کیږي چې په کړنلارو کې مشخص شوی دی.

(۲۸) **د حقیقي وخت ناخالصه  تصفیه "Real-Time Gross Settlement"**  یا RTGS :په حقیقي وخت کې په ناخالصه توګه د تادیاتي مکلفیتونو طی مراحل، په مجموعي تو ګه تصفیه او تسویه کولو ته وایي.

(۲۹) **د زیرمې حساب" Reserve Account** ":یو قانوني حساب ته وایي چې د یوې  مجوزې  مالي ادارې (بانک) لخوا په د افغانستان بانک کې ساتل کیږي.

(۳۰)  **تصفیه یا نهایي  کیدنه "Settlement" or "Finality" :**د ادایني لپاره د هدایت ورکولو یا د حساب د  لیږد په تړاو د هغو اړوندو حسابونو د مبالغو د ډیبټ او کریډټ ارزښت د بریالی خپرولو ته وایي چې د ادایني په هدایت یا د حساب په  لیږد کې راوړل (درج) شوی وي.

(۳۱) **د**  تصفیې **حساب "Settlement Account"** : د  تصفیې هغه حساب ته وایي چې د افغانستان بانک لخوا د مشترک په استازیتوب د ATS په سیستم کې ساتل شوی وي.

(۳۲) **خدمتونه" Services"**:هغو خدمتونو ته وایي چې د ATSقابلیتونو  د کارولو له لارې  ګډون کونکو ته وړاندې کیږي .

(۳۳) **کاروونکی” User “**هغه باصلاحیته شخص یا ټاکل شوي شخص ته وایي چې د کاروونکو په اړوند په ثبت شوی لست کې درج شوی وي او د هغه له مخې د حدودو په چوکاټ کې (که چیرې د کاروونکو د غوښتنلیک په فورم کې کوم محدودیت مشخص شوی وي) د معلوماتو او هدایتونو د ترلاسه کولو، لیږدولو او/یا تائیدولو واک لري.

## دوه یم فصل

## ګډون او د لاسرسی شرایط

**پنځمه ماده:**

(۱) د افغانستان بانک مشترکین په دوو یا دریو کتارونو باندې ویشل کیږي:

د ATS په سیستم کې ګډون کیدای شي مستقیم یا غیر مستقیم وي، چې:

(۱) مستقیم مشترکین اجازه لري چې د ATS په سیستم کې د نورو مشترکینو سره د خپلې خوا او د نورو په استازیتوب مالي معاملې ترسره کړي، او

(۲) غیر مستقیم مشترکین بیا د هغو مستقیمو مشترکینو له لارې د ادایني مالي معاملې اجراء کوي چې دواړو خواوو یو موافقت لیک لاسلیک کړی وي.

**الف. مستقیم مشترک:**

دا هغه ډله مشترکین دي چې د سیستم سره اړیکه لري او کولای شي د سیستم له لاری پیغامونه ولیږي لکه د تصفیې هدایتونه ، فرمایشونه او پوښتنی . مستقیم مشترکین کولای شي چې پانګه اچوونکي (مشتریان) ثبت کړي.

**ب. غیر مستقیم مشترک:**

غیر مستقیم مشترکین سیستم سره اړیکه لري خو هغوی د پیغام لیږلو لپاره اجازه نه لري. مستقیم مشترکین کولای شي چې د غیر مستقیمو مشترکینو په استازیتوب او د افغانستان بانک په محوطه کې د لګول (Installed) شوی د مشترک د عملیاتي دستګاه (Workstation) له لارې پیغامونه ولیږي .

د مشترک نور ډولونه د مشترک د اصلي ډولونو پر اساس ولاړ دي او مرکزي بانک، د مالیې وزارت، اداره کوونکی، د امانت ساتنې سیستم، د ادایني سیستم، سوداګریز سیستم (د سهامو د مبادلې بهرنی سیستم) رانغاړي. د سیستم اداره کوونکی کولای شي چې هر ډول مشترکین ثبت کړي او هغوی ته د بک آفس د دستګاه (Workstation) په مرسته دندې وسپاري. دا سیستم د VPN له لارې مشترکینو سره د اړیکو په برخه کې مرسته کوي.

(۲) د ATS په سیستم کې مستقیم ګډون یوازې د باصلاحیته سوداګریزو بانکونو یا هر بل مشترک لپاره په دې شرط مجاز دی چې د وړوالي (شایستګی) شرایط پرځای کړي:

- مشترک د افغانستان بانک سره د تصفیې حساب ولري؛
- مشترک د سویفټ یا VPN د اتصال التزام (شرط) بشپړ کړی وي او د یوه دستګاه (Work Station) له لارې چې د دغو اصولو په دوه یمه ملپانه (ضمیمه) کې مشخص شوې) وصل شوی وي او د ATS مرکزي سیستم سره د پیغامونو د مبادلې لپاره شکل بندي شوی وي؛
- هر مشترک باید د سویفټ بانکي پیژند کوډ ولري چې د افغانستان بانک لخوا د بانک د پیژند کوډ سره مطابقت ولري.

- د تسویی ځانګه (Clearing House)او د عمومي حسابدار دفتر به د ATS سیستم لپاره د ځانګړي شوي بانکي پیژند کوډ له ورته کوډ څخه کار واخلي؛
- مشترک اړین تخنیکي او عملیاتي ظرفیت (وړتیا) ولري؛
- مشترک د موافقت لیکونو شرایط او اصول پرځای کړي او هغه ته غاړه کیږدي.

**شپږمه ماده:**

(۱) یو مشترک باید ټول لاندیني شرایط پرځای کړي څو د مستقیمی لاسرسی لپاره لاره ومومي.

مستقیمه لاسرسی – د تصفیي حساب سره د مشترکینو د یوه ورځني کریډټ ته لاسرسی باید لاندیني موارد ونغاړي:

۱. د داخلي بانکونو او د مالي مؤسسو د قانون له مخې یې جواز ترلاسه کړی وي؛

۲. د پانګې د کفایت شرایط پرځای کړي؛

۳. د سیالیت شرایط پرځای کړي؛ او

الف) د افغانستان بانک کې د تصفیي حساب ولري.

ب) د ورځني حد اعظمي ارزښت د اوسط له دري برابرو څخه زیات سیاله (نغدي) پانګه (Funds) ولري.

(۲) د لومړي او دوه یم کتار د شرایطو د پرځای کولو سربیره، یو مشترک باید لاندیني شرایط هم پرځای کړي:

- داسي کړني، د داخلي خطر د مدیریت ابزارونه یا بل فکتور یا شرایط چې د سیستم د خطر په وړاندې ساتنه وکړي یا سیستم ته بی ځایه (بی اندازې) خطر ورپیښ نکړي؛
- د مستقیم ګډون لپاره اړین حد اقل عملیاتي او تخنیکي وړتیاوې (ظرفیتونه) چې د هدایتونو د لیږلو، سمولو او لغو کولو وړتیا رانغاړي، ولري.
- د کمزورتیا په وخت کې کافي احتیاطي پلانونه ولري یا د سیستم د تصفیی لپاره د پانګې، سیالیت یا نور مالي شرایط پرځای کړي.
- د طبیعي پیښي، عملیاتي یا تخنیکي ستونزې یا نورو سترو پیښو په صورت کې د خپلو عملیاتي ظرفیتونو د ساتلو لپاره کافي احتیاطي پلانونه ولري.

(۳) د ATS سیستم ته د تسویی ځانګه (Clearing House)د لاسرسي لپاره یوازې د دې لپاره اجازه ورکول کیږي چې د تصفیی په موخه د ATS د RTGS برخې ته د خالصه تصفیی هدایتونه ولیږل شي، په دې شرط چې هغوی هوکړه کړې وي چې د مشترک د هوکړو او د دغو اصولو شرایطو ته غاړه کیږدي هغوی د افغانستان بانک سره د تسویي حسابونه نه لري.

- د افغانستان بانک د ATS سیستم ته د تسویی ځانګی (Clearing House لخوا د خالصه تصفیي د سم شکل بندي شوي او تصدیق شوي فایلونو د اتومات لیږد سره موافقه کوي.

(۴) هر مشترک په هغه صورت کې له مالي پلوه سالم ګڼل کیږي چې د باصلاحیته څارنیزې اداری له لوري په چاپ شوي اړوند رسمي لست کې یې نوم درج شوی وي.

(۵) د ټولو منظور شویو مشترکینو لست په لومړي ضمیمه کې موندل کیدای شي.

- هر بالقوه مشترک چې د ATS په سیستم کې د داخلي په لټه کې وي، اړ دی چې خپل غوښتنلیک د تجویز شوي فورم او د (دریمی ضمیمی ) پر اساس وړاندې کړي؛

- د افغانستان بانک دا غوښتنلیک د ورړوالي (شایستګۍ) معیار او هر بل معیار په وړاندې چې وخت په وخت خپریږي، ګوري او څیړي؛
- د افغانستان بانک کولای شي یو غوښتنلیک ومني یا یې رد کړي. د مشترک غوښتنلیک ورکوونکي ته د ردیدو په اړه دلیلونه او د اصلاح لپاره معقول فرصت ورکوي؛

(۶) اوکه یو غوښتنلیک ومنل شي؛

- غوښتنلیک ورکوونکی باید یو موافقت لیک لاسلیک کړي چې د ATS په سیستم کې د ګډون اصولو او مقررو ته غاړه کیږدي؛
- غوښتنلیک ورکوونکی باید چمتو وي او د دې توانایي ولري چې هر ډول فیس او لګښتونه چې وخت په وخت د افغانستان بانک لخوا تعیین کیږي، ادا کړي؛
- د افغانستان بانک باید د داخلي نیتې په اړه تصمیم ونیسي او د سیستم ټول مشترکین خبر کړي؛
- د افغانستان بانک باید مشترکینو ته د خدمتونو څخه د ګټې اخیستنې لپاره د هر ډول سخت کالي ( Hardware) یا د عملیاتي سیستم پوست کالی(Software) رسولو مکلفیت ونلري. مشترک باید هر ډول اړیني برخې لکه د الکترونیکي ټوکنونو لومړنی مجموعه او اړوند پوست کالي(Software) ولګوي او شکل بندي یې کړي څو د افغانستان بانک د لاربښوونو سره سم د ATS پوست کالي (Software) سره مرسته وکړي؛
- د خدمتونو (لکه د ATS سیستم ته لاسرسی) په تړاو برابر شوي مواد یوازې او یوازې د افغانستان بانک پورې تړلي او محرم ملکیت ګڼل کیږي؛
- مشترکین هوکړه کوي چې دا مواد پټ وساتي څو د هغوی د کارکوونکو لاسرسی ورته محدود کړي (د محرمیت د ورته مسئوولیت له مخې) چې د خدمتونو د مطلوبه کاروني په موخه د لاسرسي لپاره مکلفیت رامنځ ته کوي څو له ټولو موادو څخه په داسي بڼه ګټه واخیستل شي چې ورپورې اړه ولري او د کار د عادي بهیر سره تړاو ولري.

(۷) د مشترک د ATS سیستم کاري ساحي باید په ټولو وختونو کې د شکل بندۍ د حد اقل شرایطو سره چې د دغو اصولو او قواعدو په دوه یمه ضمیمه کې درج شوی، مطابقت ولري.

(۸) مشترک باید په هیڅ وخت کې د ATS سیستم په پوست کالي (Software) کې اختصاصي ګټې ونلري او مرستندویه وسایل باید د کار د ختمیدو په وخت کې د مشترک لخوا بیرته د افغانستان بانک ته وسپارل شي.

(۹) د افغانستان بانک د ATS په سیستم کې د مشترک د ګډون او د دې ګډون د پاتې کیدو په تړاو کتنې او ارزونې ترسره کوي او همدارنګه د دې ګډون خوندیتوب چې د ارزونو د بریالي پایلو پورې چې ښکاره کړي چې مشترک اړینه عملیاتي او تخنیکي وړتیا او ظرفیت لري، تړلې ده (په تیره بیا د مشترک د معلوماتي تکنالوژۍ سیستمونو او د مخابراتي چارو په اړه).

(۱۰) د مشترکینو په ډله کې دا خواوې شاملې دي: د افغانستان مرکزی بانک، مجاز سوداګریز بانکونه، د کوچني پورونو مجاز اداري، دتسویې څانګې (Clearing Houses)او د افغانستان بانک مشتریان (په لومړي سر کې دا مشتریان د مالیې وزارت او اقتصادي پراختیا او د افغانستان د عوایدو او ګمرکونو مقام دي).

(11) هر ګډون کوونکی باید دا موضوعات تیاراو یا ډاډ ورکړي

- مشترک د خزانه دارۍ او محاسبې چارو د مدیریت لپاره د لاسه تللو معلوماتو د بیرته ترلاسه کولو معلوماتي تکنالوژۍ تجهیزات او د ATS مرکزي سیستم ته لاسرسی ولري؛
- د معلوماتي تکنالوژۍ عمده او دلاسه تللو معلوماتو د بیرته ترلاسه کولو تجهیزات باید په بشپړه توګه د شرایطو سره برابر او وړو کسانو لخوا اجرا شي؛
- د مشترک د کمپیوټر نښلوونکی (واصل interface) د معیارونو او پروتوکولونو سره سم فعالیت وکړی (باید د افغانستان بانک لخوا برابر شي)؛

- د کمپیوټر هیڅ ډول نښلونه تر هغه وخته پورې نه تطبیق کیږي تر څو پورې چې د افغانستان بانک له لوري منظوره شوی نه وی.؛
- د ATS سیستم سره هر ډول لومړنی او دلاسه تللو معلوماتو د بیرته ترلاسه کولو اړیکه ( Connection ) باید په داسې موقعیت کې قرار ولري چې د افغانستان بانک د تصمیم سره سم هلته د مشترک د تادیاتي طی مراحلو او کمپیوټري اسانتیاوو، د ډیجیټلي مخابراتي اسانتیاوو ته د کافي لاسرسي، د تثبیت او امنیتي وسایلو لپاره اړین ترتیبات او کافي تضمینونه چې د سیستم عملیات د کورني او بهرني سیاسي وضعیت له امله له بندښت یا لاسوهنې سره نه مخ کیږي، د ساحې دننه کتنې او ارزونې لپاره کافي امکانات شتون ولري.
- لومړنی یا دلاسه تللو معلوماتو د بیرته ترلاسه کولو اړیکه ( Connection ) موقعیت د ATS سیستم د کاري جدول د غځولو د غوښتنې په موخه یو معقول او قانوني دلیل نه ګڼل کیږي.
- هر مشترک چې غواړي خپل موقعیت یا د خپل لومړنی یا دلاسه تللو معلوماتو د بیرته ترلاسه کولو کمپیوټر د عملیاتی/کاری ځانګړنې بدلې کړي باید داسې پلان وړاندې کړي چې له لارې یې دا ډول بدلون توضیح کړي او دیدی څخه وړاندی دافغانستان بانک منظوري ترلاسه کړي.

**اوومه ماده:**

**د مشترکینو ځنډول او فسخ کول**

(۱) د یوه مشترک ځنډول د هغه د تصفیې حساب یا د هری تصفیي حساب چې د هغه تر واک لاندې وي، د انجماد لامل کیږي او د افغانستان بانک د لاندینیو دلیلونو له امله له سیستم څخه مشترک ځنډوي:

- یو مشترک د دغو اصولو سره مطابقت کې پاتې راشي یا د هغه کوم حکم نقض کړي؛
- یو مشترک کولای نشی چې د ATS سیستم سره خپله اړیکه وساتي؛
- یو مشترک کولای نشي چې د دریو پر له پسې میاشتو لپاره د ATS سیستم له لارې کومه اداینه ترسره کړي؛
- که چیرې د افغانستان بانک داسې نظر ولري چې مشترک د لاندینیو پیښو لامل کیږي:

۱) نورو مشترکینو، د افغانستان بانک یا د اداینې ملي سیستم ته په ټولیزه توګه غیر معقول خطر ورپیښ کړي؛

۲) د ATS سیستم د ثابت او معمولي فعالیت لپاره کومه ستونزه ورپیښه کړي.

(۲) د افغانستان بانک باید یو مشترک په هغه صورت کې وځنډوي چې مشترک په ښه نیت سره تصمیم ونیسي او شواهد وړاندې کړي چې د هغه مالي یا کاري وضعیت دومره نه دی چې د یوه مشترک په توګه کار ته دوام ورکړي چې کیدای شي د خدمتونو په لاره کې د پام وړ ګډوډي رامنځ ته کړي یا د ATS سیستم یا نورو مشترکینو ګټې له خطر سره مخ کړي. د لاندینیو پیښو د پیښیدو په صورت کې د یو مشترک فعالیت په اتومات ډول ځنډول کیږي:

- مشترک د ATS په سیستم کې د ګډون لپاره نور وړوالی او شایستګي ونلري یا دا چې د دغو اصولو لخوا ټاکل شوي شرایط او معیارونه پرځای نه کړي؛
- مشترک د دغو اصولو او کړنلارو له حکم یا حکمونو څخه سرغړونه وکړي چې د افغانستان بانک یې په خپل واک د یوې لویې سرغړونې په توګه ګڼي؛
- د مشترک رجسټریشن نوم لیکنه(Registration) یا جواز د یوی قانوني اداري لخوا لغو یا ځنډول شوی وي؛
- د مشترک په اړه کوم غوښتنلیک/دعوا په کومه محکمه کې وړاندې شوی یا درج شوی وي یا کومې اړوندې ادارې د مشترک د افلاس، انحلال یا د یوه ترلاسه کوونکي یا نغدي کوونکي (منحل کوونکي) د تقرر په اړه دعوا کړې وي؛
- مشترک د خپل پور ورکوونکو د ګټې لپاره یوه دنده سپارلې وي یا له هغوی سره د بیاځلې تنظیم، ترتیب یا ترکیب لپاره هوکړه کړې وي.

(۳) د افغانستان بانک یو مشترک په هغه صورت کې ځنډوي چې هغه و نشی کولای د دیدی پالیسی د اصولو، کړنلارو او د کاروونکي د لارښوونو سره چې لاندې بیان شوي، اجراات وکړي:

- او ونشی کولای چې د غړیتوب د ټولو شرایطو سره مطابقت وکړي یا دا چې د دغو اصولو سره په ټکر کې عمل کوي؛
- او ونشي کولای چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوي فیسونه او لګښتونه تصفیه کړي؛
- اوکه د افغانستان بانک په نظر د ATS په سیستم کې د مشترک دوامداره ګډون د دې سیستم د قناعت وړ فعالیت لپاره خنډ جوړوي.

(۴) یو مشترک چې د دې برخې له مخې د ATS سیستم ته یې لاسرسی ځنډول شوی وي، حق نه لري چې د ATS په سیستم کې ګډون وکړي خو کولای شي چې د سیستم څخه بهر خپلو معلوماتو ته د افغانستان بانک څخه د غوښتنې په پایله کې لاسرسی ومومي.

**اتمه ماده:**

(۱) مشترک کولای شي چې د لنډ مهاله تخنیکي یا نورو جدي عملیاتي ستونزو له امله چې باور لري د دغو اصولو له مخې په لنډ مهاله توګه د خپلو مکلفیتونو په ترسره کولو کې پاتې راځي، د ځنډولو لپاره غوښتنه وکړي.

(۲) د افغانستان بانک د یو مشترک د ځنډولو په تړاو د کوم عمل یا خطاء په بدل کې د ځنډول شوي مشترک په ګډون هر مشترک په وړاندې مسئوولیت نه لري. هر مشترک په نه فسخ کیدونکی توګه د افغانستان بانک له هر داسې مسئوولیت څخه خلاص ګڼي.

(۳) د افغانستان بانک د یوه مشترک په وړاندې د هر ډول ویجاړتوب ، زیان، لګښت، ځواب ویني (Liability) یا دعوا لپاره چې د یوه مشترک د ځنډولو له امله ګالل شوی یا ورپیښ شوی وي یا دا چې د هر ډول فرصت، ګټې، بازار، ښه نیت، ټکټاني یا د بیه لرونکو پانو یا نورو ځانګړو فرصتونو دلاسه ورکولو، غیر مستقیمي یا تعقیبي ویجاړتوب ، زیان، لګښت، ځواب ویني (Liability)یا دعوا په ګډون د مشترک ځنډولو په اړه د افغانستان بانک تصمیم له امله مسئوول نه ګڼل کیږي.

(۴) اوکه یو ځنډول شوی مشترک مثبت بیلانس ولري چې هر حساب ته کریډټ شوی وي، د افغانستان بانک باید د هر ورته مثبت بیلانس د ساتلو حق عملي کړي.

(۵) اوکه یو مشترک چې د افغانستان بانک لخوا ځنډول شوی وي د ځنډولو بیا کتنی غوښتنه وکړي، د افغانستان بانک باید د ځنډولو وروسته مشترک ته په لسو ورځو کې یو فرصت ورکړي چې خپل بیان او توضیحات ورکړي.

**نهمه ماده:**

(۱) یو مشترک د لاندینیو دلیلونو له امله د ATS سیستم کې لاس اخلي:

- د استعفاء په صورت کې؛
- د تنګ لاسی، کیدو یا په عمومی توګه د پور ورکوونکو سره د هوکړې یا ترکیب په صورت کې؛
- د منحل کیدو یا ورکیدو (نابوده) کیدو په صورت کې؛
- په هغه صورت کې چې د افغانستان بانک په خپل بشپړ واک سره تصمیم ونیسي چې د دغو اصولو له مخې ګډون (اشتراک) ته د پای ټکی کیږدي.

(۲) د یو مشترک لخوا د افغانستان بانک ته د نه فسخ کیدونکي لیکلي خبرتیا په ورکولو سره د خبرتیا په پنځلسمه کاري ورځ باندې د هغه استعفاء اجرا کیږي. که څه هم ټول بانکونه چې غواړي افغانستان کې جواز ترلاسه او فعالیت وکړي باید د ATS په سیستم کې ګډون ولري.

(۳) د ATS سیستم ته د یوه مشترک لاسرسی د افغانستان بانک لخوا همدې پاتې راغلي مشترک ته د لیکلي خبرتیا په ورکولو سره سمدستي فسخ کیږي او د لاندینیو شرایطو په صورت کې هیڅ ډول رسمي طی مراحلو یا د محکمې مداخلې ته اړتیا نشته ، مګر دا چې د دواړو خواوو ترمنځ بل ډول هوکړه شوې وي:

- یو مشترک ځنډول شوی وي او په معقوله او ورکړل شوې موده کې هیڅ اصلاحي اقدامات ترسره شوی نه وي؛
- یو مشترک تر احتیاطي څارنې لاندې وي او د افغانستان بانک د فسخې په اړه اړوند سوپروایزر (څاروونکي) سره یې مشوره کړې وي.
- د افغانستان بانک اړ نه دی چې د دا شان تصمیم په اړه کوم دلیل وړاندې کړي او کولای شي چې د دا شان تصمیم د پلي کیدو څخه مخکې هر وخت دا خبرتیا بیرته لغو کړي.
- د ATS سیستم ته د لاسرسي فسخ کول باید د فسخ د اجراء څخه مخکې موده کې هر ډول حق یا د دغو اصولو له مخې کوم مسئوولیت چې رامنځ ته کیږي یا د هر قانون، موضوع یا بل شي چې د اجرا نیټې څخه مخکې ورپیښیږي، زیانمنه نه کړي.

(۴) یو مشترک چې د دغې برخې له مخې یې سیستم ته لاسرسی فسخ شوی وي، اړ دی چې د لاندنیو ټکو په تړاو د دغو اصولو څخه اطاعت وکړي:

- هر ډول عمل، موضوع یا بل شی چې د فسخ د اجراء نیټې څخه مخکې یا د فسخ په پایله کې ورپیښیږي؛
- هر ډول فیسونه، لګښتونه او وضع کیدونکي پیسې چې وربانديې مالیه لګول کیږي یا دا چې د دغو اصولو له مخې په هغو مودو کې د مشترکینو لخوا بیرته ادا شي چې د فسخ نیټې د اجراء څخه مخکې پیلیږي یا دا چې کوم ورته عمل، موضوع یا شي سره اړه لري؛
- د پیل، متقابله دعوا یا د یو ټوټه کیدو حقونه چې د یوه مشترک د لاسرسي د فسخ کیدو په صورت کې په قانون کې شتون ولري؛
- فسخ کیدونکی مشترک باید ټول هغه مبلغونه (که شتون ولري) چې د بل مشترک په وړاندې د ادراینو د مبادلې په تړاو پوروړی دی، ادا کړي؛
- ټول هغه مبلغونه (که شتون ولري) چې نور مشترکین د ورته مبادله شویو ادراینو په تړاو د فسخ کیدونکي مشترک په وړاندې پوروړي دي، باید بیرته ورکړي؛
- هر مشترک چې سیستم ته یې لاسرسی فوراً فسخ شوی وي، نور حق نه لري چې د دغو اصولو له مخې د ATS په سیستم کې مبادلې اجراء کړي.

(۵) یو مشترک چې سیستم ته یې لاسرسی فسخ یا ځنډول شوی وي، د هغو پانګه (Funds) د ټولو یا یوې برخې د بیرته ترلاسه کولو حق نه لري چې مشترک ته د موافقت لیک د شرایطو له مخې د ATS په سیستم کې د ګډون لپاره د داخلیدو، فعالیت یا نورو فیسونو په توګه ورکړل شوي دي.

(۶) د یوه مشترک د فسخ کیدو په صورت کې د افغانستان بانک:

- ټولو مشترکینو ته (د چټکو او شته مکالماتي وسیلو له لارې) د دې برخې له مخې د هر ډول فسخې په اړه خبر ورکوي؛
- حق لري چې د مشترک د موافقت لیک له مخې د وتلو فیس وضع کړي؛
- مشترک ته فرصت ورکوي چې د فسخې په وړاندې غوښتنه (التماس) وکړي.

# دریم فصل

# د افغانستان بانک دندې او مسئوولیتونه

**لسمه ماده:**

د افغانستان بانک د سیستم د چلوونکي په توګه لاندیني دندې او مسئوولیتونه لري:

(۱) د دغو اصولو او د سیستم د اسنادو سره سم ادایني د ترلاسه شویو هدایتونو کتل؛

(۲) یو ځل چې د ادایني دستور/هدایت له تخنیکي پلوه ومنل شو، د ادایني بهیر له بشپړتیا، امنیت او پټنتیا څخه تر هغه وخته پورې تضمین ورکوي چې ترلاسه کوونکي خوا ته واستول شي؛

- د اړوند قانون له مخې د اداینو د ټولو هدایتونو د سوابقو ساتل؛
- د کمپیوټري سیستم د ساتلو لپاره د ټولو معقولو تدابیرو ترلاس لاندې نیول یا له کار لوېدو څخه یې مخنیوی کول او د هر ځل خرابیدو یا مهم خنډ د رامنځ ته کیدو په صورت کې د لاسه تللو معلوماتو د بیرته ترلاسه کولو د مناسبه کړنلارو د ترسره کولو له لارې ژر تر ژره د یوه حل لارې وړاندې کول؛
- اوکه د نهمې مادې د دوه یمې فرعي برخې له مخې تدابیر لاس لاندې ونیول شي، د افغانستان بانک د هر دلیل له مخې د کمپیوټرونو یا پروګرامونو چې مشترکین یې د خپلو کورنیو یا پولې بهر اداینو لپاره کاروي یا د هغوی په واک کې ایښودل شوی وي، د خرابیدو یا خنډ جوړونکي پیښې په وړاندې او د دې ترڅنګ په کمپیوټرونو کې د ذخیره شویو معلوماتو د ورانیدو یا له منځه تلو یا د دریمو خواوو لخوا د کوم درغلیزه کارونې په وړاندې مسئوولیت نه لري؛
- مشترکینو ته د سیستم لخوا د تولید شویو تادیاتي جریانونو او د هغوی د جاري حساب په اړه د تازه او نویو معلوماتو په واک کې ایښودل.
- د افغانستان بانک له مشترکینو څخه غواړي چې د خپلو تادیاتي جریانونو، سیالیت او د تضمین (وثیقې) د مدیریت په تړاو نور معلومات وړاندې کړي.
- د افغانستان بانک د هغو پیغامونو له امله د رامنځ ته شویو زیانونو په تړاو مسئوول نه ګڼل کیږي چې داسې خطاګانې ولري چې د سیستم د اسنادو د مندرجو میکانیزمونو په وسیله د تشخیص وړ نه وي.
- د لومړني مرستې (مساعدت) میز جوړول (Help desk) څو د مرکزي سیستم د عملیاتو او د مشترک د کاري ساحې د عادي حالت او فعالیت سره مرسته وکړي.
- که چیرې د لیرد په برخه کې ستونزه شتون ولري نو مشترک باید د اړتیا سره سم د افغانستان بانک د مرستې میز (Help desk) سره اړیکه ونیسي.
- د معاملو په عام بهیر کې د نورماله څارنې په وخت کې د مشترکینو له لوري د ګډوډیو او نیمګړتیاوو د تشخیص او راپور ورکولو په صورت کې د افغانستان بانک مسئول ګڼل کیږي.
- د افغانستان بانک باید خپلې هڅې لازیاتې متمرکزې کړي او د ټولو معلوماتو څخه څارنه وکړي او د خدمتونو د برابرونکو تر عنوان لاندې غوښتنو او د ستونزو د راپورونو سره مرسته وکړي.
- د افغانستان بانک پر مشترکینو لاندې د لګښت او صورت حساب کړنلارې وضع کوي. د بیو او د بیو د ټاکلو پارامیټرونه په روښانه توګه تعیین کیږي او د افغانستان بانک مشترکینو ته د مخکیني خبرتیا له لارې د هر ډول بدلونونو او تعدیلاتو په اړه خبر ورکوي.

- د افغانستان بانک د هغو مشترکینو په وړاندې اداري فیسونه او جریمې وضع کوي چې د دغو اصولو حکمونو ته غاړه نه کیږدي.
- د افغانستان بانک په منظم ډول د تفتیش راپورونو او د کاري سندونو د لیږلو غوښتنه کوي.
- د افغانستان بانک د دغو اصولو سره مطابقت او غاړه ایښودنه هم ارزوي.
- د افغانستان بانک د خپل تفتیش او اړوندې دندې دریم شخصا ته په قرارداد ورکولای شي.
- د افغانستان بانک کولای شي چې د ATS سیستم ته نوي مشترکین وروپیژني یا د یوه مشترک معلومات اصلاح کړي.

تر هغه بریده چې د نافذه قانون سره په ټکر کې نه وي، د افغانستان بانک باید یوازې د هغه پاتې راتګ په وړاندې مسئول وي چې په ښه نیت سره یې عمل کړی وي یا معقوله پاملرنه یې تطبیق کړې وي.

**یوولسمه ماده:**

(۱) د افغانستان بانک د مشترک یا د یوه دریم شخص خوا په کار کې د ځنډ راتلو یا پاتې راتګ یا د مشترک لخوا د برابر شویو معلوماتو یا هدایتونو د صحت مسئولیت نه لري (نه هم د معلوماتو د صحت د تثبیتولو کومه دنده لري). د افغانستان بانک په هیڅ حالت کې د کومې غیر مستقیمې، تصادفي یا وروستني (تعقیبي) خسارې (د ګټې د لاسه ورکولو په ګډون) او چې مشترک ته د ورته خسارې د امکان په اړه مشوره هم ورکړل شوې وي، مسئولیت نه لري.

(۲) د تخنیکي عامل په توګه د افغانستان بانک مسئولیتونه لاندې ټکو پورې محدود دي:

- د کاروونکو او د تخنیکي لارښوود د مندرجو شرایطو سره سم د سیستم دقیقه او سم فعالیت.
- د معلوماتو د بشپړتیا، شتونتیا او پټتیا په پام کې نیولو سره د کافي وسایلو او کنټرولرو له لارې د سیستم ساتل.
- د افغانستان بانک او د مشترکینو ترمنځ د تړونونو د سیستم اړوند فعالیت شرایطو د پرځای کولو په موخه د کافي وړتیا او ظرفیت رامنځ ته کول.
- د ځنډ پرته او سخت کالي Hardware پوست کالي Software او د خدمتونو د برابرونکو په نږدې همکارئ سره د سیستم د هر ډول پاتې راتګ یا له کاره غورځیدلو لپاره د حل لارو موندل.

(۳) د افغانستان بانک د ATS سیستم د پاتې راتګ کې په هغه صورت کې مسئولیت نه لري چې د مشترکینو لخوا په ناسمه توګه وکارول شي یا پوست کالي Software د ستونزو یا د اړیکو د کم کارئ له امله ورپیښ شوی وي.

(۴) دې برخه کې د برابر شویو شرایطو پرته، د افغانستان بانک د هیڅ مشترک یا بل شخص په وړاندې د هر ډول خسارې، ځواب ویني یا لګښت چې د ATS سیستم په تړاو د افغانستان بانک د اعمالو یا پاتې راتګ له امله پر مشترک یا بل شخص باندې ګالل شوی وي، مسئولیت نه لري.

(۵) د افغانستان بانک د هر هغه خسارې په وړاندې مسئوولیت نه لري چې د یو مشترک لخوا په څارنه او د اداینو جریان په تصفیه کې د پاتې راتګ له امله پر بل مشترک باندې راغلي وي، او هر مشترک په همدې اساس هوکړه کوي چې د افغانستان بانک او نور مشترکین د هر ډول دعوا، لګښت، وضع کیدونکی فیس (د قانوني فیسونو په ګډون) چې د ادایني جریانونو د کمزورۍ څارنې یا په تصفیه کې د پاتې راتګ له امله رامنځ ته شوي وي، د دې اصولو د اتم فصل له مخې خوندي او بې مسئوولیته ساتي.

(۶) د افغانستان بانک مسئولیت لري چې ډاډ ترلاسه کړي چې په افغانستان کې له سیستماتیک پلوه د ادایني مهم سیستمونه په خوندي او اغیزناکه توګه فعالیت کوي. مشترکین هوکړه کوي چې د افغانستان بانک ته د خپل د ATS سیستم فعالیتونو په اړه هر ډول معلومات چې د افغانستان بانک یې دغوښتني وروسته په دریو کاري ورځو کې سپارل الزامي ګڼي، سپاري. د غوښتني سره سم د دغو معلوماتو په سپارلو کې پاتې راتګ د دغو اصولو د شپږمې مادې له مخې د ځنډولو لامل کیږي.

**دوولسمه ماده:**

**د کاروونکو مدیریت**

**(۱)** د ATS سیستم ته لاسرسی باید یوازې باصلاحیته او په ځانګړي توګه مشخص شوي پرسونل (کاروونکو) ته مجاز وي.

(۲) تر هغه وخته پورې چې د افغانستان بانک د اړیکو او د معلوماتو د امنیتي میتودونو چې په دغو اصولو او مقرراتو کې درج شوي او د همدغو اصولو د کړنلارو سره سم وخت په وخت تعدیل کیږي، او د دیدی اصولو سره سم عمل وکړي نو د سپاروونکي یا تائیدوونکي شخص د هویت یا صلاحیت د تثبیتولو یا د هر هدایت د محتوا د تثبیتولو مسئوولیت نه لري.

(۳) د افغانستان بانک حق لري چې په خپل بشپړ واک سره هر دستور یا هدایت رد یا اجرا کړي، پدې شرط چې د افغانستان بانک په ښه نیت سره د دستور پر صحت یا جواز باندې شک ولري او د افغانستان بانک باید مجاز شخص ته د دستور د ردېدو په اړه احتمالاً د تلیفون له لارې چټکه خبرتیا ورکړي.

(۴) د افغانستان بانک باید حق ولري چې پر تصدیقونو/منظوریو او د کاروونکي پر لستونو باندې چې د کاروونکي د غوښتنلیک پر فورم باندې بیان شوي دي تر هغه وخته پورې اتکا وکړي چې د بانک لخوا د ورته کاروونکي غوښتنلیک فورم د لیکلي فسخې یا اصلاح د اجراء څخه لږ تر لږه دوه کاري ورځې مخکې ترلاسه کړي او د مشترک د باصلاحیته شخص لخوا نیته لګیدلې او لاسلیک شوی وي، لکه څنګه چې د دغو اصولو په څلورمه ضمیمه کې بیان شوي دي.

(۵) د کاروونکي د غوښتنلیک فورم (User Application Form) یوازې د یوې لیکلي غوښتنې له لارې چې د یوه باصلاحیته شخص له لوري لاسلیک شوی وي او دا وړاندیز د دغو اصولو د یوولسمې مادې د کړنلارې سره سم د افغانستان بانک لخوا د منلو وړ وي، اصلاح کیږي.

(۶) دا برخه د هدایتونو په تړاو د تولو مخکینیو هوکړو او کړنو پرځای واقع کیږي او کړنلارې د ژبنیزې هوکړې یا د معاملې یا رسم له لارې بدلون نه مومي.

(۷) هر مشترک باید څومره چې ژر شونتیا ولري په هغه صورت کې د افغانستان بانک ته خبر ورکړي چې یو باصلاحیته شخص چې د یوه مشترک په استازیتوب د خدمتونو څخه ګټه اخلي، د همدې مشترک له لوري له کاره وایستل شي یا دا چې د ATS سیستم ته د لاسرسی لپاره نور د مشترک له لوري ترې واک واخیستل شي یا دا چې د مشترک لپاره نور کار ونکړي یا د هغه تر کنټرول لاندې نه وي.

(۸) هر مشترک چې غواړي د یوه کاروونکي لپاره د صلاحیت غوښتنه وکړي، باید لږ تر لږه پنځه کاري ورځې مخکې د افغانستان بانک ته په لیکلي ډول لاندیني موارد بشپړ او ولیږي:

- د کاروونکي دغوښتنلیک فورم چې د دغو اصولو په څلورمه ملپانه (ضمیمه) کې راوړل شوی، د باصلاحیته شخص له لوري لاسلیک او پرې نیته لیکل شوې وي.
- د کاروونکي پروتوکول چې د کاروونکي د غوښتنلیک فورم په توګه د دغو اصولو او مقرراتو په څلورمه ملپانه کې راوړل شوی، د اړوند شخص له لوري لاسلیک او پرې نیته لیکل شوې وي؛ او
- د یوه باصلاحیته کارکوونکي د پست د رامنځ ته کولو په صورت کې د ATS سیستم د کاروونکي د پروفایل غوښتنلیک فورم چې د افغانستان بانک لخوا برابر شوی، د دوو باصلاحیته اشخاصو له لوري لاسلیک او پرې نیټه ولیکل شي.

**دیارلسمه ماده:**

(۱) یوازې د افغانستان بانک په خپل بشپړ واک سره حق لري چې د مشترک (Administrators)نوي امنیتي مدیرانو ته واک ورکړي او دغو کاروونکو ته د کاروونکي پروفایل (User Profile) ورکړي. د دې ترڅنګ د افغانستان بانک ځانته حق لري چې:

- الکترونیکي ټوکنونه تخصیص کړي؛
- په لومړي سر کې د ATS سیستم هر مشترک ته دوه الکترونیکي ټوکنونه سره د PIN ورکړي. د لومړي تخصیص وروسته، د افغانستان بانک حق لري چې مشترکینو ته د لازیاتو الکترونیکي ټوکنونو بیه وضع کړي چې د کاروونکي د تعویض او پراختیا لپاره کارول کیږي؛ او
- کاروونکي ته د تصدیق ورکولو لپاره د تصدیقوونکي مقام څخه غوښتنه کول.

(۲) د مشترک هر کاروونکی باید د لاسرسي لپاره یو الکترونیکي ټوکن سره د PIN په واک کې ولري. هر الکترونیکي ټوکن یوازې او یوازې یو کاروونکي ته ورکول کیږي او په هیڅ ډول شرایطو کې باید د بل شخص سره شریک یا و نه کارول شي. د مشترک د امنیتي مدیر لخوا د ترلاسه کیدو وروسته د الکترونیکي ټوکن پاسورډ باید ژر تر ژره بدل شي.

(۳) مشترکین د خپلو امنیتي مدیرانو له لارې مسئوولیت لري چې د ATS په سیستم کې د خپلو نورو کاروونکي اضافه او وساتي او د کاروونکي نومونه، د کاروونکي پروفایلونه او لومړني پاسورډونه تخصیص کړي.

(۴) د یوه کاروونکي د رجسټر کیدو دمخه کاروونکی باید د اړینو دندو د ترسره کولو لپاره مناسبه روزنه بشپړ کړي. اوکه د رجسټریشن لپاره غوښتنه وشي نو کاروونکی باید یو عملي او/یا نظري ازموینه په بریالی توګه بشپړ کړي څو ثابته کړي چې د ATS سیستم د کارولو لپاره کافي پوهه لري.

(۵) یوازې د مشترک امنیتي مدیران کولای شي چې د کاروونکي په مسئوولیتونو کې چې د مشترکینو یا د افغانستان بانک لخوا اړین ګڼل کیږي، د بدلونونو له مخې د کاروونکي پروفایلونه وسپاري او تعدیل یې کړي. او همدارنګه تعدیلات د دوه اړخیزه کنټرول لاندې صورت مومي.

(۶) یو مشترک چې غواړي خپل کوم کاروونکی وځنډوي یا لرې (حذف) کړي، کولای شي دا کار په انلاین توګه ترسره کړي، خو باید د افغانستان بانک ته په لیکلي بڼه راپور ورکړي چې کاروونکی ځنډول شوی یا لرې شوی او دا راپور باید د ATS سیستم د کاروونکي د ځنډولو/لرې کولو فورم (۵ ضمیمه) له لارې ولیږل شي.

(۷) په بیړنیو حالتونو کې د افغانستان بانک (Administrators) د سیستم مدیران کولای شي چې د یو مشترک کاروونکي له ATS سیستم څخه وځنډوي یا لرې کړي.

(۸) د DABATS مدیران مشترکینو ته د کاروونکي لومړنی پروفایل د افغانستان بانک په نوم او د دې بانک د حساب لپاره تخصیص کوي، د کاروونکي د پروفایل په ګډون د یوه کاروونکي په هکله معلومات د مشترک د مدیرانو لخوا د برابر شویو معلوماتو له مخې ترتیب او تعدیل کوي.

(۹) د افغانستان بانک د ATS سیستم په هکله یو ماستر قالب جوړوي او باید د هر مشترک لپاره ځانګړي ماستر قالبونه منظور کړي. د قالب د محدودیتونو په چوکاټ کې د یوه مشترک لوړ پوړي چارواکي کولای شي چې د خپلو کارکوونکو لپاره پروفایلونه چې د دندو د ویش د اصولو سره مطابقت ولري، تعریف کړي.

**څوارلسمه ماده:**

**عملياتي جدول**

(۱) د افغانستان بانک باید د حکومت لخوا د جدول بندي شویو کاري ورځو/ساعتونو چې د تقویمي کلیزې له مخې عامه رخصتی ورځې پکې شاملې نه دي، د ATS سیستم فعال وساتي. معیاري ورځنی کاري جدول په شپږمه ضمیمه کې موندل کیدای شي. دا جدول د شرایطو سره سم د افغانستان بانک لخوا وخت په وخت نوی کیږي.

(۲) په عملیاتي ساعتونو کې مشترکین باید د ATS سیستم سره نښتي (وصل) وي څو د اړتیا په صورت کې د افغانستان بانک چې د ATS سیستم چلوونکی دی، لخوا په پورتني موده ایز جدول (۱) کې د بدلون راوستل کیدو څخه چې مشترکینو ته د هغوی د کاري ساحو یا دنورو لارو نه له مخکې څخه خبر ورکول کیږي، خبرتیا ترلاسه کړي.

(۳) د اړتیا په صورت کې د افغانستان بانک چې د ATS سیستم چلوونکی دی، په پورتني موده ایز جدول (۱) کې د بدلون راوستو په حالت کې مشترکینو ته د هغوی د دستګاه (work stations) ساحو یا نورو لارو نه له مخکې څخه خبر ورکوي.

(۴) عملیاتي/کاري جدول یا د دورې د غځولو یا بدلولو لپاره د مشترکینو لخوا غوښتنې یوازې په هغه صورت کې د افغانستان بانک لخوا کتل کیږي چې د سیستماتیک خطر شونتیا وي.

(۵) د عملیاتي/کاري جدول د مودې هر ډول غځونه باید د کاري ورځې له نیمایي شپې څخه وانه وړي.

(۶) د افغانستان بانک معیاري عملیاتي جدول ټولو مشترکینو ته د پنځو ورځو مخکیني خبرتیا په ورکولو سره وخت په وخت اصلاح کوي. عملیاتي جدول د افغانستان بانک لخوا مشترکینو ته د مخکیني خبرتیا پرته نه بدلیږي.

(۷) د ورځې پیل:

- هر ډول دشپني معاملې چې د افغانستان بانک لخوا داخلې شوې وي، باید په هغه صورت کې تصفیه شي یا د تصفیې لپاره په کتار کې واقع شي چې د یوه مشترک د تصفیې په حساب کې کافي پانګه (Funds) شتون ونلري.
- هر ډول دشپني پورونه یا نور تضمین شوي پورونه چې د افغانستان بانک لخوا مشترکینو ته ورکول کیږي او د بیا ورکړې وخت یې رسیدلی وي، باید ژر تر ژره د مشترکینو لخوا بیرته ادا شي.
- د افغانستان بانک باید د پورتنیو معاملو لپاره پروسه پیل کړي او د مشترکینو لخوا د دغو مکلفیتونو د تصفیه کولو په موخه هر ډول پاتي راتګ د دې لامل کیږي چې د افغانستان بانک جریمې وضع کړي.
- د بیلونو میاشتنی ډېټونه باید د میاشتې پر یوه مناسبه ورځ د تصفیې لپاره په اتومات ډول وارد شي.
- د هر ډول ارزښت (اجراء) نیټې کتار شوي معاملې چې جاري کاري نیټه ولري هم باید په اتومات ډول د تصفیې لپاره وارد شي.

(۸) د ورځې پرمهال:

- د مشتري د اداینو، د بانکونو ترمنځ اداینو، ډله ییزو (Bulk)هدایتونو او د افغانستان بانک معاملې واردول او تصفیه باید پرمخ یوړل شي؛
- د تسویه کوونکو ادارو د خالصه تصفیې هدایتونو واردول باید پرمخ یوړل شي؛
- د ژمن شوي تضمین د ارزښت په اړه باید د ATS سیستم سره مشوره وشي څو د ATS معاملو د تصفیې سره د مرستې په موخه د ILF د جوړولو لپاره وکارول شي.
- مشترکین باید د پانګه (Funds) د راپیدا کیدو په صورت کې د ورځې پرمهال ILF بیرته راوګرځوي.

(۹) لومړنی پرېکون (قطع کول)

- د لومړني پرېکون وروسته د ډله ییز (Bulk)کریډټ  د لیږد په ګډون د مشتري نوي ادایني باید پر جاري کاري ورځ باندې د   تصفیې لپاره ونه  لیږل شي، اوکه کوم یو شتون ولري باید رد شي او د افغانستان بانک لخوا پرې جریمه وضع شي.
- مشترکین باید یوازې د مشترکینو ترمنځ ادایني، د ILF هر ډول بیرته ګرځوني او د زیرمې لپاره فعالیتونه وارد کړي څو د همدې ورځې لپاره مالي وضعیت نهایي کړي.

(۱۰) دویم پرېکون (اوکه د تطبیق وړ وي)

- د دویم پرېکون وروسته د مشترکینو ترمنځ هر ډول ادایني چې پر جاري کاري ورځ باندې د  تصفیې لپاره  لیږل شوی وي، باید رد شي.
- د مشتري پاتې کتار شوي ادایني چې پر جاري کاري ورځ باندې د تصفیې لپاره لیږل شوی، په اتومات ډول لغو کیږي.
- د زیرمې په حسابونو کې پاتې  پانګه (Funds)باید خوشې او د ATS سیستم د زیرمې ډول جدول کې د ټاکل شویو پارامیترونو سره سم د شته  پانګه (Funds)حساب (د مشترکینو د تصفیې حساب) ته  ولیږل شي.
- هر ډول پرانیستی ILF باید د افغانستان بانک څخه دشپې پور د برابرولو سره په اتومات ډول په شا وګرځول شي.
- د افغانستان بانک کولای شي چې لازیاتې معاملې واردې کړي څو دشپې پورونو د واردولو په ګډون د مشترکینو مالي وضعیت تصفیه کړي څو له دې لارې د هر ډول پرانیستي ILF د ذخیره کولو لپاره لاره هواره کړي.

(۱۱) وروستنی پرېکون

- د وروستي پرېکون وروسته د مشترکینو ترمنځ هر ډول پاتې شوي ادایني چې پر جاري کاري ورځ باندې د تصفیې لپاره  لیږل شوي، باید په اتومات ډول لغو کړي.
- د افغانستان بانک کولای شي چې هر ډول وروستي (نهائي) معاملې واردې کړي.

(۱۲) د ورځې پای

- نهایي وضعیت تعیینیږي او د پیغام اړوندې بیانیې د ورځې د پای راپورونو سره یوځای خپریږي.
- د هر مشترک د  تصفیې حساب بیلانس باید د اړوند پیغامونو له لارې د افغانستان بانک په عمومي دفتر کې نوی (اپدیټ) شي.
- د افغانستان بانک عمومي دفتر GL باید د هغو معاملو له پلوه هم نوی کړل شي چې د افغانستان بانک د خپل پیغام د اړوندې بیانیې له لارې یې غړی دی.
- د ورځې د بیلونو (صورت حسابونو) لګښتونه باید محاسبه او د هر مشترک د ATS سیستم د  تصفیې له حساب څخه وضع شي.
- د افغانستان بانک د سیستم د عامل په توګه باید د ATS سیستم معلومات خوندي او ارشیف کړي.

# څلورم فصل

## د ادایني طی مراحل کول او کړنلاره

**پنځلسمه ماده:**

د ATS سیستم د لاندینیو موخو لپاره ډیزاین شوی دی:

(۱) په انفرادي ډول د لوی ارزښت لرونکو او بیړنیو کریډیټ لیږد د ادایني د هدایتونو طی مراحل او تصفیه کول؛

(۲) په انفرادي ډول د ډله ییزو سفارشونو چې د افغانستان بانک لخوا په لاره اچول شوی وي، طی مراحل او تصفیه کول؛

(۳) د ACH خپلکار تسویه څانګه د کریډیټ لیږد د ادایني هدایتونو طی مراحل او تصفیه کول؛

(۴) د ACH خپلکار تسویې څانګه د مستقیم ډبېټ د ادایني هدایتونو طی مراحل او تصفیه کول؛ او

(۵) د چک طی مراحل او تصفیه کول.

**شپاړسمه ماده:**

د ATS په سیستم کې د ادایني اړوندې ټولې معاملې باید په افغانی ترسره شي او د افغانستان بانک د نورو اسعارو لکه د امریکایي ډالرو او یورو د اضافه کولو په اړه تصمیم نیسي.

**اوولسمه ماده:**

اداینې د لیږلو سره سم د عیني ارزښت په نیټه باندې طی مراحل کیږي، مګر دا چې بله راتلونکی نیټه ټاکل شوې وي. راتلونکي ورځې باید د اوسني ورځې څخه د لسو کاري ورځو څخه زیاتی نه وي او د افغانستان بانک د دې د اصلاح په اړه مشترکینو ته مخکینی خبرتیا ورکوي.

**اتلسمه ماده:**

د افغانستان بانک کولای شي چې د ATS سیستم له لارې لیږدول کیدونکو مبلغونو باندې چې که د انفرادي هدایتونو په بڼه وي یا د ډله ییزو(Bulk) هدایتونو، تر ټولو لږ او/یا تر ټولو زیات حدود وضع کړي او کولای شي دا مبلغونه بدل کړي.

**نولسمه ماده:**

د ATS هر مشترک باید د خپلو اداینو د پیغامونو د سموالی او بشپړوالي مسئوولیت ولري.

(۱) د ATS سیستم مشترکینو ته اجازه ورکوي چې د انفرادي هدایت د ادایني د پیغامونو لپاره لومړیتوبونه وټاکي.

(۲) دا لومړیتوبونه د خالصی تصفیي د هدایتونو یا دستورونو څخه لوړ خو د افغانستان بانک د اداینو څخه ټیټ دي.

(۳) د ډله ییزو سفارشونو په ګډون د افغانستان بانک ادایني تر ټولو لوړ لومړیتوب لري.

(۴) د خالصی تصفیي دستورونه د لومړیتوبونو دویمه مهمه ټولګه (مجموعه) جوړوي.

(۵) هغه ترتیب چې پکې ادایني د انتظار په کتار کې تصفیه ، کیږي،په لومړي سر کې د لومړیتوب پر بنسټ او په دوه یم سر کې د هغه وخت پر اساس چې د ATS لخوا په هر لومړیتوب کې قانوني (د اعتبار وړ) کیږي، تړاو لري.

(۶) یو مشترک د کتار شوي ادایني پیغام چې د تصفیې لپاره یې لیږلی دی، لومړیتوب بدلولای شي.

**شلمه ماده:**

مشترکین باید د ډله ییزو سفارشونو پرځای کول د خپل سیالیت د مدیریت په برخه کې د یوه مهم لومړیتوب په توګه وګڼي. په دې کار کې پاتې راتګ د جریمو لامل کیږي.

**یوویشتمه ماده:**

(۱) مشترکین باید ټول اړین اقدامات ترسره کړي څو د اداینو بهیر اغیزناک او نورمال وساتي، په تیره بیا د شپږمې ضمیمې د موده ایز جدول سره په کلکه پابنده پاتې کیدو له لارې.

(۲) د مشترکینو لخوا لیږل شوي اداینیز هدایتونه باید ژر تر ژره د ATS سیستم له لوري د اعتبار وړ وګرځي.

(۳) که چیرې د اداینې کوم هدایت یا دستور رد شي نو صادروونکي ته د خطا پیغام لیږل کیږي . د سیستم په کاري/عملیاتي لارښوودونو کې د خطاګانو د کوډونو یو لست شامل دی.

(۴) د لومړي ورودي لومړي خروجي اصل له مخې منل شوي پیغامونه ثبت کیږي او د سیستم له لوري د مودې په ترتیب طی مراحل کیږي.

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) د انفرادي اداینیزو پیغامونو په برخه کې مشترکین باید د پیغام د لاندینیو ډولونو په مرسته چې پکې د ټولو ادainو لپاره د افغانستان حروف نه شاملیږي، د SWIFT د قالب بندۍ اصولو سره مطابقت وکړي:

| | |
|---|---|
| • MT103 or MX | • د مشتري د یو کریډټ لیږد |
| • MT202 or MX | • د عمومي مالي اداري لیږد |
| • MT298 or MX | • تصدیقونه، خبرتیاوې او د تسویه کوونکو ادارو څخه د تصفیې خالص هدایتونه |
| • MT900 or MX | • د ډیبټ تائیدي – د مشترک لخوا اختیاري دی |
| • MT910 or MX | • د کریډټ تائیدي – د مشترک لخوا اختیاري دی |
| • MT920 or MX | • د پیغام غوښتل |
| • MT941 or MX | • د بیلانس پیغام – د مشترک لخوا اختیاري دی |
| • MT950 or MX | • د بیانیې پیغام – د مشترک لخوا اختیاري دی |
| • MT999 or MX | • د ازاد فارمټ پیغام |

(۲) د ډله ییز (Bulk) کریډټ او ډله ییز مستقیم ډیبټ اداینیزو پیغامونو په برخه کې مشترکین باید د لاندینیو پیغامونو د ډولونو په مرسته د ټولو اداینو لپاره د UNIFI له فارمټ سره مطابقت وکړي.

| | |
|---|---|
| • PACS.003 | • د مستقیم ډیبټ ډله ییزه (Bulk) لیږد |
| • PACS.008 | • د مشتري د کریډټ ډله ییزه (Bulk) لیږد |

**دروېشتمه:**

د کرېډېټ ډله ییز (Bulk) لیږد په هر وخت کې چې سیستم د کار لپاره پرانیستی وی تر لومړي پرېکون پورې ولیږل شي:

- هر مشترک مسئوولیت لري له دې ډاډمن شي چې د ACH خپلکار تسویې ځانګی له لوري د تولید شوي خالصی تصفیې د هدایتونو/دستورونو د تصفیې لپاره کافي سیالیت شتون لري.
- د خالصی تصفیې د هدایتونو د تصفیه کیدو سره د تصفیه شویو مواردو ټولګې (دستي) ټولوونکو بانکونو ته لیږل کیږي.
- د ACH خپلکار تسویې ځانګی مستقیم ډبټونه په هر وخت کې چې سیستم د فعالیت لپاره پرانیستی وی تر لومړي پرېکون پورې لیږل کیدای شي.
- د مستقیم ډبټ ډله ییز (Bulk) موارد د هغوی د ارزښت نیټې څخه چې پکې تصفیه کیږي، څو ورځې مخکې لیږل کیږي.
- د مخکیني ورځو شمیره چې د استولو لپاره جواز لري، د سیستم د دوو پارامیترونو له لوري کنټرول کیږي: د استولو حد اعظمي نیټه او د استولو حد اقل نیټه.
- له دغو مودو څخه بهر استول شوي ډله ییز (Bulk) موارد رد کیږي. ادا کوونکي بانکونه کولای شي چې د مستقیم ډبټ موارد د انتظار مودې (Waiting Period) تر پایه پورې چې د سیستم پارامیټر په توګه هم مشخص شوي، رد کړي. له دې مودې وروسته استول شوي ردوني د سیستم له لوري ردیږي.
- د مستقیم ډبټ د ډله ییزه (Bulk) مواردو پاتې (متباقی) ارزښت د هغه د ارزښت یا اجراء ورځې (نیټې) په پیل کې د خالصی تصفیې د هدایتونو په توګه د تصفیې لپاره وړاندې کیږي.
- د ATS سیستم د غړي کیدو له لارې مشترکین د مستقیم ډبټ د طرحې شرایطو ته د غاړې ایښودنې ته ژمن کیږي، دا په دې معنا ده چې هغوی دا پرغاړه اخلي چې ځان ډاډمن کړي چې د مستقیم ډبټ د تصفیې ټول خالص هدایتونه په بیره د ورځې په پیل کې تصفیه کیږي.
- د افغانستان بانک حق لري چې مشترکین د ارزښت پر نیټې باندې د مستقیم ډبټونو د تصفیې لپاره د کافي سیالیت په برابرولو کې د پاتې راتګ له امله جریمه کړي.

# پنځم فصل

## د کتار مدیریت او د بندښت حلول

**څلورویشتمه ماده:**

**د ادایني انفرادي هدایتونه باید په لاندې ډول طی مراحل شي:**

- د ادایني د تصفیي لپاره اړین معلومات د ادایني د مفصل دستور څخه ترلاسه کیږي؛
- که چیرې لیږوونکی کافي پانګه (Funds) په واک کې ولري، اداینه تصفیه کیږي (صادروونکی ډېبټ کیږي، ذینفع خوا کریډېټ کیږي) او همدا ګړی په ATS سیستم کې نهایي کیږي او ذینفع خوا ته ډېر ژر مفصل دستور لیږل کیږي؛
- که چیرې شته پانګه (Funds) د ادایني د تصفیي لپاره کافي نه وي، د ATS سیستم د ادایني دستور د انتظار په کتار کې واقع کوي؛
- که چیرې صادروونکي وغواړي چې ځینې پیغامونه په لومړیتوب سره اجراء کړي، هغوی باید په پیغامونو کې د زیات لومړیتوب یو کوډ اضافه کړي؛
- هغه ترتیب چې پکې ادایني په ځنډول شوي کتار کې اجراء کیږي، په لومړي سر کې لومړیتوب پورې تړلي او په دویم ګام کې هغه پورې اړه لري چې د ATS سیستم لخوا د اعتبار وړ ګرځیدلی وي. هغه ادایني چې د *FIFO* لومړی ورودي، لومړی خروجي اصل پر اساس عین لومړیتوب ولري؛
- د صادروونکي په شته پانګه (Funds)کې زیاتوالی د ځنډ په لست کې د اداینیزو هدایتونو د طی مراحل لامل کیږي؛
- د طی مراحلو ترتیب په لاندې ډول تعیینیږي:

الف) اداینیز پیغامونه چې د زیات لومړیتوب کوډ لري، تل د عام لومړیتوب لرونکي کوډ په پرتله مخکې طی مراحل شوي دي. د عام لومړیتوب لرونکو ادانیز پیغامونه یوازې په هغه صورت کې اجراء کیږي چې د ځنډ په کتار کې د زیات لومړیتوب لرونکی کوډ پاتې نه وي.

- ټول ادانیز هدایتونه چې ورته لومړیتوب لري، د (FIFO)(لومړی ورودي لومړی خروجي) منل کیدنې په موده ایز ترتیب سره ډله بندي او طی مراحل کیږي.
- همدا چې د ځنډ په کتار (لست) کې د یو صادروونکي ټول ادانیز هدایتونه ورانډې شي، د ATS سیستم باید د ځنډ کتار طی مراحل بیرته پیل کړي او د هغه صادروونکي د ادانیزو هدایتونو څخه پیل وکړي چې د کریډېټ لومړی فعالیت یې لیدل شوی وي.

**پنځه ویشتمه ماده:**

د افغانستان بانک کولای شي چې هر ډول کتار شوی ترتیب د سیستم له لارې د پانګی (Funds) د عادي او روان بهیر په موخه لغو کړي او باید د معاملې هر پیلوونکی مشترک ژر تر ژره خبر کړي.

- د افغانستان بانک د ATS سیستم له لارې په اتومات ډول هره ادانیه چې د وروستي پرېکون په *(Final Cut-off)* وخت لاهم په کتار کې قرار ولري، لغو کوي؛

  الف) ادانیز هدایتونه چې د ATS په سیستم کې کتار شوي په استثنائي شرایطو کې د معاملې پیلوونکي مشترک لخوا لغو کیږي. په دې اړه مفصل کړنلاره د مشترک د کاروونکي په لارښوود کې توضیح شوې ده.

**شپږ ویشتمه ماده:**

که چیرې د ځنډ په کتار کې د ادائینیزو هدایتونو ارزښت د سیستم د ډکیدو (اشباع) لامل شي یا دا چې د مشترک دوه یا زیات کتارونه د ادائینیزو هدایتونو سره بلاک شي او ستونزه دومره جدي وي چې د افغانستان بانک لاسوهنه اړینه وګڼي، د بندښت د حلولو (Gridlock Resolution) سیستم باید د افغانستان بانک له لوري چې د ATS سیستم عامل دی، په اتومات یا غیر اتومات ډول اجراء شي او دا کار د دوه اړخیزه یا څو اړخیزه شبکوي کړنلارې د تمثیل له لارې پلې تصفیه کیدای شي.

- د هر مشترک بیلانس چې ادائینیز هدایتونه یې وړاندې کړې وي یا دا چې د ځنډ په کتار کې ترلاسه کیدونکی وي، په دې انګیرنې سره محاسبه کیږي چې ټول ادائینیز هدایتونه په یو وخت کې ترسره کیږي.
- وروسته بیا یوه کتنه ترسره کیږی څو څرګنده شي چې هر مشترک د خپل بیلانس د تصفیه کولو لپاره کافي پانګه (Funds) په واک کې لري.
- که داسې وي نو د ځنډ په کتار کې هر ترتیب په انفرادي ډول اجراء کیږي. د بریالي حل لارې د پایلې په توګه، ځینې نوری ځنډول شوي معاملې هم د کتار د کتلو د اتومات میکانیزم له لارې خوشې کیږي.
- مشترکین باید د ورځې پرمهال خپل د تصفیې حساب څخه څارنه وکړي او ځان ډاډمن کړي چې هغوی د خپلو تسویوي مسئوولیتونو د پرځای کولو لپاره کافي پانګه (Funds)په واک کې لر ِ ي.
- د افغانستان بانک د مشترکینو مالي وضعیت څخه څارنه کوي او مشترکینو ته مشوره ورکوي چې له بندښت څخه د وتلو لپاره اړین تدابیر لاس لاندې ونیسي.

# شپږم فصل

# د ادايني تثبيتول او شرايط

**اووه ويشتمه ماده:**

کومه شيبه چې يوه اداينه په سيستم کې داخل کيږي هغه شيبې ته وايي چې ادراينه د سيستم لخوا له تخنيکي پلوه منل شوې ده، چې دا کار د اعتباري کيدو څخه وروسته خو د تصفيي يا د سيستم له لوري د ادراينيز هدايت د کنټرولو لپاره د منل کيدنې څخه مخکې شيبه يا مرحله ده.

**اته ويشتمه ماده:**

دافغانستان بانک قانون اووه اتيايمه ماده له همدې شيبې څخه د ادراينيز هدايت تصفيې د اړوند مشترک د افلاس په وخت کې له بيرته چنګولو څخه خوندي کيږي.

- يو ترلاسه کوونکی مشترک بايد د ليږوونکي مشترک څخه د ادايني د رسيد د ترلاسه کولو څخه وروسته په دوو ساعتونو کې د يوه ذينفع خوا حساب ته د يوه ترلاسه شوي ادراينيز هدايت وضعيت تعيين کړي.
- يو ترلاسه کوونکی مشترک بايد د غير ضروري (اضافي) ليږنې /ورکونې په تړاو د يوه ليږوونکي مشترک د دعوا پر بنسټ يوازې په هغه صورت کې مسئول وګڼل شي چې ترلاسه کوونکی مشترک ونکړی شي چې د ذينفع خوا حساب په ارزښت يا رقم سره کريډټ کړي:

الف) د ادايني د ترلاسه کولو څخه په دوو ساعتونو کې او په هغه صورت کې چې ادراينه د لومړني پرېکون څخه مخکې په يو ساعت کې ترلاسه شوی نه وي؛

ب) په راتلونکي ورځ کې د ورځې د پيل په لومړيو دېرشو دقيقو کې او په هغه صورت کې چې ادراينه د لومړني پرېکون څخه مخکې له دوو ساعتونو څخه په لږه موده کې ترلاسه شوی وي.

- يو ترلاسه کوونکی مشترک بايد غير ضروري (اضافي) ليږنې /ورکونې په تړاو د ليږوونکي مشترک د دعوا پر بنسټ يوازې په هغه صورت کې مسئول وګڼل شي چې ترلاسه کوونکی مشترک ونکړی شي چې يوه ادراينه چې د تطبيقولو قابليت يې نه لري، بيرته ګرځولی ونشي؛
- يو ترلاسه کوونکی مشترک بايد د ادايني يو ترلاسه شوی هدايت په هغه صورت کې رد کړي چې د تطبيقولو قابليت يې ونلري؛
- يو ترلاسه کوونکی مشترک بايد ورته ادراينه ليږوونکي مشترک ته د رسيد د ترلاسه کولو څخه په دوو ساعتونو کې بيرته وګرځوي په هغه صورت کې چې دا ادراينه د لومړني پرېکون څخه يو ساعت مخکې موده کې ترلاسه شوی نه وي؛
- يو ترلاسه کوونکی مشترک بايد ورته ادراينه د راتلونکي ورځې د پيل په لومړيو دېرشو دقيقو کې دننه ليږوونکي مشترک ته بيرته وګرځوي په هغه صورت کې چې دا ادراينه د وروستي (نهايي) پرېکون څخه مخکې د يوه ساعت دننه ترلاسه شوی وي.

**نهه ویشتمه ماده:**

**د ادایني نهایي کیدنه او نه فسخ کیدنه**

(۱) د ATS په سیستم کې اداینیز هدایتونه هغه وخت تصفیه شوی او نهایي ګڼل کیږي چې د لیږوونکي مشترک د تصفیې حساب ډبټ شي او د ترلاسه کوونکي مشترک د تصفیې حساب د هدایتونو د مشخص شوي مبلغ سره کریډټ شي.

(۲) د ATS په سیستم کې د تصفیې لپاره د منل کیدني او د وروستي تصفیې ترمنځ د احساس کیدو (لیدو) وړ ځنډ نشته .

**دیرشمه ماده:**

(۱) د هغه شیبې څخه چې د ATS سیستم د تصفیې لپاره یو اداینیز هدایت ومني، د یوه مشترک یا سیستم لخوا بیرته برداشت کولو ته اجازه نه لیدل کیږي، مګر دا چې اداینه تصفیې لپاره کتار شوې وي، چې په دې صورت کې د فسخې لپاره د شرایطو د اجازې په صورت کې دا اداینه لغو کیږي او په وروستي پرېکون کې په کتار کې واقع کیږي.

(۲) که چیرې یوه اداینه په خطایي توګه وارده شي او تصفیه شوې وي نو په دې صورت کې اداینه لغو کیدای نشي.

**یو دیرشمه ماده:**

له تخنیکي پلوه د منل کیدني وروسته د ACH خپلکار تسویې ځانګې مستقیم ډبټونه د ATS سیستم له لوري په ټولګو یا دستو کې ترتیب کیږي چې بیا ترلاسه کوونکو (ادا کوونکو) بانکونو ته د تثبیت او د ادایني یا نه ادایني په اړه د تصمیم لپاره لیږل کیږي.

**دوه دیرشمه ماده:**

د ACH خپلکار تسویې ځانګې د مستقیم ډبټ پاتې ارزښت د شکل بندي شوي مستقیم ډبټ د تسویې د لومړي مرحلې له لارې د ارزښت (اجراء) پر نیټه باندې د خالصې تصفیېد هدایتونو په توګه د تصفیې لپاره وړاندې کیږي.

**درې دیرشمه ماده:**

ادا کوونکي بانکونه کولای شي چې د انتظار مودې تر پایه پورې چې د سیستم د پارامیټر په توګه مشخص شوی، د مستقیم ډبټ موارد رد کړي.

د ACH خپلکار تسویې ځانګې د مستقیم ډبټ د لیږلو او د خالصې تصفیې د هدایتونو د تصفیې ترمنځ موده کې اداینیز موارد د نه فسخ کیدو وړ یا نهایي ګڼل کیږي.

# اووم فصل

## د حساب جوړښت او مالي ترتيبات

**څلور دېرشمه ماده:**

(۱) هر مشترک باید د هر پولي واحد لپاره یو د تصفيي حساب او يو د ILF حساب ولري؛

(۲) پانګه (Funds) د تصفيي حساب څخه زیرمو ته چې یو ډول فرعي حساب دی، لیږدول کیدای شي؛

(۳) د مبلغ پرته د تصفيي حساب بیلانس چې په هره زیرمه کې ساتل شوی وي، د ILF حساب کې شته مبلغ سره یوځای هغو پانګو (Funds) ته وايي چې د تصفيي په موخه د لاسرسی وړ دي؛

(۴) په زیرمو کې ساتل شوي مبلغونه یوازې د تصفيي د مشخصو موخو لپاره چې د زیرمې په هر ډول کې تعریف شوی، کارول کیدای شي.

(۵) د تصفيي حساب د ATS په سیستم کې د عملیاتو لپاره کارول کیږي او باید د ډبټ بیلانس ونه لري؛

(۶) د افغانستان بانک د ثبت عمومي دفتر کې ساتل شوی حساب باید د ورځې په پای کې د ATS په سیستم کې د تصفيي حساب د بیلانس سره سم د هر مشترک لخوا نوی او ایډیټ شي.

(۷) مشترکین باید ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان بانک سره د امانتونو حساب ته د تصفيي حساب د پانګې (Funds) هر لیږد Final-cut-off باید د نهايي پرېکون څخه مخکې د ATS سیستم له لوري ترسره شي. دا شان لیږدوني که څه هم د تصفيي په حساب کې د ډبټ بیلانس لامل نه کیږي.

(۸) د افغانستان بانک د ثبت د عمومي دفتر حساب د بیلانس خوځښت یا تنظیم چې د ATS په سیستم کې د ورځې د پایه وروسته او د ATS په سیستم کې د بلي ورځې د پیله دمخه پیښ شي، باید هر څومره چې ژر امکان ولري او کله چې د ATS سیستم په بله ورځ باندې د فعالیت لپاره پرانیستی وي، د ATS سیستم د تصفيي په حساب کې منعکس شي.

**پنځه دېرشمه ماده:**

یو مشترک همدا ډول هوکړه کوي چې د افغانستان بانک د مشترک د تصفيي په حساب کې د شته پانګې (Funds)د ذخیره کولو لپاره چې د ځنډول شوي خالصی تصفيي په سیستم کې چې د *Deferred Net Settlement* DNS د برابروونکي په غوښتنه د ATS سیستم له لاري تصفیه کیږي، *Net debit position* د ډبټ خالص مالي وضعیت ولري؛ چې تضمین (وثيقه) (*collateral*) د تصفيي لپاره د خالصی تصفيي د هدایتونو د منل کیدو سره سم د خالصی تصفيي د مالي وضعیت د ژر تصفيي لپاره لاره هواروي او د هغه تضمین کوي.

**شپږ دېرشمه ماده:**

(۱) د ATS سیستم هر مشترک کولای شي د DNS سیستمونو څخه د خالص تصفيي د هدایتونو د تصفيي تضمین لپاره د تصفيي حساب له مخې زیرمي ترتیب او جوړې کړي؛

(۲) هر مشترک کولای شي چې د خپل سیالیت د مدیریت موخو لپاره یوه عمومي زیرمه او یوه نغدي زیرمه جوړه کړي؛

(۳) د یوې زیرمي جوړول د تصفيي په حساب کې د پانګې (Funds)د خوځښت لامل کیږي چې د جاري حساب څخه د زیرمي حساب ته چې یوازې د ځانګړو موخو لپاره کارول کیدای شي، لیږدول کیږي

**اووه دېرشمه ماده:**

(۱) د DNS له لوري د خالصې تصفيې د يوه هدايت د ليږلو څخه مخکې د همدغه DNS زيرمې په اتومات ډول لکه څنګه چې د DNS سيستم په اړوندو اصولو کې مشخص شوي، قيد کيږي.

(۲) په يو DNS کې د تصفيې پروسې پرمهال د DNS زيرمې (که له مخکې قيد يا قفل شوی نه وي) د ټولو مشترکينو په جاري حسابونو کې په اتومات ډول قيد کيږي څنګه چې تضمين (وثيقه) د تصفيې وروسته د هغوی تر خوشې کيدو پورې د خالص مالي وضعيت څخه تضمين کوي؛

(۳) هغه مبلغونه چې زيرمو ته ليږدول شوي، د افغانستان بانک په ګټه ژمن شوي دي.

(۴) مشترکين او د افغانستان بانک هوکړه کوي چې د اړوند DNS د خالصې تصفيې د هدايتونو د تصفيه کولو لپاره د نابسيا پانګې (Funds)په صورت کې د افغانستان بانک کولای شي چې د مبلغ په لاره اچولو يا د ناترلاسه شوي تضمين شوي تصفيوی مکلفيت په تسويه کې د هيڅ ډول التزام پرته تطبيق کړي:

- د نغدي کولو هوډ په اړه مخکيني خبرتيا بايد ورکړل شوی وي؛
- د نغدي کولو شرايط بايد د هرې محکمې، عامه دفتر يا بل شخص له لوري منظور شي؛
- نغدي کول بايد د عامه ليلام يا په بل تجويز شوي بڼه ترسره شي؛
- کومه بله اضافه موده بايد تيره شوې وي.
- د تصفيې وروسته د ATS سيستم اړوندې زيرمې له قيده وباسي او خوشې کوي.

**اته دېرشمه ماده:**

د افغانستان بانک د مشترکينو د تصفيې په حساب کې د يوه ورځني کريډټ حد اقل بيلانس ترميم کړي:

- دا هدف هغه وخت ترلاسه کيږي چې د افغانستان بانک د مشترک د تصفيې په حساب کې د ځينو د ساتلو لپاره د زيرمې يو ډول تعريف کړي او د تصفيې له حساب څخه د زيرمې حساب ته د الزامي بيلانس وليږدوي؛
- د زيرمې په حساب کې پانګه (Funds) تر هغه وخته پورې د تصفيې په موخه کارول کيدای نشي چې د افغانستان بانک لخوا خوشې شي.

**نهه دېرشمه ماده:**

د افغانستان بانک د وړو ژمن شويو بيه لرونکو پاڼو په بنه د تضمين په وړاندې مشترکينو ته د سياليت يو ورځنی اسانتيا (ILF) برابروي:

- د افغانستان بانک د ژمن شويو بيه لرونکو پاڼو څخه جلا د نورو تضمينونو (وثيقو) د کارولو په اړه تصميم نيسي؛
- د ورځې د پای څخه مخکې بايد هر ډول ILF بيرته وګرځوي يا ادا شي يا دا چې دشپې پور باندې بدل شي.

**څلويښتمه ماده:**

د افغانستان بانک په خپل بشپړ واک سره تصميم نيسي چې د سياليت يوه ورځني اسانتيا ته د مشترک لاسرسی محدود کړي، وځنډوي يا يې فسخ کړي، که چيرې:

- مشترک يا يو پور ورکوونکی يې د ادراينو د درولو لپاره غوښتنه ثبت کړي.
- مشترک مفلس اعلان شي.
- د ATS په سيستم کې د مشترک حساب فسخ شوی وي يا د افغانستان بانک په نظر د مشترک اعمال يا خطاګانې د سيستم لپاره خطر ورپيښوي يا دا چې د ATS سيستم عادي فعاليت په خطر کې واچوي؛
- مشترک د پولي سياست د عملياتو لپاره د وړوالي معيارونو او شرايطو سره مطابقت ونکړي؛

- مشترک د دغو اصولو د دوه یمې برخې د ذکر شویو شرایطو سره مطابقت ونکړي.

**یو څلویښتمه ماده:**

هر ډول ILF چې د ورځې پرمهال کارول شوې ده، باید موده یې د وروستي پرېکون *Cut off* پورې پای ته ورسیږي:

- هر مشترک باید په خپل ILF کې کافي پانګه (Funds) په واک کې ولري څو د ATS سیستم تر تړل کیدو مخکې وایستل شي.
- که چیرې یو مشترک په دې وخت کې کافي پانګه (Funds) ونلري، د افغانستان بانک په اتومات ډول دشپې پورونه ورکوي چې د ټکټاني نرخ یې د افغانستان بانک لخوا تعیین کیږي. دا کار به د هغو بیه لرونکو پاڼو څخه مخنیوی کوي چې د ناجبران شوي ILF چې له تعهد یا خرڅلاو څخه خلاصیږي، تضمین برابروي.
- دشپې پور تل تضمین کیږي؛
- دشپې پورونه باید د بلې کاري ورځې په سهار باندې بیرته جبران شي، خو د اړتیا سره سم د افغانستان بانک د منظورۍ سره اوږدمهاله تضمین شوي پورونو باندې بدلیدای شي.

# اتم فصل

# د مشترکینو حقونه او مسئوولیت

**دوه څلویښتمه ماده:**

- په عموم ډول ټول مشترکین باید د دغو اصولو له مخې د ATS سیستم ته ادایني هدایتونه صادر کړي. مشترکین په انفرادي ډول د لاندینیو مواردو مسئوولیت لري:
- د دغو اصولو په پایله کې د رامنځ ته شویو مالي مکلفیتونو په سمه توګه پرځای کول؛
- د هغو معلوماتو کیفیت چې هغوی یې په خپل استازیتوب او د خپلو ممثلو (ورته) خواوو یا مشتریانو په استازیتوب لیږي.
- له تخنیکي پروتوکولونو او د پیغام له منل شویو فارمټونو سره د معلوماتو مطابقت.
- د دغو اصولو سره سم د امنیتي کړنلارې له مخې د مشترک د ATS سیستم د ادایني ستیشن سره د لاسرسی ساتل؛
- له دې ډاډ ترلاسه کول چې ټول هغه معلومات چې هغوی ته د ATS سیستم له لوري برابر شوي، ترلاسه کوي؛
- تر هغه وخته پورې د ادایني‌زو هدایتونو د طی مراحلو کنټرول چې د ATS سیستم دغو ادایني‌زو هدایتونو ته "له تخنیکي پلوه منل شوی" حالت وروبخښي؛
- له هغو کړنلارو او اصولوسره په کلکه مطابقت کول چې د ATS سیستم ته لاسرسی کنټرول او مدیریت کوي؛
- له دې ډاډ ترلاسه کول چې یوازې هغه قانوناً مجاز کاروونکي (Users) چې ورته د افغانستان بانک لخوا د لاسرسی د کنټرول لپاره الکترونیکي ټوکن ورکړل شوی وي، دا سیستم کاروي؛
- د دواړو حساب نوم او شمیرو په مرسته د ادایني‌زو پیغامونو د ټاکل شویو ذینفع خواوو پیژندل؛ او
- د پیغام د هغو فارمټونو له مخې د معلوماتو برابرول چې د افغانستان بانک لخوا وړاندې شوې دي.

**درې څلویښتمه ماده:**

- هر مشترک مسئوولیت لري چې د ورځې په اوږدو کې د هغو ادایني تصفیې څخه څارنه وکړي چې لیږلې یې وي، د ادایني د هغه شمیرې او مبلغ څخه څارنه وکړي چې بیروني ځنډ لست کې ذخیره شوی وي، د دې ترڅنګ د هر ډول خالص او ناخالص کتار شوي تصفیوی هدایتونه ، د هغه د تصفیوی حساب د بیلانس، د هغه له ILF، د هغه د زیرمو له کچې څخه څارنه وکړي او هدف تعیین کړي چې نا تصفیه شوي ادایني پرې نردي.

**څلور څلویښتمه ماده:**

- کله چې یو مشترک ته د ادایني لپاره اشتباهي (ناسمه) دستور ترسره شي؛
- کله چې ترلاسه کوونکی مشترک له دې خبر شي چې د هغه د تصفیې حساب په اشتباهي ډول یا په زیاته اندازه کریډټ شوی دی، باید ژر تر ژره صادروونکی خبر کړي او د یوه نوي هدایت په توګه یې بیرته ادا کړي؛
- صادروونکی/پیلوونکی مشترک باید له ترلاسه کوونکي مشترک څخه د اصلاح یا سمون لپاره غوښتنه وکړي؛
- یوه بیرته ګرځیدونکي ادایني باید د مالي ادارې د لیږد د نوي ادایني هدایت Mx یا (MT202) په توګه تطبیق شي. بیرته ګرځیدونکی هدایت باید د اصلي هدایت د رجوع شمیره ولري او په ښکاره توګه "بیرته ګرځیدونکي ادایني" (Return Payment) ښکاره کړي.

- صادروونکی/پیلوونکی مشترک د شپي امانت د نرخ پر اساس چې د افغانستان بانک لخوا د یوه اشتباهي یا اضافه بیا ادایني کې د ځنډ لپاره تطبیق کیږي او د لومړي پرېکون څخه مخکې راپور یې ورکړل شوی Initial Cut-off او په عین ورځ باندې اصلاح شوی نه وي، د ټکټاني دعوا کوي.

**پنځه څلویښتمه ماده:**

هر مشترک باید دافغانستان بانک ته د تفتیش کلنی تصدیق لیک د اوومي ضمیمي (ملپانې) په بڼه او د ATS سیستم سره د مشترک د یوځای کیدو د تلین څخه په شپیتو (۶۰) ورځو کې وړاندې کړي.

**شپږ څلویښتمه ماده:**

د تفتیش کلنی تصدیق لیک باید د مشترک د یوه باصلاحیته اجرائیوي مسئول لخوا لاسلیک شي. د دغه باصلاحیته شخص په اړه هر ډول شواهد چې د افغانستان بانک لخوا غوښتل کیږي، باید په بیره د غوښتنې سره سم وړاندې شي.

**اووه څلویښتمه ماده:**

هر مشترک باید د امنیتي حکمونو په ګډون چې د ATS سیستم په اړه په دغو اصولو کې بیان شوي، د کاري، تخنیکي او اداري شرایطو سره مطابقت او اطاعت وارزوي.

**اته څلویښتمه ماده:**

هر مشترک د دې جوګه دی چې لاندینیو راپورونو او د پلټنې اسانتیاوو ته لاسرسی ولري:

- د افغانستان بانک سره د هغه د ادایني او د تصفیې حساب وضعیت،
- د ادایني او د تصفیې حساب او په ځانګړې توګه د ATS سیستم د اداینو معاملې،
- د ځنډ کتار سره انفرادي هدایتونه،
- د ACH خپلکار تسویی ځانګی د خالصی تصفیې هدایتونه یا نور د خالصی تصفیې هدایتونه چې لاهم طی مراحل کیږي،
- د افغانستان بانک سره د یوه ورځني کریډټ وضعیت (که چیرې وي)،
- د ځانګړي (د یوې موخې)یا د غوښتنې پر بنسټ راپورونه چې الزامي نه وي او رسماً لیږل شوي نسخې یې په هر وخت کې له سکرین څخه په مستقیم ډول لیدل او چاپول کیدای شي.

**نهه څلویښتمه ماده:**

یو مشترک د هر ډول خسارې په وړاندې چې د کړنلارو سره د نه مطابقت له امله یا د هغه د ناسمه یا درغلیزه توګه کاروني له امله رامنځ ته شوی وي، او په ځانګړې توګه د هر هغه معاملې په وړاندې په بشپړه توګه مسئول ګڼل کیږي چې د هغه د کاروونکو لخوا اجراء شوی وي.

**پنځوسمه ماده:**

هر مشترک باید داډ ترلاسه کړي چې د هغه خپل سیستمونه او کړنلارې د ATS سیستم په تړاو د درغلیزه فعالیتونو په وړاندې اړین خوندیتوب رامنځ ته کوي.

**یو پنځوسمه ماده:**

د ATS سیستم په تړاو ټول حقیقي یا د مشکوکو او درغلیز فعالیتونو په اړه باید ژر تر ژره د افغانستان بانک ته راپور ورکړل شي، مهمه نه ده چې دا درغلي یا مشکوکه درغلي د مشترک د کارکوونکي، مشتري یا بل شخص له لوري ترسره شي.

**دوه پنځوسمه ماده:**

هر مشترک باید ټوله معقوله مرسته څه د افغانستان بانک یا بل مشترک لخوا غوښتل شوې وي، برابره کړي څو د هرې حقیقي یا مشکوکې درغلي یا مشکوکې معاملې سرچینه وپلټل او وپیژندل شي.

**درې پنځوسمه ماده:**

مشترکین باید د یوه خبرولو وړ پیښې د پیښیدو یا د پیښیدو د ګواښ سره سم ژر تر ژره د افغانستان بانک خبر کړي او:

- ډاډ ترلاسه کړي چې د ATS سیستم ته نور اداینیز هدایتونه نه لیږل کیږي، او
- د افغانستان بانک ته د خپلو هغو اقداماتو په اړه خبر ورکړي چې غواړي ډاډ ترلاسه کړي چې د ادواینیزو هدایتونو د صادرولو لپاره صلاحیت او توانایي لري.

**څلور پنځوسمه ماده:**

د مخنیوی کوونکو پیښو په صورت کې دخیله مشترک باید ژر تر ژره د افغانستان بانک خبر کړي او د لاندینیو کارونو لپاره تر امکان بریده هر څه ترسره کړي:

(۱) د افغانستان بانک سره یوځای د بی نظمیو پیژندل (تشخیصول)؛

- په اړوند لاربنوود کې د مشخص شویو عملیاتو ترسره کول څو د افغانستان بانک سره د هغه ستونزې په حلولو کې مرسته وکړي چې د ATS سیستم ته زیان رسوي او د ستونزې د هوارېدو سره سم بیرته عادي حالت ته راوګرځي؛

(۲) په هغه صورت کې د ستونزې حلول چې د هغه لپاره دا کار د هغه د صلاحیتونو په چوکاټ کې امکان ولري او د برابر شویو Fallback منابعو څخه ګټه اخیستل، که چیرې اړتیا وي؛

- د ستونزې د هوارېدو او د سیستم د بیرته عادي فعالیت په صورت کې د افغانستان بانک ته خبر ورکول؛
- هر مشترک د خپلو کاروونکو (Users) د هر ډول کړنې په وړاندې بشپړ مسئوولیت لري.

# نهم فصل

## خالصه تصفيه او تضمينونه

**پنځه پنځوسمه ماده:**

د خالصی تصفيي هدايتونه د هغو تسويه کوونکو ادارو له لوري توليديږي چې د افغانستان بانک له لوري منظور شوی وي او د اړوندو تسويه کوونکو ادارو د ATS سيستم پورې تړلو مشترکينو لخوا د ساتل شوي اديني او تصفيي حسابونو له لارې تصفيه کيږي. د خالصی تصفيي هدايتونه د ټول يا هيڅ څو برخو لرونکو all or none معاملو په توګه تصفيه کيږي چې ټول ډېبټونه يې په عين وخت کې د ټولو کريډيټونو سره تصفيه کيږي.

**شپږ پنځوسمه ماده:**

هر مشترک مسئووليت لري چې ځان ډاډمن کړي چې د اديني او تصفيي او د ATS سيستم په زيرمو کې کافي پانګه (Funds) شتون لري څو د ATS سيستم له لوري د ترلاسه کيدو سره سم د خالصی تصفيي هدايتونه تصفيه شي.

**اووه پنځوسمه ماده:**

(۱) د خالصی تصفيي د هدايتونو د تصفيه کولو په برخه کې مشترکين کولای شي چې د ATS په سيستم کې د زيرمو په بڼه تضمين Collateral جوړ کړي يا د حکومتي بيه لرونکو پاڼو باندې تضمين وکړي څو د دغو اصولو د اووم فصل د يوه ورځني کريډېټ حد اقل بيلانس د حکمونو له مخې د خپل ډېبټ وضعيت جبران کړي يا تر پوښښ لاندې راوړي؛

(۲) د تضمين شويو بيه لرونکو پاڼو ارزښت د ATS سيستم په ILF حسابونو کې ساتل شوی دی؛

(۳) د تسويه کوونکي ادارې زيرمې د هر تسويه کوونکي ادارې د تصفيي له پلوه د ATS سيستم د زيرمې په حسابونو کې په جلا ډول ساتل شوي دي؛

(۴) همدا چې د خالصی تصفيي هدايتونه د ATS سيستم ته وليږل شي، پانګه (Funds) په اتومات ډول د مشترکينو د اديني او تصفيي په حسابونو کې چې د تصفيي لپاره د خالصی تصفيي د هدايتونو د منل کيدو سره سم د خالص وضعيت د بيرني تصفيي په موخه د ډېبټ لپاره يو خالص وضعيت لري، بلاک کيږي؛

(۵) که چيرې د اديني او تصفيي په حساب، اړوندې زيرمې (که موجودی وي) او هر ILF چې د ډېبټ وضعيت لرونکو مشترکينو لپاره د لاسرسي وړ وي، پانګه (Funds) شتون ونلري نو د خالصی تصفيي هدايتونه تر هغه وخته پورې په کتار کې واقع کيږي چې کافي پانګه (Funds راپيدا شي؛

(۶) هر ډول شته پانګه (Funds) بايد د راپيدا کيدو سره سم په اتومات ډول اړوندې زيرمې ته وليږدول شي؛

(۷) د افغانستان بانک کولای شي چې يوه ځانګړې زيرمه ترتيب کړي څو د اديني او تصفيي حساب څخه مخکې د تصفيي لپاره وکارول شي او وروسته يې پاتې ډېبټ شوی مبلغ (چې په زيرمه کې موجود نه وي) د اديني او تصفيي حساب باندې تطبيق کيږي؛

(۸) که چيرې تصفيه ژر تر ژره ترسره نه شي، تسويه کوونکي اداره بايد خبره شي او دا د ادارې مسئووليت دی چې مشترک خبر کړي څو د اړينه پوښښ لپاره چمتووالی ونيسي؛

(۹) هغه ډله ييزی ( Bulk) معاملې چې د يوه مشترک لخوا د ATS سيستم ته ليږل شوي هم د دې لامل کيږي چې د ATS په حسابونو کې د تصفيي لپاره د خالصی تصفيي هدايتونه وړاندې شي؛

(۱۰) دا تصفيي همدا ډول د زيرمو او د تضمين شويو بيه لرونکو پاڼو له لارې حمايت کيږي.

**اته پنځوسمه ماده:**

**امنيتي کړنلارې**

هر مشترک او د افغانستان بانک مني چې خدمتونه د مکالماتي ميتودونو په مرسته چې په دغو اصولو کې توضيح شوي، برابريږي:

- الکترونيکي اړيکي (مکالمات) د اړيکو او د معلوماتو د امنيتي ميتودونو چې په دغو اصولو کې توضيح شوي، تابع دي؛
- مشترکين مني چې د پلي کيدو وړ کړنلارو او ميتودونو سره چې په دغو اصولو کې مشخص شوي، مطابقت کوي؛
- د افغانستان بانک اړ نه دی چې هدايتونه تعقيب کړي، مګر دا چې د دغو کړنلارو له مخې ليږدول شوې وي.

**نهه پنځوسمه ماده:**

امنيتي کړنلارې، امنيتي وسايل، کوډونه، پاسورډونه او د لاسرسي لپاره نور ميتودونه په شديده توګه محرم دي او مشترکين دا مني چې دا ميتودونه په نهايت پام سره کاروي او ترې ساتنه کوي او د افغانستان بانک ته په هغه صورت کې په بيړه خبر ورکوي چې دا کشف کړي يا د شک لپاره دليل ولري چې يو له پورتنيو مواردو باندې معامله کيږي.

**شپيتمه ماده:**

(۱) د افغانستان بانک د يوه مشترک لخوا د هر ډول خطاګانو يا دوه ځلي (تکراري) هدايتونو د کشفولو مسئوليت نه لري.

(۲) مشترک هوکړه کوي چې د هغه الکترونيکي اداييني له دستور سره چې د کړنلارو سره سم د هغوی په نوم اجراء کيږي، پابنده پاتې کيږي او هغه تصفيه کوي.

**يو شپيتمه ماده:**

مشترک بايد کافي داخلي امنيتي کړنلارې طرحه او حفظ کړي او له ټولو هغو امنيتي کړنلارو سره چې په موادو (Materials) کې تجويز شوي، مطابقت وکړي څو د خدمتونو له غير مجاز کارونې څخه مخنيوی وشي.

**دوه شپيتمه ماده:**

يو مشترک همدا رنګه هوکړه کوي چې که چيرې د افغانستان بانک د يوه با صلاحيته شخص د غوښتنې سره سم د يوه هدايت د منلو لپاره عمل وکړي چې پرته له منل شوي کړنلارې (ځانګړي دستور) څخه د هر دليل له امله تعقيب شوی وي، نو مشترک د ورته ځانګړي دستور سره پابنده پاتې کيږي او د همدې ځانګړي دستور د اجراء کولو له امله د افغانستان بانک ته هر ډول غرامت ورکوي او دا بانک له هر ډول خسارې، مسئووليت، دعوا يا لګښت (د قانوني لګښتونو په ګډون) څخه خوندي ساتي.

**درې شپيتمه ماده:**

(۱) که چيرې هغه پوست کالي Software او/يا Hardware سخت کالي چې د افغانستان بانک لخوا يو مشترک ته برابر شوی د امنيت اړوند مشخصات سره يو ټوټه کوي (د هويت او پاسورډونو او نورو تدابيرو په ګډون)، نو يوازې مشترک بايد د دا شان مشخصاتو د کارولو په وړاندې مسئوول وګڼل شي.

(۲) د افغانستان بانک بايد دا حق ولري چې د ورته پوست کالي Software او/يا Hardware سخت کالي څخه استفاده يوازې هغو با صلاحيته اشخاصو ته ورکړي چې د ورته اسانتياوو ته لاسرسی لري.

**څلور شپېتمه ماده:**

(۱) مشترکین باید د پلي کېدو وړ کړنلارو سره مطابقت وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د هغوی په داخلي سیستمونو کې ادااینیز جریانونه د هر ډول داخلي یا بهرني ګواښ په وړاندې په کافي اندازه خوندي شوي دي. محرمیت او د معلوماتو بشپړتیا باید خوندي وساتل شي. هغوی باید د ATS سیستم د اداینې ستیشن له لارې یا د ترلي وب براوزر د اسانتیاوو پرته مرکزي سیستم ته له لاسرسي څخه ډډه وکړي.

**پنځه شپېتمه ماده:**

(۱) مشترک همدا رنګه اجازه ورکوي چې د مشترک اړوند هر ډول معلومات د افغانستان بانک د نمایندګیو، ترلو څانګو او او استازو ته یا ترمنځ او هغو دریمو اشخاصو ته چې د دوی لخوا ټاکل شوې وي (هر چیرته چې واقع وي) مشترکینو ته د خدمتونو د برابرولو په تړاو د محرمې او پټې کارونې لپاره (د معلوماتو د طی مراحلو په ګډون) ولیږدوي او د دې پخلی کوي چې هره نمایندګي، ترلې څانګه، استازی او دریم شخص باید دا واک او اجازه ولري چې هر ورته معلومات چې د کوم قانون، محکمې، قانوني پروسې یا د هر مقام لخوا غوښتل شوی وي، ولیږدوي.

**شپږ شپېتمه ماده:**

(۱) مشترکین باید د معلوماتي تکنالوژۍ د اجزاوو لپاره چې د SWIFT او VPN په تړاو اړین دي، د لاسه تللو معلوماتو د بیرته ترلاسه کولو تجهیزات ولګوي. د دې ترڅنګ مشترکین باید د سیستم له لارې د تبادله شویو معلوماتو د شاتر Back up لپاره کافي کړنلارې رسمي کړي او په مسئوولانه ډول اجراء کړي.

**اووه شپېتمه ماده:**

(۱) هر مشترک باید د خپلو کارکوونکو ترمنځ د مشترکینو دوه امنیتي مدیران (Participant Security Administrators) تعیین کړي چې مسئوولیت یې د یوزرونو (Users) جوړول، د User د پروفایلونو تعدیلول، له سیستم څخه د User لرې کول، د الکترونیکي ټوکن او د تصدیق لیک د صادرولو او وروستي کاروونکو ته د هغه د لیږد مدیریت په تړاو د افغانستان بانک سره د اړیکو مسئوولیت لري.

**اته شپېتمه ماده:**

(۱) مشترکین دا مني چې امنیتي کړنلارې چې د افغانستان بانک لخوا برابر شوي، د اړیکو د سرچینې د تثبیتولو لپاره طرحه شوي او په لیږد یا محتوا کې د خطاګانو د تشخیصولو لپاره طرحه شوي نه دي.

# لسم فصل

## د خطاګانو کنټرولول، فیسونه او لګښتونه

**نهه شپیتمه ماده:**

په هغه صورت کي چي یو مشترک د یوې ورځي پرمهال د یو ساعت څخه زیات وخت لپاره د ATS سیستم له لارې د اداینو د صادرولو یا ترلاسه کولو په وخت کي د تخنیکي ستونزې سره مخ شي، دا مشترک باید ژر تر ژره د افغانستان بانک خبر کړي.

**اویایمه ماده:**

د ورځي پرمهال د ۳۰ دقیقو څخه زیات وخت او د ورځي په پای کي د ۳۰ دقیقو څخه د زیات وخت لپاره د اداینو د تصفیې پرمهال د سیستم د تخنیکی ستونزې په صورت کي د افغانستان بانک باید مشترکین باخبره کړي.

**یو اویایمه ماده:**

که چیرې یو مشترک تر څنګ یوه تخنیکي یا بله ستونزه راپیښه شي، مشترک دافغانستان بانک ته هدایت ورکوي چي د هغه حساب وځنډول شي:

- د حساب ځنډول د مشترکینو لخوا لیکلي تائیدي ته اړتیا لري، او
- د دا شان ځنډ د بیرته رفع کولو لپاره د مشترک او د افغانستان بانک لیکلي تائیدي ته اړتیا لري.

**دوه اویایمه ماده:**

په سیستم کي د معلوماتو مبادله د سویفټ د ازاد فارمټ شوي اړوند ډول پیغامونو، خوندي بریښنالیک پتو، فکسونو (Faxes) یا تلیفونونو له لارې کنټرولیږي. د تائیدی لپاره تصدیق شوي فکسونه غوښتل کیږي.

**درې اویایمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کي چي د VPN سره د مشترک د ATS سیستم کاري ساحي اړیکه پرې شي، مشترک باید په معقوله موده کي د خپل Fallback line له لارې نوې اړیکه رامنځ ته کړي.

(۲) که چیرې مشترک لاهم د دې جوګه نه وي چي سیستم ته پیغامونه ولیږيي ، دا مشترک باید د افغانستان بانک سره په لیکلي ډول اړیکه ټینګه کړي څو دافغانستان بانک ته هدایت ورکړي چي په خپل استازیتوب د مشترک (Participant Transfers د لیږدونو(له لارې تر ټولو مهمي ادایني اجراء کړي.

**څلور اویایمه ماده:**

د ټولو یا د زیات شمیر مشترکینو لپاره د VPN له لارې مرکزي سیستم ته په لاسرسی کي ناتواني د اداینو د مبادلي او تصفیې څخه مخنیوی کوي:

- دا شان وضعیت یوازې په هغه وخت کي واقع شوی ګڼل کیږي چي د افغانستان بانک ټولو مشترکینو ته خبرتیا ورکړي چي پیښه یا وضعیت رامنځ ته شوی دی؛
- د افغانستان بانک کولای شي چي د مشترکینو په استازیتوب د مشترک د لیږدونو په نوم مهم هدایتونه په سیستم کي وارد کړي او د مشترکینو لپاره به د افغانستان بانک په ساحه کي د لاسرسی ځای (Access Point) موجود وي څو د System Gateway او د افغانستان بانک د داخلي ساحي شبکي (LAN) له لارو د ATS سیستم ته په مستقیم ډول معاملي واردې کړي.

**پنځه اویایمه ماده:**

**فیسونه او د لګښت وضع کول**

(۱) مشترکین دا تائیدوي چې د افغانستان بانک حق لري چې فیسونه او نور لګښتونه چې وخت په وخت مشترکینو ته ابلاغ کیږي، تعیین کړي.

(۲) د ATS سیستم د مشترک د کاروني پر اساس فیسونه محاسبه کوي او دا فیسونه د مشترکینو د اداینې او تصفیې له حسابونو څخه وضع کوي. له دې سربیره، د افغانستان بانک د دغو اصولو د سرغړولو په وړاندې چې په دغو اصولو کې بیان شوی، جریمې وضع کوي.

(۳) لګښت د هرې تقویمي میاشتې په پای کې وضع کیږي او مشترک له همدې مخې د افغانستان بانک ته صلاحیت ورکوي چې د مشترک د فیسونو او جریمو د تصفیې لپاره د لیږدونو حساب اجراء کړي.

(۴) د ATS سیستم مشترکینو ته منظم صورت حسابونه وړاندې کوي چې د ټولو لګښتونو او جریمو توضیحات پکې درج شوی وي.

**شپږ اویایمه ماده:**

(۱) د افغانستان بانک هوکړه کوي چې د ATS سیستم د ورته خدمتونو په مرسته ټولو مشترکینو باندې همدا فیسونه تطبیقوي.

(۲) د افغانستان بانک په دوره اي توګه له فیسونو او لګښتونو څخه کتنه کوي.

(۳) د افغانستان بانک حق لري چې مشترکینو باندې د هر بل وړاندې شویو خدمتونو په بدل کې لګښت وضع کړي.

| د میاشتې پر اساس د RTGS د حجم مبادله | د سویفت د مشترک لخوا لږه اندازه | | د افغانستان بانک د اداري په مرسته (که د تطبیق وړ وي) د سویفت د هر مشترک فیسونه | |
|---|---|---|---|---|
| | د ۱۳ GMT څخه مخکې | د ۱۳ GMT څخه وروسته | د ۱۳ GMT څخه مخکې | وروسته |
| | | | | |

# يوولسم فصل

# طلبات، د خسارې جبران او احتمالي پيښې

**اووه اويايمه ماده:**

(۱) د افغانستان بانک د پاتې راتګ يا د کم کارۍ په صورت کې بايد د مقابلو خواوو سره د لاسليک شويو تړونونو سره سم دعوا وکړي. دا مبلغونه د مستقيم مالي خسارې لپاره په تناسب سره مشترکينو ته ورکول کيږي.

(۲) هر ډول خساره چې د يوه مشترک د درغليز ليږد له امله راپيښه شوې وي، بايد د همدغې مشترک له لوري جبران شي.

**اته اويايمه ماده:**

که چيرې يو ليږوونکی مشترک له يوه ترلاسه کوونکي مشترک څخه غوښتنه وکړي چې د اداينې په دستور کې د ليږوونکي لخوا د خطاء له امله د يوه ادواينيز هدايت مبلغ بيرته وګرځوي (لکه تکراري پيغام، ناسم هدايت شوي اداينې، ناسم مبلغ او داسې نور) او ترلاسه کوونکی مشترک ادواينيز هدايت بيرته ليږوونکي مشترک ته راوګرځوي.

**نهه اويايمه ماده:**

هر ډول ادواينيز سفارش يا دستور چې د ترلاسه کوونکي مشترک لخوا بيرته ګرځول شوی وي، سره له دې چې ادواينه په همدې يا بله کاري ورځ باندې ليږل شوی هم وي، ورباندې اداري فيس وضع کيږي. دا اداري فيس د بل هر هغه خسارې د جبران په اضافه وضع کيږي چې ترلاسه کوونکی مشترک د راتلونکي پاراګراف له مخې د هغه مستحق دی.

**اتيايمه ماده:**

که چيرې يو ترلاسه کوونکی مشترک د ادواينيز هدايت مبلغ د اداينې د اصلي پيغام د رسيد د ترلاسه کولو ورځې پرته په بلې هرې کاري ورځې باندې بيرته راوګرځوي، ليږوونکی مشترک د ترلاسه کوونکي مشترک څخه د شرايطو له مخې او هغه مبلغ چې د دغو اصولو د اتم فصل د اشتباهي ادواينيز دستورونو پورې تړلي حکمونو کې د مشخص مبلغ په اندازه د جبران غوښتنه کوي.

**يواتيايمه ماده:**

**احتمالي پيښه**

هر مشترک د ATS سيستم د پيښو څخه د بيرته راستنيدو پلان او د کاروونکي د لارښودونو د مندرجو شرايطو سره سم دلاسه تللو معلوماتو د بيرته ترلاسه کولو اسانتياوو د ترتيب او تنظيم مسئووليت لري.

**دوه اتيايمه ماده:**

(۱) د احتياطي پيښې په وخت کې د افغانستان بانک بايد حق ولري چې په خپل بشپړ واک سره د تسويه کوونکو (کليرنګ) ادارو په ګډون مشترکينو سره ځانګړي مصالحې/هوکړې ترسره کړي او د همدې له مخې له مشترکينو څخه اړينې معاملې او نور معلومات وغواړي.

(۲) د يوې احتياطي پيښې د وضعيت د مصالحو په پايله کې له مشترکينو څخه غوښتل کيږي چې ځانګړي معاملې ترسره کړي څو ځان ډاډمن کړي چې ټول سيستمونه په سمه توګه همغږه شوي دي. دا معاملې بايد د همغې ورځې د پای څخه مخکې ترسره شي.

**درې اتیایمه ماده:**

(۱) د افغانستان بانک باید په خپل بشپړ واک سره دا حق ولري چې د هر مشترک هر ډول کتار*Queued*  شوي معاملي لومړیتوب  *priority* ته بدلون ورکړي څو د ATS سیستم له لارې د  پانګې  (Funds)  بهیر اسانه کړي.

(۲) د افغانستان بانک په هر هغه وخت کې چې دا شان عملیه ترسره  کیږي، مشترک ته خبر ورکوي.

# دوولسم فصل

# مصالحه(میانجیگری او حکمیت

**څلور اتیایمه ماده:**

(۱) د افغانستان بانک او مشترکین باید په افغانستان کې د مرستي او د دوام په موخه د سندونو د ساتني او ارشیف کولو په تړاو په هیواد کی نافذه مقررو سره مطابقت وکړي.

(۲) معاملې او د محاسبې معلومات باید د افغانستان د اړوندو تقنینی سندونو سره سم د یوې مودې لپاره ذخیره شي. د ATS په سیستم کې د تیرو درېو کلونو ټولې معاملې او معلوماتو د لاسرسی وړ دي.

(۳) په دې سیستم کې د ډله بیز (Bulk) لیږد د مشخصو حدودو له امله د معاملو په اړه او د مشکوکو خواوو ترمنځ د معاملو په اړه د راپور ورکولو اسانتیا شامله ده. په عمده ډول دا د هر مشترک مسئوولیت دی چې د افغانستان د پیسو د تطهیر سره د مبارزې د راپور ورکولو شرایطو سره ځان عیار کړي.

(۴) د افغانستان بانک حق لري چې مشترکینو ته د سیستم د تنظیم او د مشترکینو د دندو په اړه بشپړوونکي هدایتونه ولیږي. دا بشپړوونکي هدایتونه د دغو اصولو د یوې برخې د جوړولو لپاره کتل کیږي.

**پنځه اتیایمه ماده:**

د افغانستان بانک د دغو قوانینو، هر ډول تړلو ضمیمو یا هر بل اضافي سندونو چې د ATS سیستم لپاره تخنیکي حکمونه او مشخصات رانغاړي، وخت په وخت د تعدیلولو مسوولیت لري:

(۱) دا تعدیلات او اضافي سندونه باید د افغانستان بانک لخوا پر ټاکل شوي نیټې باندې د دغو قوانینو یوه نه بیلیدونکې برخه وګرځي. دا نیټه باید د مشترکینو سره د خبرو اترو څخه مخکې و نه ټاکل شي.

(۲) د افغانستان بانک باید هر مشترک ته د تعدیلاتو د اجراء کیدو څخه لس ورځې مخکې خبرتیا ورکړي.

(۳) دا شان بدلونونه باید په هغه صورت کې هر مشترک ته ابلاغ شوی وګڼل شي چې د معلوماتو په هغه ګډ سیستم کې چې مشترکین ورته لاسرسی لري، نشر شي.

(۴) پرته له هغه حالت څخه چې یو مشترک د دغو د دویم فصل له مخې د لیکلي خبرتیا له لارې د تعدیلاتو د پلې کیدو څخه مخکې استعفاء ورکړي، دا تعدیلات د ټولو اړوندو مشترکینو لخوا منل شوې ګڼل. کیږي.

**شپږ اتیایمه ماده:**

تر هغه اندازه پورې د دغو اصولو او مقرراتو سره د مطابقت نه درلودل مسئوولیت نه لري چې د دغو اصولو او مقرراتو له مخې د مکلفیتونو د اجراء کولو توانایي نه وي یا دا چې دا مکلفیتونه د هردلیل یا له کنټروله وتلي عامل له کبله د هرې پیښي په صورت کې لکه د تجهیزاتو خرابیدل یا کم کاري، طبیعي پیښې، اعتصابونه، کاري شخړې یا جګړې له امله ځنډول کیږي؛

(۱) که چیرې د افغانستان بانک د یوه کنټروله وتلي پیښي له امله د دغو اصولو او قواعدو سره سم د خپلو مکلفیتونو په اجراء کې له ځنډ یا ځنډ سره مخ شي، د افغانستان بانک مکلفیتونه په داسي شرایطو کې تر هغه وخته پورې ځنډول کیږي چې دا وضعیت دوام ولري.

(۲) پورتنی حکم باید د خارق العاده پیښې په صورت کې هم د خطا/ستونزې د کنټرولولو کړنلارو او نورو تخنیکي عملیاتي تدابیرو چې د دغو اصولو په یوولسم فصل کې بیان شوي، مسئوولیت اغیزمن نه کړي او ټولو هڅو څخه کار واخلي څو د پیښې د دوام په حالت کې یې ناوړه اغیزې راکمې کړي.

**اووه اتیایمه ماده:**

**مصالحه او حکمیت**

(۱) د عملیاتي خطاء یا د مشترکینو ترمنځ د شخړې په صورت کې اړوند مشترکین باید خپل منځ کې کښېني څو دوستانه حل لاره ومومي او د هغه لپاره ټول اړین تدابیر ترسره کړي.

(۲) که چیرې مشترکین د ورته دوستانه حل لارې موندلو باندې هوکړه ونکړي، هر اړوند مشترک باید د افغانستان بانک څخه په لیکلي ډول لس تقویمي ورځې وروسته له پیښې یا شخړې دحل لپاره غوښتنه وکړي چې یوه مصالحتي کړنلاره پیل کړي څو د ستونزې یا شخړې یا د هغه د عواقبو او زیانونو په اړه یوه حل لاره ومومي.

(۳) اړوند مشترکین باید د افغانستان بانک سره د ټولو اړینو معلوماتو او سندونو په تړاو خبرې اترې وکړي.

**اته اتیایمه ماده:**

هر مشترک او د افغانستان بانک هوکړه کوي چې د دغو اصولو د شرح یا تطبیق په تړاو هر ډول شخړه او لانجه چې مشترکین د حل لارې پر موندلو بریالي شوي نه دي، د ۴۵ ورځو دننه د یوې مصلحتي کړنلارې له لارې د حکمیت (داورۍ) یو مناسب ارګان ته راجع کوي؛

(۱) هر هغه خوا چې غواړي د حکمیت له دغې کړنلارې څخه کار واخلي، باید د رسمي لیک له لارې بلې خوا ته خبر ورکړي. دواړه خواوې د خپلې خوښې منځګړو ټاکلو لپاره ازاد دي؛

(۲) د حکمیت ارګان د حکمیت پروسې د ترسره کولو په تړاو دواړو خواوو ته میعاد ټاکي او د دې ترڅنګ د حکمیت د ګټونکي خوا د اعلانولو په ګډون د دغې میعاد د غځولو په اړه تصمیم هم نیسي؛

(۳) یوازې په افغانستان کې د ترسره کیدونکي حکمیت په تړاو ټولې ځانګړي شوي اجراآت باید د افغانستان د محاکمو په حضور کې ترسره شي.

**نهه اتیایمه ماده:**

**د افلاس پیښې**

یو مشترک باید د لاندینیو موضوعاتو په اړه د خبرېدو سره سم د افغانستان بانک ته خبر ورکړي:

(۱) د خپل ځان په تړاو د هر ډول افلاس او د هر بل مشترک د افلاس او ورشکستګۍ په اړه د شک لپاره د معقولو دلیلونو موندل؛

(۲) د مفلس مشترک له لوري د خبرتیا د ترلاسه کولو وروسته، د افغانستان بانک په بیړه نورو مشترکینو ته خبر ورکوي؛

(۳) د بلې خوا څخه د خبرتیا د ترلاسه کولو سره سم د افغانستان بانک د راپوروړکړل شوي افلاس پیښې په اړه له اړوند مشترك څخه داسې پوښتنې او پلټنې پیلوي چې ایا د افغانستان بانک پرته د کومې بلې ادارې له خوا په احتیاط سره څارل کیږي؛

(۴) تر هغه بریده چې د افلاس پیښه د اړوند مشترک له لوري منل شوې وي او دا د واقعیت په اړه د افغانستان بانک سره خبرې شوې وي، د افغانستان بانک باید ژر تر ژره نور ټول مشترکین باخبره کړي؛

(۵) د دریم فصل حکمونه (د مشترکینو ځنډول او فسخ کول) د دې بهیر په پایله کې تطبیق کیږي.

**نوی یمه ماده:**

(۱) له دې واقعيت څخه خبرېدو سره سم چې مشترک د پورتنی مادې د حکمونو له مخې د افلاس پيښه تائيده کړې ده، د افغانستان بانک لاندينې ترتيبات تر لاس لاندې نيسي:

(۲) هغه ادا‌ينيز هدايتونه چې د يوه مفلس مشترک لخوا د افلاس پيښې تر راپور ورکولو يا منلو وروسته ليږل شوی دی؛

- هغه مشترکين چې د يوه افلاس پيښې تر پېښېدو وروسته لاهم د افغانستان بانک سره حساب لري، د افغانستان بانک له دې ډاډمن کېدو لپاره ټول معقول اقدامات ترسره کوي چې د ټاکل شوي امانت لرونکی شخص د خوښې پرته د مفلس مشترک لخوا د تصفيې لپاره د ATS سيستم ته هيڅ نور ادا‌ينيز هدايتونه نه ليږل کيږي پرته له معينو *Net settulement* خالص تصفيوی هدايتونو د معاملو څخه چې د دې مادې د ځلورمې فرعي برخې کې توضيح شوی دی؛
- ځنډول شوی يا بی برخې شوی مشترک د هغو مکلفيتونو پورې پابند پاتې کيږي چې د ATS په سيستم کې د ګډون له امله په مستقيم يا غير مستقيم ورباندې وضع کيږي.

(۳) د ټولو هغو ادا‌ينيز هدايتونو په برخه کې چې د يوه مفلس مشترک لخوا ليږل شوې دي او له مخکې څخه د ATS سيستم له لورې له تخنيکي پلوه منل شوی وي خو د دغو اصولو او مقرراتو د شپږم فصل سره سم د ATS سيستم له لورې د افلاس پيښې د خبرېدو په وخت د ادا‌ينې د تخنيکي منل کيدنې د تعريف له مخې د ATS سيستم لخوا د تصفيې لپاره لا منل شوی نه وي، د افغانستان بانک ټول معقول تدابير تر لاس لاندې نيسي څو د ATS په سيستم کې د هغوی له دننه کيدو څخه مخنيوی وکړي يا هغه لغو کړي، پرته له هغه څرګندی *Net settulement* خالصی تصفيې د هدايتونو د معاملې څخه چې د دې مادې په ځلورمې فرعي برخې کې توضيح شوی دی.

(۴) د هغو ادا‌ينيزو هدايتونو په برخه کې چې د يوه مفلس مشترک لخوا ليږل شوې وي او د افلاس پيښې په اړه د ATS سيستم د خبرېدو په وخت د دې سيستم له لورې د تصفيې لپاره منل شوی وي، مشترکين په څرګند ډول دا مني چې د ادا‌ينيزو هدايتونو د طی مراحل هغه کړنلاره چې د دغو اصولو په ۴، ۵ او ۶ فصلونو کې بيان شوی، د افلاس پيښې سره سره لاهم تطبيق کيږي. دا څرګندوي چې د نورو مواردو له ډلې د ادا‌ينې هدايتونه چې د افلاس پيښې تر اعلانولو مخکې د ATS سيستم له لورې د تصفيې لپاره منل شوی، نهايي دی.

(۵) د خالصی تصفيې *Net settulement* د هغو هدايتونو د معاملو د تصفيې لپاره چې د ادا‌ينې سيستم د ملي اعلاميې (National Payment System Proclamation) په حدودو کې د مندرجو سيستمونو په توګه ټاکل کيږي، لاندينې موارد په پام کې ونيول شي:

- ټول هغه ادا‌ينيز هدايتونه چې د يوه مفلس مشترک له لورې ليږل شوي او د افلاس پيښې په وخت د دغو اصولو د (X) برخې سره سم د ATS سيستم له لورې د تصفيې لپاره لا منل شوی نه وي، د افغانستان بانک لخوا رد يا لغو کيږي پرته له هغې حالت څخه چې د خالصی تصفيې*Net settulement* د هدايتونو معاملې د مفلس مشترک هغه ادا‌ينيز هدايتونه ونغاړي چې د DNS له لورې د تصفيې لپاره منل شوی وي او د ادا‌ينې سيستم د ملي اعلاميې په حدودو کې د مندرجو سيستمونو په توګه ټاکل شوی وي چې د افلاس د اقداماتو يا بيا ځلي تنظيم چارو د پيل په اړه تصميم څخه مخکې يا په همغه کارې ورځ باندې خو د تصميم نيولو څخه مخکې ترسره شي.
- د افغانستان بانک بايد په بشپړ واک سره دا حق ولري چې په دغو اصولو کې استثناګانې وضع کړي؛
- مشترکين همدا ډول په ښکاره ډول مني چې د افلاس په وخت کې د تصفيې خطرونو د محدودولو لپاره چې د خالصی تصفيې *Net settulement* په سيستمونو کې رامنځ ته کيږي، د افغانستان بانک په خپل بشپړ واک سره د د کتار شوي خالصی تصفيې *Net settulement* د هدايتونو د طی مراحلو ترتيب په داسې بڼه بدلوي چې تر امکان بريده د هغه د عملياتو له خطر څخه مخنيوی وشي. د همدې دليل لپاره او د همدې موخې په پام کې نيولو

سره د افغانستان بانک د حقیقي کریډټ خطر څخه د مخکیني دفتري مقام په وسیله په حساب کې د شته پانګی (Funds) سره د بیلانسو کار پیلوي (د شته بیه لرونکو پاڼو په مبلغ سره) چې د افغانستان بانک لخوا مشترک ته ورکړل شوي دي؛
- عملي کول یا د دې امکان پرته د افغانستان بانک په وړاندې د اړوند مشترک یا د بل هر مشترک په وړاندې هر ډول پوراینې ونه نغاړي.

(۶) د افلاس په شرایطو کې د ډله ییزو ( Bulk)معاملو د تصفیې لپاره:

- د کریډټ ډله ییز (Bulk) لیږدوني چې له تخنیکي پلوه منل شوی خو د خالصید تصفیې *Net settulement* اړوند هدایتونه یې د تصفیې لپاره د افلاس پیښې د اعلانیدو په وخت منل شوی نه وي (لکه کتار شوي یا لاهم د جوړېدو په حال کې وي)، د افغانستان بانک لخوا له تخنیکي پلوه تر امکان بریده لغو کیږي؛
- ډله ییز(Bulk Direct Debits) مستقیم ډبېټونه چې د ارزښت پر نیټې باندې یې د تصفیې په انتظار دي، هم لغو کیږي، له کومه چې دا ډبېټونه د مفلس مشترک ته د پانګی (Funds) د بهیدنې لامل کیږي چې د اداري هوکړو/موافقتونو له مخې مناسبه نه دی؛
- د افغانستان بانک په خپل بشپړ واک سره دا حق لري چې د دې پالیسی اصولو او قواعدو لپاره استثناګاني وضع کړي.

**یو نوی یمه ماده:**

د اداینې سیستم د ملي اعلامیې له مخې څومره ژر چې د یوه مشترک په وړاندې د افلاس له امله د اقداماتو د پیلولو په اړه تصمیم ونیول شي، د افغانستان بانک باید د پیښې په اړه باخبره شي.

**دوه نوی یمه ماده:**

که چیرې د افلاس د اقداماتو د پیل په اړه تصمیم نیول پر کاري ورځ باندې پیښ شي، د هغه د رسید د ترلاسه کولو وخت څخه لاندیني ترتیبات تر لاس لاندې نیول کیږي:

(۱) د افلاس اقداماتو د پیل په اړه د تصمیم څخه تر خبریدو وروسته د مفلس مشترک لخوا لیږل شوي ادایني هدایتونه د بلاک لست کې د هغه پر ورګډولو سره د ATS سیستم ته د هغه له ننوتو څخه مخنیوی کوي، چې لامل کیږي د تصفیې لپاره منل شوی مشترک مالي وضعیت تصفیه شي او بیا تر هغه بریده پورې هغه په غیر فعال وضعیت کې تنظیمیږي چې د خالصی تصفیې *Net settlement* د څرګندو هدایتونو د معاملو پرته دغو اصولو د مخکینی مادې له مخې لا ترسره شوی نه وي.

(۲) ادایني هدایتونه (انفرادي او ډله ییزه) چې د یوه مفلس مشترک له لوري لیږل شوي او له تخنیکي پلوه منل شوی خو د مفلس مشترک د افلاس په تړاو اقداماتو د پیل په اړه تصمیم نیولو د خبرتیا په وخت کې د تصفیې لپاره لا منل شوی نه وي، رد کیږي (پرته د ځینو څرګندو خالصی تصفیې *Net settulement* هدایتونو د معاملو څخه).

(۳) ادایني هدایتونه چې د یوه مفلس مشترک لخوا لیږل شوی وي او د مفلس مشترک د افلاس په تړاو د اقداماتو د پیل د تصمیم نیولو خبرتیا په وخت کې د ATS سیستم له لوري د تصفیی لپاره منل شوی وي، نهایي ګڼل کیږي او د ATS سیستم لخوا تصفیه کیږي.

(۴) د خالصی تصفیې *Net settulement* هدایتونه چې د DNS له لوري د تصفیې لپاره منل شوي ادایني هدایتونه راتغاړي او د افغانستان بانک له لوري د اداینې سیستم د ملي اعلامیې په حدودو کې د مندرجو سیستمونو په توګه ځانګړی شوی وي او په بشپړه توګه تضمین شوی وي چې د افلاس په تړاو د تدابیرو یا بیا ځلې تنظیم چارو د پیل په اړه تصمیم نیولو کاري ورځې دمخه یا پرمهال خو د پیل په اړه د تصمیم نیولو څخه مخکې چې د ATS سیستم د اړوند تدابیرو په اړه د تصمیم نیولو څخه د سیستم خبرېدو په ورځ باندې لیږل شوی وي، تصفیه کیږي.

**درې نوی یمه ماده:**

که چیرې د مفلس مشترک د افلاس په تړاو تدابیرو د پیل په اړه تصمیم یا امر د ورځې په پای خو د بلې کاري ورځې په پیل کې پیښ شي، د افغانستان بانک د بلې کاري ورځې د پیل څخه مخکې د ATS په سیستم کې اړین تعدیلات راولي چې لاندیني ټکي رانغاړي:

- د ATS سیستم د لاسرسی پارامیټرونو داسې تنظیمول چې اړوند مشترک ونکړی شي چې ادائینز هدایتونه صادر یا ترلاسه کړي، په دې معنا چې مشترک *Statuse* په سیستم کې په بلاک یا غیر فعال (Block or Disabled) حالت کې واقع کیږي؛
- مشترکینو ته د بلې کاري ورځې د پیل څخه مخکې د افلاس پیښې په اړه خبر ورکول کیږي.

(۱) د یوه مفلس مشترک په وړاندې د افلاس په تړاو د تدابیرو پیلول باید د لاندینیو واردو څخه مخنیوی ونکړي:

- د تصفیې په حساب کې شته پانګه (Funds) یا د بیه لرونکو پاڼو په حساب کې د مشترک شته بیه لرونکې پاڼې باید د افلاس په اړه د تدابیرو د پیلولو په اړه د تصمیم په ورځې یا له هغه مخکې د ATS په سیستم کې د مشترک د مکلفیتونو د پرځای کولو په موخه د ګټې اخیستنې مانع نه شي؛
- د تصفیې په حساب یا د ATS سیستم په اړونده زیرمه کې بلاک شوې پانګه (Funds) او د مشترک د بیه لرونکو پاڼو په حساب کې بلاک شوې بیه لرونکې پاڼې چې د ATS سیستم په ګټه وي، باید د افلاس په اړه د تدابیرو د پیلولو په اړه د تصمیم په ورځې یا مخکې د ATS په سیستم کې د مشترک د مکلفیتونو د پرځای کولو په موخه د ګټې اخیستنې مانع نه شي.

# لومړۍ ضمیمه (1)

## د مشترکینو لست

| بانک | BIC |
|---|---|
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |

# دوه یمه ضمیمه (2)

## د مشترک د کاري ساحې لږ تر لږه شکل بندي

**یو شخصي کمپیوټر چې لاندینی  شکل یا قالب بندي ولري:**

لاندیني موارد د مشترکینو د کاري ساحې لپاره ځانګړني دي (په پروپوزل کې شامل نه دي) چې باید د مرکزي سیستم سره ونښلول شي.

د کاروونکي کاري ساحه

**کمپیوټر له لاندني لږ تر لږه شکل بندي سره:**

(۱) یو عدد dual core intel/AMD CPU 64 bit

(۲) ۴ جی بي RAM

(۳) ۳۰۰ جی بی HDD

(۴) ۲۲ یا ۲۷ انچ مانیټور

**نرم افزار**(Software)(۱) Java Runtime Environment 7.0 (اختیاری دی که چیرې په web interface کې ډیجیټلي لاسلیک اړین وي)

(۲) Safe Net Authentication Client (د SSL مشتري د تصدیق لپاره چې د سخت افزار  (Hardware)له ټوکنونو او ډیجیټلي لاسلیک څخه کار اخلي)

(۳) Adobe PDF Reader (د PDF راپورونو د لیدلو لپاره)

(۴) Internet Explorer, Firefox, Google Chrome (د نهایي نسخې څخه لږ تر لږه دوه نسخې  شاته هم اعتباري لري)

(۵) Safe Net e-Token $100 (چې د افغانستان بانک لخوا تخصیص  کیږي)

# دریمه ضمیمه (3)

# د مشترک د غوښتنې فورم/د مشترک هوکړه لیک

**صلاحیت**

مشترک همدا ډول د دې هوکړه لیک د کومې برخې د اجراء کیدو یا د هر خدمت د کارول یا وړاندې کیدو نیټې څخه خپل مسئوولیت پر غاړه او صلاحیت ترلاسه کوي:

(۱) مشترک په هره هغه ساحه کې چې قانون اړین ګڼي چې په سمه توګه تنظیم شي، په قانونی توګه موجود او په ښه وضعیت کې فعالیت کوي؛

**(۲)** مشترک دا صلاحیت او واک لري چې د هوکړه لیک له مخې خپل مکلفیتونه او مسئوولیتونه اجراء او وړاندې کړي؛

(۳) دا هوکړه لیک په سمه او مجازه توګه اجرا شوی او وړاندې کیږي او د تنفیذ وړ، قانوني، د اعتبار وړ او الزامي مکلفیتونه رانغاړي؛

(۴) ټول اړین رضایت لیکونه، اجازه لیکونه او هدایتونه هر دریم شخص ته یا له پلوه برابریږي چې د راپور ورکولو یا د هدایتونو، پانګی (Funds) او د دغو خدمتونو په تړاو د معلوماتو په ترلاسه کولو یا لیږلو کې دخیل وي؛

(۵) ټول اړین تصاویب، اجازه لیکونه او رضایت لیکونه ترلاسه شوي دي او ټوله اړینه دوسیه بندي یا رجستریشن ترسره شوی (او د اړتیا په صورت کې دا بهیر بیا خلي نوی کیږي) چې د هر حکومتي یا بل مقام له لوري د هوکړه لیک د اجراء په تړاو غوښتل کیږي؛ او

(۶) د هوکړه لیک اجراء کول او د خدمتونو رسول او کارول به هر ډول تطبیق وړ شرط، قانون، فرمان، مقرره، امر یا فیصله نقض نه کړي.

د افغانستان د مرکزي بانک د غوښتنې سره سم مشترک دا مني چې د افغانستان بانک ته د هر ډول رضایت لیکونو، هدایتونو او اجازه لیکونو کاپي ګاني چې د مشترک څخه د (iv) یا (v) برخو له مخې غوښتل کیږي، برابروي. مشترک دا هم مني چې د افغانستان بانک ته په هغه صورت کې په بیړه خبر ورکوي چې که د هر ډول شرایطو په اړه شک یا معلومات ترلاسه کړي چې د هر ډول بیان یا تضمین څخه د سرغړوني لامل شي.

**باصلاحیته اشخاص**

مشترک وخت په وخت او د اړتیا سره سم د دې هوکړه لیک د اجراء سره سم د خپلو واکمنو اشخاصو نومونه او لاسلیکونه وړاندې کوي څو معلوماتو ته لاسرسی ولري او د بانکي حسابونو، د پانګی (Funds د لیږد او د الکترونیکي وسایلو له لارې نورو مالي معاملو په تړاو هدایتونه وړاندې کړي او/یا د ورته معلوماتو ته د لاسرسی لپاره اشخاص مشخص کړي او د ورته صلاحیت (هر شخص یې باصلاحیته وي) په ترلاسه کولو سره د خدمتونو او محدودیتونو په تړاو د مشترک په استازیتوب هدایتونه وړاندې کړي چې ورسره یو داسې سند مل وي چې د یوه مناسب کارکوونکي لخوا لاسلیک یا ورته سند وي چې د هر باصلاحیته شخص او د هغه د لاسلیک صحت تصدیق کړي. مشترک پر همدې اساس د افغانستان بانک ته صلاحیت ورکوي چې د هدایتونو په اجراء کې د همدې پروسې له مخې عمل وکړي. د باصلاحیتو اشخاصو اړوند نومونو یا

نورو معلوماتو کې هر ډول بدلون باید د دې بدلون د اجراء کیدو نیټې څخه لږ تر لږه ۱۵ ورځې مخکې د افغانستان بانک ته ولیږل شي.

**د ATS سیستم د غوښتنې فورم**

| | | |
|---|---|---|
| د ATS سیستم سره د یوځای کیدو غوښتنلیک | | |
| شخص ته: | XXX<br>د افغانستان مرکزي بانک<br>---<br>---<br>افغانستان | |
| شخص څخه: | د غوښتنلیک ورکوونکي نوم: | |
| | د یو ټوټه کیدنې ځای: | |
| | د افغانستان د کمپنۍ شمیره/<br>د افغانستان د راجستر شوي اداري شمیره/<br>د افغانستان د سوداګرۍ شمیره: | |
| | د دفتر راجستر شوې پته/<br>په افغانستان کې د سوداګرۍ اصلي ځای:<br>د بانک رجسټریشن/د جواز شمیره / د افغانستان بانک لخوا د صادر شوي جواز نیټه | |
| | د سویفټ BIC | |
| | د اړیکې نیوونکی شخص نوم: | |
| | د تلیفون شمیره: | |
| | د فکس شمیره: | |
| | د بریښنالیک پته: | |
| | د پیل ترجیح شوې نیټه:<br>*(دا هغه ترجیح شوې نیټه ده چې غوښتنلیک ورکوونکی غواړي پکې د ATS سیستم د مشترک په توګه شامل شي)* | |

پورتنی غوښتنلیک ورکوونکی په همدې اساس د ATS په سیستم کې د مشترک په توګه د غړیتوب لپاره غوښتنه کوي. غوښتنلیک ورکوونکی دا مني چې که دا غوښتنلیک ومنل شي نو د منل کیدنې د لاندینیو مواردو تر اغیزې لاندې راځي:

(۱) غوښتنلیک ورکوونکی د ATS سیستم اصولو او د کاروونکي په لارښوود کې مفصلی کړنلارې (لکه څنګه چې په دغو اصولو کې تعریف شوي) چې وخت په وخت پلي کیږي، رعایت او ورته غاړه کیږدي. غوښتنلیک په همدې اساس د سیستم د اصولو او د کاروونکي د لارښوود چې نافذ شوی وي، د یوی کاپي رسید ترلاسه کول تائیدوي.

(۲) مشترک د ATS سیستم او د بل هر نافذ قانون چې د ATS سیستم په تړاو وخت په وخت پلې کیږي، د شرایطو او لارښوونو سره مطابقت کوي او هغه رعایتوي.

(۳) مشترک ژمنه کوي چې د مشترکینو تر منځ د لیږل او ترلاسه شویو اداینیزو هدایتونو بشپړتیا ته یا د دغو اداینیزو هدایتونو تصفیې ته کوم ناوړه زیان نه رسوي (یا له دې پرته د مشترک کیدو وروسته د ATS سیستم ته کوم لوی خطر نه وړپیښنوي).

(۴) مشترک ژمنه کوي چې د ATS سیستم د غړي/مشترک کیدو وروسته د دې سیستم هر اړخیز اغیزناکتیا ته کوم زیان نه رسوي.

(۵) مشترک ژمنه کوي چې د دغو اصولو له مخې د یوه مشترک لخوا د ادایني وړ ټول فیسونه او نور مبلغونه اداء کوي. (دا فیس د بانکي حساب څخه په اتومات ډول د بشپړ توضیح سره راګرځول یا وضع کیږي)

(۶) په دې برخه کې درج شوي حقونه او مکلفیتونه باید نه یوازې د ATS سیستم ته ډاډ ورکړي، بلکې هر بل مشترک ته چې د دغو اصولو او د کاروونکي د لارښوود د رعایتولو او مطابقت لپاره هوکړه کړې ده.

(۷) مشترک په همدې اساس د افغانستان بانک ته صلاحیت ورکوي چې د ATS سیستم د سم فعالیت په موخه د افغانستان بانک سره د هغه حسابونه مدیریت او اداره کړي.

(۸) لاندیني معلومات د دې غوښتنلیک سره ضمیمه کیږي څو ښکاره کړي چې غوښتنلیک ورکوونکی د غړیتوب لپاره د تنفیذ وړ شرایطو سره چې په دغو اصولو کې درج شوي، مطابقت لري.

*(دا معلومات او اسناد د غوښتنلیک سره ضمیمه کیږي)*

په دې غوښتنلیک کې تعریف شوي اصطلاحات د ATS سیستم د اصولو او مقرراتو د اصطلاحاتو ته ورته معنا رسوي.

| | |
|---|---|
| **د غوښتنلیک ورکوونکي لخوا اجراء شوی**<br>د لاندیني شخص لخوا یا په حضور کې: | |
| (د سکرتر/رئیس لاسلیک) | (د رئیس نوم) |
| (د لاسلیک کوونکي بشپړ نوم) | (د لاسلیک کوونکي بشپړ نوم) |

## ځلورمه ضمیمه (4)

### د کاروونکي د غوښتنلیک فورمه

(د یوه نوي کاروونکي یا د اوسني کاروونکي په معلوماتو کې بدلون یا د یو بلاک شوی کاروونکي د بلاک نه کولو لپاره)

| | | |
|---|---|---|
| ته: | XXX<br>د افغانستان مرکزي بانک<br>افغانستان | |
| لخوا: | د ATS د سیستم د مشترک نوم | |
| | د یو ټوټه کیدني موقعیت | |
| | د شرکت شمیره /<br>د ثبت شوی اداری شمیره /<br>سوداګری شمیره:<br>د ثبت شوی اداری پته /<br>په افغانستان کې د سوداګري اصلي ځای | |
| | | د پوسټ کوډ |
| | **د هغه شخص نوم چې ورسره اړیکه ونیول شي** | |
| | د اړیکی شمیره: | |
| | د فکس شمیره: | |
| | برېښنالیک پته: | |
| | لاندی تفصیلات د کاروونکي په باره کي بشپړ کړئ<br>که یوه نوی کاروونکي وی نو د کاروونکي د پروفایل د غوښتنلیک فورمه دې هم بشپړ کړي | (هر څه چې نامناسب وي حذف يې کړئ) |
| | **غوښتل شوی عمل** | زیاتول /په تفصیلاتو کې بدلون /د بلاک څخه را ایستل |
| | د کاروونکي تخلص: | |
| | د کاروونکي لومړی نوم: | |
| | د کاروونکي د پیژندنی شمیره: | |
| | د کاروونکي دنده: | |
| | د کاروونکي د کار ځای (پته): | |
| | | |
| | د منظورونکي شخص موقف: | |
| | لاسلیک: | |

نوموړی شخص (غوښتونکی) چې د پورتني مشترک کارکوونکی دی، پدی وسیله د ATS سیستم ته د کاروونکي د لاسرسی لپاره غوښتنه کوي. غوښتونکی دا مني که چیرې دا غوښتنلیک ومنل شي نو بیا به د منل کیدني د لاندینیو شرایطو تابع کیږي:

(1) غوښتونکی باید د ATS سیستم اصول او هغه کړنلاره چې د کاروونکي لارښوود تشریح کوي، رعایت کړي او د هغه پیروي وکړي. غوښتونکی له همدې امله تصدیق کوي چې د سیستم د اصولو او د کاروونکي د لارښود یو کاپي یې ترلاسه کړی ده.
(2) غوښتونکی د افغانستان بانک د ATS سیستم او د بل هر ذیربط قانوني مقام اړوند التزامات او لارښوونې چې وخت په وخت د اجراء وړ وي، رعایتوي او د هغه پیروي کوي.
(3) غوښتونکی دا مسئوولیت مني چې د مشترکینو ترمنځ د ورکړې د لارښوونو بشپړتیا، لیږد او ترلاسه کونه او د ورکړې د هدایتونو تصفیه نه زیانمنوي، یا دا چې د یوه کاروونکي (User) کیدو وروسته د ATS سیستم ته بل د پام وړ خطر نه متوجه کوي. په ځانګړې توګه، ATS سیستم ته د لاسرسی په موخه د خصوصي الکترونیکي ټوکن د ترلاسه کولو سره غوښتونکی هر وخت د الکترونیکي ټوکن د ساتلو او د نورو له کاروني لرې د ټوکن د ساتلو مسئوولیت په غاړه لري.
(4) غوښتونکی دا مني چې وروسته له هغې چې یو کاروونکي شي،د ATS د سیستم تولیزه اغیزناکي نه زیانمنوي. هغه اصول او مکلفیتونه چې پدې فورم کې درج شوی یواځې د ATS سیستم لپاره نه بلکې د هر هغه مشترک او نهایي کاروونکي باندی د تطبیق وړ دی چې د سیستم د اصولو او د کاروونکي د لارښود سره یې موافقه کړی وي.

غوښتونکی پدی وسیله د افغانستان بانک څخه غوښتنه کوی چې د مشترک لپاره د کاروونکي پروفایل بشپړ کړی څرنګه چې د کاروونکي پروفایل دِغوښتنلیک په ملپانه کې د ATS د سیستم څخه غوښتل شوی وو، د ATS د سیستم د ټاکل شوي خدمتونو د ترسره کیدو لپاره بشپړ کړئ.

دا غوښتنلیک د مشترک د ګمارني د امنیتي مدیر لخوا په ګډه لاسلیک کیږی څو دا ومني چې غوښتونکی د مشترک یو کارکونکی دی او مشترک د دې غوښتنلیک ملاتړ او تصدیق کوی چې غوښتونکی د مشترک تر څارنې لاندې او د هغې د لارښونو سره سم عمل کوي:

| | |
|---|---|
| نیټه: | نیټه: |
| **د غوښتونکی لخوا لاسلیک شوی** | **د مشترک د امنیت د مدیر(انو) لخوا لاسلیک شوی** |
| **(د غوښتونکی لاسلیک)** | **(د مشترک د امنیت د مدیر(انو) لاسلیک)** |
| **(د لاسلیک کونکی بشپړ نوم)** | **(د لاسلیک کونک (و) بشپړ نوم)** |

## پنځمه ضمیمه (5)

## د کاروونکي د ځنډولو/حذف کولو د غوښتني فورم

| | | |
|---|---|---|
| **د ATS په سیستم کې د یوه کاروونکي د بلاک یا حذف کولو غوښتنلیک** | | |
| ته: | XXX<br>د افغانستان مرکزي بانک<br>افغانستان | |
| لخوا: | د ATS سیستم د مشترک نوم | |
| | د یو تړوته کیدني موقعیت | |
| | د شرکت شمیره /<br>د ثبت شوی اداری شمیره/<br>سوداګری شمیره :<br>د ثبت شوی اداری پته /<br>په افغانستان کي د سوداګري اصلي ځای | |
| | | |
| | **هغه شخص چې ورسره اړیکه نیول کیږی:** | |
| | د اړیکی شمیره: | |
| | د اړیکی شمیره: | |
| | بریښنالیک: | |
| | لاندی تفصیلات د کاروونکي په باره کي بشپړ کړئ که یو نوی کاروونکي وی نو د کاروونکي پروفایل د غوښتنلیک فورمه هم بشپړ کړئ | (هر څه چي نامناسب وي حذف یې کړئ) |
| | **غوښتل شوی عمل** | بلاک کول / له منځه وړل یا حذف کول |
| | د کاروونکي تخلص: | |
| | د کاروونکي لومړی نوم: | |
| | د کاروونکي د پیژندنی شمیره | |
| | د کاروونکي دنده | |
| | د کاروونکي د کار ځای (پته) | |
| | د کاروونکي نوم (څرنګه چې د ATS په سیستم کي ثبت شوی دی) | |
| | | |
| | د منظورونکی شخص موقف | |
| | لاسلیک | |

مونږ په همدې اساس د ATS EPS سیستم د کاروونکي د لاسرسئ برخې څخه غوښتنه کوو چې د پورته یاد شوي کاروونکی لاسرسی د بلاک/حذف شي.

د امنیتي مدیر(انو) لخوا لاسلیک شوی

لاسلیک:________________________

بشپړ نوم:________________________

نیټه:________________________

## شپږمه ضمیمه (6)

## د ATS سیستم ورځنی موده ایز جدول

### د معاملو موده ایزه جدول

| د ATS/CSD پېښه | وخت | هغه فعالیتونه چې د ترسره کیدو وړ دي | فعالیت ځرنګه پیل کیږي |
|---|---|---|---|
| د ATS سیستم اپلیکیشن د فعالیت په حال کي دی | | | د ATS چلوونکی |
| | | • د پارامیټرونو ساتل او د مشترک په اړه تفصیلات | د افغانستان بانک |
| | | • د افغانستان بانک د هر ډول لاسي (غیر اتومات) مالي معاملو واردول او د افغانستان بانک د GL څخه د هر ډول شپې معاملو اپلوډ کول | د افغانستان بانک |
| د ورځ پیل | 8:30 | • د افغانستان بانک د شپې لخوا د GL د معاملو تصفیه<br>• د صورت حساب(بیل) د ډیټونو تصفیه (ورځنی/میاشتنی)<br><br>• په جاري ورځ کي د هر هغه معاملي تسویي تصفیي ته اشاره کوي چي په کتار کي وي او ارزښت يي د نیټي پر بنسټ ټاکل شوی وي | د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |
| د حسابونو ساتنه | | • د تسویي د لنډمهالو پایلو محاسبه<br>• د زیرمو/ذخایرو مدیریت<br>• د سیالیت غوښتل | د افغانستان بانک او مشترکین |
| د سوداګری لپاره پرانیستلی | 9:00 | | |
| د CSD د ورځي پیل | 9:15 | | |
| د CSD د سوداګری ورځي پیل | 9:30 | | |
| د تولیزي تسویي لومړی پړاو | 10:10 – 11:00 | د اداینو ثبتول– د ACH خپلکار تسویی ځانګه د دستي چکونو<br>• د اداینو تصفیه<br>• په دستو کي د توکي یا توکو بیرته راګرځول<br>• د ATS د سیستم لخوا د ILF جوړښت | د افغانستان بانک او مشترک |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | • د RTGS ILFs د هغو لیږدونو چې په هم مهاله توګه ثبت شوی وی، بیرته راګرځول | |
| د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول | | • هغه تولیزې ادایني چې دمخه ترلاسه شوی وی یو ځای کیږي،NSI ته به پست شی او د اداینو په اړه به تفصیلات هر لاسته راوړنکی مشترک ته ولیږل شی | |
| د افغانستان بانک او مشترک | 11:00 | • د تسویی د لنډمهالو پایلو محاسبه<br>• د زیرمو/ذخایرو مدیریت<br>• د سیالیت غوښتل | د حساب ساتنه |
| د افغانستان بانک او مشترک | 13:30-12:40 | • د ACH خپلکار تسویی ځانګه دستي د چکونو ثبتول<br>• د ادواینو تصفیه<br>• په دستو کي د توکي یا توکو بیرته راګرځول<br>• د ATS سیستم لخوا د ILF جوړښت<br>• د ILF بیرته ګرځیدنه<br>• د RTGS هغه لیږدوني چې په هم مهاله توګه ثبت شوی وی | د تولیزې(Bulk) تسویېدویم پړاو |
| د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول | | • هغه تولیزی ادایني چې له مخکي ترلاسه شوی وی یو ځای کیږي، NSI به پست شي او د ادواینو په اړه تفصیلات هر ترلاسه کوونکي مشترک لیږل کیږي | |
| د افغانستان بانک او مشترک | 13:30 | • د تسویي د لنډ مهالو پایلو محاسبه<br>• د زیرمو/ذخایرو مدیریت<br>• د سیالیت غوښتل | د حساب ساتنه |
| د افغانستان بانک او مشترک | 15:00 – 14:10 | • د ګټو طی مراحل | د تولیزې تسویي دریم پړاو |
| د ATS د سیستم له لارې په | | • بیرته راګرځیدلي تولیزی | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | ادایني او چکونه چې له مخکې ترلاسه شوی، یو یوځای کیږی، NSI پست کیږي او د ادواینو په اړه به تفصیلات هر ترلاسه کوونکي مشترک ته لیږل کیږي | اتوماتیک ډول |
| لومړی پرېکون | 15:10 | • د ISO راپورونه | د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |
| | | • د مشتریانو د هر نوي ادواینو ردول<br>• د نا تصفیه شوي دستو لغو کول چې د تصفیي نیټه یې جاري ورځ وي | د ATS سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |
| | | • د مشترکینو د وضعیت د تصفیي لپاره د بانکونو تر منځ د ادواینو ثبتول<br>• د مشترکینو لخوا د ILF بیرته ګرځیدنه<br>• د زیرمو/ذخایرو مدیریت<br>• د IFT د زیرمو/ذخایرو چمتو کول | د افغانستان بانک او مشترک |
| د یوه ورځني لیلام لپاره پرېکون | 15:15 | • | |
| نهایي پرېکون | 15:30 | • د مشترکینو د تمځای له لارې د کتار کنټرولول<br>• د SCO راپور | د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |
| | | • د بانکونو تر منځ هر ډول نوي ادایني د ATS د سیستم لخوا نه منل کیږي | د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |
| | | • د مشترکینو د مالي وضعیت د تصفیي لپاره د افغانستان بانک د هر ډول نورو معاملو ثبتول | د افغانستان بانک |
| | | • د شپې پورونو په اړه GL سیستم ته د معلوماتو وړاندی کول | د GL د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |
| | | • په کتار کې د NSI د هر ډول ستونزو مدیریت، د | د افغانستان بانک |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | راتولونی هدایتونه او د افغانستان بانک نور ډیټونه | |
| | | • د هر ډول پاتی ILF بیرته ګرځیدنه | د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |
| | | • د مشتریانو یا د بانکونو تر منځ د هر ډول پاتی اداینو لغو کول<br>• د FCO راپور | د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |
| | | • د افغانستان بانک د هر ډول نهایي معاملو ثبتول | د افغانستان بانک |
| د DvP لپاره پرېکون | 16:00 | • | |
| د FoP لپاره پرېکون | 16:30 | • | |
| د CSD کاري ورځ پای | 16:40 | • | |
| د CSD د ورځ پای | 16:50 | • | |
| د ورځ پای | 17:00 | • نهایي مالي وضعیت<br>• د MT 950 صورت حسابونه<br>• د ورځ د پای راپورونه<br>• د بیلونو زیات (اضافه) شوي لګښتونه | د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |
| | | • شاتړ(Backups) | د افغانستان بانک د کړنلارو سره سم |
| | | • د افغانستان بانک د ارشیف بهیر | په اتوماتیک ډول د ATS سیستم په محدوده کې ترسره کیږی.<br>له بهر څخه د افغانستان بانک له کړنلارې سره سم ترسره کیږي.<br>دا به د معلوماتي ټکنالوژي په مدیریتي کړنلارو کې ځای پر ځای شي. |
| IFT | 24/7 | • ترڅو چې د IFT پنجرې (وینډوز) شتون ولری، څومره ژر چې کیږی د کریډټ د مستقیمو اداینو هدایتونه په دوامداره توګه تسویه کړئ | د ATS د سیستم له لارې په اتوماتیک ډول |

**دویمه نمونه:**

| وخت | د ATS پیښنه | د مشترکینو کړني او شته معاملې |
|---|---|---|
| 8:00 | د ورځ پیل | د ATS سیستم د ورځې پیل |
| 8:15 | | د افغانستان بانک د ساتني موده |
| 8:30 | د فعالیت لپاره پرانیستلی | مشترک کولای شی چې ادایني ترلاسه او ولیږي.<br>د افغانستان بانک باید د تصفیي د نورو سیستمونو، د حساب د لیږدونو او د خپلو ادااینو څخه د خالصی تسویي دستي واردي کړي. |
| 11:00 | د تولیزې تسویي لومړی پړاو | هغه ډله ییزې (Bulk) ادایني چې د اوسنی نیټې لپاره د مخه ترلاسه شوی وی یو ځای کیږی، د خالصی تصفیي هدایتونه پست کیږی او د ادااینو تفصیلات هر لاسته راوړونکی ته لیږل کیږی. د تیرو ورځو څخه مستقیم ډبټونه چې د پړاو د پارامیټرونو پورې تړلي دي، کیدای شي طی مراحل شي یا هم نه شي. |
| 15:00 | د ډله ییزې (Bulk) تسویېدویم پړاو | د لومړي پړاو په څیر ترسره کیږي. |
| 16:00 | لومړی پرېکون | د ATS سیستم د MT10x زیات ارزښت لرونکی ادایني یا ډله (Bulk) ییزې ادایني نه مني. د لومړي پرېکون راپورونه خپریږي.<br><br>د بانکونو تر منځ او د لیږد حسابونو څخه پرته، د نوی ادااینو لپاره تړل کیږی.<br><br>په کتار کې خنډونه د افغانستان بانک لخوا د بندښت د هوارولو (Gridlock Resolution) د ابزارونو په کارولو او د مشترکینو لخوا په کتار کې د ادااینو حذف یا د بیا لومړیتوب ورکولو له لارې ترسره کیږي.<br><br>مشترک باید د نهایي پرېکون څخه مخکې د ILF د برداشتونو د بیرته گرځیدلو لپاره کافي پانګی (Funds) ترتیب کړي. |
| 16:30 | نهایی پرېکون | یوازی د افغانستان بانک کولای شی چې د نهایی پرېکون څخه وروسته د ATS معاملې ولیږی<br>دا پړاو/مرحله تړل شوې ده، کتار/ تصفیه پای ته رسیدلی او په کتار کې هر ډول اوسنی معاملې ردیږي.<br>د نهایي پرېکون راپورونه خپریږي |
| 16:45 | د ورځې پای | د ATS سیستم د EOD راپورونه د ډاونلوډ لپاره چمتو دی.<br>د ATS سیستم له لارې د لیږل شویو فایلونو یو ځای او اپیډیټ کول. |
| 17:15 | سیستم تړل شوی دی/بند دی | |

## اوومه ضمیمه (7)

## د تفتیش کلنی فورم

مشترک: [ نوم ]

د ځان ارزونه: [ کال ]

---

مهرباني وکړئ لاندې پوښتنو ته په بشپړه توګه ځواب ورکړئ

**الف. د ATS سیستم اړوند درغلي**

(1) ایا ستاسي اداري د **ATS** سیستم پورې اړوند کوم حقیقي یا پلان شوی درغلي تجربه کړې؟
(2) که داسي وي، ایا د دې درغلی په اړه د **ATS** سیستم شرایط او اصطلاحاتو سره سم د افغانستان بانک ته راپور ورکړل شوي دی؟
(3) ایا د درغلي عوامل مشخص او اصلاح شوي دي؟
(4) ایا د درغلي په پایله کي ستاسي اداري ته یا د هغي مشتریانو ته مالي زیان رسیدلی؟
(5) که داسي وي، ایا د بنه والی لپاره تر اوسه پورې هم هڅه کیږي؟

**ب. د احتیاطي پیبنو اسانتیاوې او پلان جوړونه**

(1) ایا ستاسي اداره د **ATS** سیستم د عملیاتو لپاره د احتیاطي پیبنو د پلان سند لري ؟
(2) که نه لري، تاسي کله غواړئ چې داسي یو پلان ولرئ ؟
(3) ایا ستاسي پلان په قانع کوونکي ډول بالقوه احتیاطي سناریوګاني رانغاړي ؟
(4) ایا ستاسي اداره د لاسه تللو معلوماتو د بیا لاسته راوړلو لپاره کمپیوټري اسانتیاوی او یا د اړیکو نیولو هغه اسانتیاوی چې د **ATS** سیستم د اړیکو لپاره کارول کیږي، لري ؟
(5) که ستاسي اداره د لاسه تللو معلوماتو د بیا لاسته راوړلو لپاره کمپیوټري اسانتیاوی لري، نو ایا ستاسي د مرکزي کمپیوټري اسانتیاوی څخه جلا دی؟
(6) ایا تاسي خوشحاله/راضي یاست چې ستاسي بالقوه سوداګریز خطرونه تحلیل او ورته رسیدنه کیږي؟

**ج. د سیستم له کاره غورځیدل او د ارتجاعیت موده**

(۷) ایا ستاسي د **ATS** سیستم، له کاره غورځیدلو او یا هم متواتر یا جدي اخلال سره مخ شوی دی ؟

(8) که داسي وي، ایا د هغي په اړه د افغانستان بانک ته راپور ورکړل شوی او د **ATS** سیستم د کړنلارو سره سم د احتیاطي پیښو په سوابقو کي ثبت شوی دی؟

(9) ایا راضي یاست چي ستاسي د ATS اړوند سیستمونه، د ATS سیستم د ادابینیزو معاملو په برخه کي په خپله موده او د خوندي خدمتونو د وړاندي کولو لپاره کافي ظرفیت او ارتجاعیت لري؟

| لنډ نوم | بشپړ نوم | تشریح / تعریف |
|---|---|---|
| | منل کیدل (د تصفیې لپاره) | هغه شیبه ده چې د ادائینو معامله د نه فسخې وړ کیږي. دا هغه نقطه ده چې معامله د ازموینې څخه تیریږي او دا تشخیص کیږي چې ایا د معاملې د اجراء کولو لپاره کافي پانګه (Funds) یا تضمین شتون لري که نه. |
| | د ترلاسه کونکي پته (عنواني) | هغه مشترک چې د سیستم څخه ادائینیزه هدایت ترلاسه کوي. |
| | اداري مدیر | د مرکزي بانک رسمي کارکوونکی چې د ATS سیستم او د هغې د ترکیبي موډیولونو په اداری کې ښکیل وي |
| د ATS سیستم | د لیږد اتومات سیستم | د تسویې او تصفیې هغه سیستم چې د زیات ارزښتو/عاجل ادائینو د حقیقي مودې ناخالصی تصفیې ترڅنګ د کلیرنګ هاوس د خپلکار تسویې ځانګه د اتومات ټولیزه / لږ ارزښت ادائینو کړنې یوځای کوي. د ATS سیستم یو ATS دی. |
| | د تفتیش تعقیبول | د هغو پیښو ترتیبي سوابق چې په یو سیستم کې را منځ ته شوی وي. |
| | تصدیق شوی فکس | هغه فکس چې یو کوډ یا لاسلیک ولري چې د فکس سرچینې په تاییدولو کې وکارول شي ترڅو فکس تصدیق کړي او ترلاسه کوونکی وکړی شي په ډاډ سره په هغو لاربښونو عمل وکړي |
| | د صحت تصدیق کول | هغه میتودونه چې د یوه پیغام د اصلیت د تصدیقولو یا د یوه مشترک د پیژندنې لپاره چې په سیستم کې درج وي، او د دې تصدیقول چې د لیږدولو پر مهال په پیغام کې لاسوهنه یا بدله شوې نه وي |
| | ذیصلاح شخص/ شخص ته د صلاحیت ورکول | یو شخص چې د ټولو اړینو تدابیرو په مرسته دومره صلاحیت ترلاسه کړي چې معلوماتو ته لاسرسی ومومي او د الکترونیکي وسایلو او/یا د معلوماتو ته د لاسرسی لپاره د ټاکل شوي شخص له لارې د بانکي حسابونو، پانګه (Funds) د لیږدونو او د نورو مالي معاملو په اړه لاربښوونې ورانديې کړي او د صلاحیت د ترلاسه کولو سره سم د خدمتونو او محدودیتونو په تړاو د مشترک په استازیتوب لاربښوونې او هدایتونه وړاندې کړي. |
| | شته بیلانس<br>یا<br>موجوده پانګه (Funds) | هغه موجوده پانګی (Funds) ته اشاره کوي چې په هره شیبه کې د معاملو د تصفیی لپاره وي. چې محاسبه یې له مخکې ټاکل شوي اجزاوو په کارولو لکه پرانستي بیلانس، د کریډیټونو خالص ارزښت او پروسس شوي ډیبیټونه ، لږ تر لږه د زیرمو اړتیا او د حساب حدود (که وي). |
| | شاتړ(Backups) | په ورځنې ډول د ATS سیستم ډیټابیس او د هغو کاپیانو د ساتلو پروسی ته اشاره کوي چې د فایل له ساحې څخه بهر وي ترڅو د ناکامي یا ناورینتوب په حالت کې د بیا لاسته راوړلو تضمین وکړي. سره له دې کاپي فایلونو ته هم اشاره کوي. |
| | دسته (ټولګه) | د ادائینو د سفارشونو د یوې ډلې د طي مراحل یا لیږد او/یا د بیه لرونکو پاڼو د لیږد سفارشونو یوې ډلې ته وایي. ټولیزې ادائینې په ډلو ویشل کیږي چې د طی مراحلو لپاره د یوه انفرادي ترلاسه کوونکي لپاره ټاکل شوی وي. ټولیزې ادائینې د ATS په سیستم کې د UNIFI په بڼه وي. |
| BIC | د بانک د پیژندنې کډ | یو ځانته پتې ته وایي چې په دقیقه توګه په نړیوالو مالي معاملو کې ښکیلې مالي اداري تشخیص کوي. په عام ډول، د بانکونو د پیژندنې د سویفټ کوډونه په سیستم کې کارول کیږي، خو د نورو منل شویو کوډونو څخه هم |

| | | |
|---|---|---|
| | | کار اخیستل کیږي. د بانکونو د پېژندنې کوډونه اته یا یوولس حرفونه لري چې د لاندې اجزاوو څخه درې یا څلور رانغاړي: بانکي کوډ (4)، د هیواد کوډ (2)، د موقعیت کوډ (2)، او د څانګو کوډ (3). د بانکونو د پېژندنې کوډونه د SWIFT لخوا تشخیص او مدیریت کیږي. |
| | دوه اړخیز حدود | حدودو ته مراجعه وکړئ |
| | بلاک کول | هغه چار چې د ATS د سیستم د مینو له لارې تر سره کیږي او یو مشخص مشترک د اداینو د پیغام د لیږلو یا ترلاسه کولو ( د سیستم لخوا/ ته) څخه منع کوي. |
| | ډله (ټولګه) | د ادایینزو سفارشونو یوې ټولګې ته وایي چې د طی مراحلو لپاره په ډله ییزه توګه لیږل شوی وي چې څو ترلاسه کوونکو ته استول کیږي. |
| BI | د ډله ییزې ادایني لاربنود | د ادائینو هغه لاربنوونې چې ته د ډله ییز فایل په توګه لکه د مستقیم ډیبټ یا معاشونو لپاره د کلیرنګ (تصفیې) او تسویې سیستم ته لیږل کیږي |
| | د فعالیت دوام | د ادایني سیستم هوکړو/موافقت لیکونو ته وایي چې موخه یې له دې ځان ډاډمن کول دي چې دا سیستم سره له دې چې یو یا څو برخې یې له کاره غورځېدلې وي یا دا چې د یوې بهرنۍ پیښې له امله زیانمنه شوی وي، بیا هم د هوکړې سره سم خدمتونه برابروي. په دې کې دواړه مخنیوی کوونکي تدابیر او هوکړې شاملې دي چې احتیاطي/احتمالي پیښې په پام کې نیسي. |
| | کاري ورځ | هغه ورځ چې د ادائینو د معاملو د طی مراحل لپاره د ATS سیستم فعالیت کوي |
| | بیرته ګرځېدنه | هغه عملیه چې پکې یو لیږوونکی مشترک یو ترلاسه کوونکی مشترک ته تادیه شوی پیسې، بیرته راغواړي یا فسخ کوي. |
| | تضمین | یو شتمني چې د تضمین د وړاندې کوونکی لخوا د تضمین ترلاسه کوونکي ته د یوه مکلفیت د خوندی کولو لپاره وړاندې کیږي. د تضمین ترتیبات مختلفې قانوني بنې لري: دا تضمین د قبالې د لیږد یا د شتمنې د تضمین د میتود په کارولو ترلاسه کیږي. |
| | د راټولولو دستور | د راټولولو دستورونه د مرکزي بانک لخوا ترسره کیږي.<br>دغه معاملې د مرکزي بانک د التزاماتو په نتیجه کې یا د محکمې لخوا د راټولوني امر پر اساس ترسره کیږي او دا رنګه معاملې د ATS په سیستم کې د تصفیې لپاره لومړیتوب لري. |
| | مخنیوی کوونکي پیښنه | په طي مراحل یا اړیکو کې پاتې راتګ یا نورو تخنیکي ستونزو ته ویل کیږی؛ یا هغو اسانتیاوو ته نه لاسرسی (په ټولیزه یا قسمي توګه) چې د هغې له لارې ادایني ترلاسه یا لیږل کیږی؛ یا د صنعت لخوا داسې اقدام چې د ادائینو په لیږلو او ترلاسه کولو کې د مشترک عادي او معمول ګډون زیانمن کړي. |
| | احتیاطي پیښنې | هر هغه احتیاطي پیښنه یا واقعه چې د مرکزي بانک لخوا تشخیص شوی وي. |
| | پرېکون | هغه تخصیص شوې موده ایزه حدود چې له هغې بهر معیني دندې نه ترسره کیږي یا باید فسخ شي. |
| DD | مستقیم دبټ | د ادائینو یو سیستم چې د هغې له لارې مشترک په مستقیم ډول او په موده ایزه څنډ د مشتري په بانکي حساب کې د ډیبټ کولو اجازه لري . |

| | | |
|---|---|---|
| DvP | د سپارلو په وړاندې اداينه | د بيه لرونکو پاڼو د ليږد په معاملو کې کارول شوی ميکانيزم، چې ډاډ ورکوي چې د بيه لرونکو پاڼو نهايي ليږد (تحويل ورکول) يوازې هغه مهال ترسره کيږي چې د معاملې لپاره اصلي اداينه شوی وي. |
| | ډيجيتلي تصديق ليک | په پاسورډ خوندي متن ته وايي چې د الکترونيکي توکونو په شان وسايل د دې جوګه ګرځوي چې د سيستم له لارې تصديق شي او د سيستم اجزاوې د PKI د ميتودونو په مرسته يو بل تصديق کړي. (PKI ته مراجعه وکړئ) |
| | ډيجيټلي لاسليک | يو سلسله معلومات چې د کرستوګرافيک ميتوډ له لارې جوړيږي او يو پيغام سره متصل کيږي ترڅو د هغې د صحت څخه ډاډ ترلاسه شي او سربيره پر دي د ليږدونکی د انکار په صورت کې د ترلاسه کوونکی څخه محافظت/ساتنه وکړي. |
| | غير فعال شوی | يو عمل چې د ATS سيستم د مينو له لارې اخيستل شوی، چې يو ځانګړی ګډون کوونکی د معاملې له ليږدولو يا سيستم ته د لاس رسی څخه منع کوي. |
| SA | د تصفيه حساب | د مرکزي بانک سره يو حساب، د تصفيې نماينده يا ورته خواوي چې د پانګی (Funds)او بيه لرونکو پاڼو د ساتلو او په يو سيستم کې د مشترکينو ترمنځ د معاملو د تصفيې لپاره کارول کيږي. |
| EOD | د ورځې پای | د يو ځانګړي کاروني لپاره د سوداګريزې ورځې پای |
| | له لاسه تللو معلوماتو د بيا لاسته راوړلو ځای | دغه نوم معمولاً هغی ځای ته اشاره کوی چې د شاتړ(Backups) د عمليو لپاره تخصيص شوی وي. دغه عمليې زياتره د ليرې لارو څخه د پرمختللي مديريتي ابزارونو په کارولو ترسره کيږي. |
| FCO | نهايي پرېکون | هغه مهال چې د ATS سيستم د ATS معاملې پرې (قطع) او هر ډول ډله بندي شوي معاملې د د غه اصولو سره سم لغو کوي. |
| FoP | وړيا رسول | د ورته پانګی (Funds) د اداينې پرته د بيه لرونکو پاڼو ورکول. دا کار هغه وخت ترسره کيږي چې بيه لرونکي پاڼې د همدې معامله کوونکي حسابونو ته وليږدول شي. |
| | له کنټروله وتلې پيښې | يوه پيښه چې د اړوند خوا د کنټرول څخه بهر وي، لکه طبيعي پيښې، تکنالوژيکي پيښې، سياسي يا ورته پيښې. |
| FX | د اسعارو مبادله | د اسعارو د پير او پلور بهير. |
| | نهائي تصفيه | هغه تصفيې چې د فسخ وړ نه وي او پرته له کوم قيد او شرط وي. |
| | Gateway (د دوو شبکو يا سيستمونو نښلول) | د ATS سيستم او د مشترکينو د بانکونو د بک آفس او د مشتريانو د خدمتونو يوځای کولو حل لارې ته ويل کيږي. دا پروګرام سربيره پر دی د بانک کورنی سيستمونه د IMS و Virtual Private Network (VPN) له لارې د زيات او کم ارزښتو اداينو د مستقيم/بشپړ طي مراحلو لپاره، د ATS سيستم سره وصل کوي. |
| | د حساب عمومي دفتر | د مرکزي بانک د حساب عمومي دفتر هغه سيستم دی چې پکې د بانکونو په ګډون د مرکزي بانک د مشتريانو حسابونه ساتل کيږي. |
| | انفرادی اداينې | د لوړ ارزښت لرونکو اداينيز هدايت چې د بيرني تصفيې لپاره د يوه انفرادي معاملې په توګه ليږل کيږي |
| ATS | د اداينو او د بيه لرونکو پاڼو د تصفيې اتوماتيک سيستم | د اداينو او د بيه لرونکو پاڼو اتومات سيستم CMA ATS (د حقيقي او ټوليزې مودې تصفيه ) رانغاړي. |
| | بندښت (په تپه دريدنه) | هغه وضعيت ته وايي چې کولای شي د پانګی (Funds) يا د بيه لرونکو |

| | | |
|---|---|---|
| | | پانو د لیرد په سیستم کي راپیښ شي چې پکي د لیږد د اجراء وړ ځینو هدایتونو پاتي راتګ (د ناکافي پانګی (Funds) یا د ناکافي بیه لرونکو پاڼو د بیلانسونو له امله) د نورو مشترکینو لخوا د ورکړل شویو پام وړ هدایتونو اجراء څخه مخنیوی کیږي. |
| | د بندښت لري کول/هوارول | د دخیلو حسابونو څخه د اضافه برداشت پرته د یوه بندښت هوارول یا حلول. |
| | نه خالصه تصفیه | د پانګی (Funds) تصفیه او د بیه لرونکو پاڼو لیږد چې په انفرادي توګه او د بیلابیلو هدایتونو په اساس ترسره کیږي، لکه: د کریډت د ادواینیزو معاملو په برابر کي د ډیبټ نه تر لاسه کول. |
| | دولتي بیه لرونکي پاڼي | هغه بیه لرونکي پاڼي چې د افغانستان دولت یا د مرکزی بانک لخوا صادری شوی وي. |
| HV | لوړ ارزښت | لوړ ارزښت یوازې د اداینې ډول د توضیح کولو لپاره چې هغه کي په انفرادي توګه په حقیقي موده کي تصفیه ترسره کیږي، کارول کیږي. |
| | لومړنی پرېکون | هغه وخت چې د ATS سیستم د دغو دپالیسی اصولو د لسمي ضمیمي سره سم د بانکونو ترمنځ معاملو پرته د ATS سیستم د معاملو طی مراحل پرې کوي. |
| IR | لومړنی راپور | د پروژې مسوده چې د داخلي کولو التزامات (شرایط)، د ځانګړو دندو لپاره کاري تفصیلات، د پروژې پلان او د پروژې عملیاتي مدیریت توضیح کوي. |
| | د افلاس پیښه | هر ډله ایزه قانوني لایحه د افغانستان یا د دریم هیواد په قوانینو کي چې د مشترک د پیژندلو یا د انحلال لپاره وړاندی شوی چې پر ادواینو یا لیږدونو د محدودیتونو ځندول یا وضع کول رانغاړی لکه د محکمي امر، د جوړښت لپاره غوښتنه، د ادواینو غزیدل یا ځندول، استمهال، سیالیت او نور ورته قانوني طي مراحلو ته ویل کیږي. |
| | د دوو سیستمونو یا شبکو نښلوونکی (interface) | د دوه کاري اجزاوو تر منځ یا د یوه سیستم د جوړښت دوه لایې یا دوه فزیکي ابزارونو تر منځ معمولي پولي چې د هغو د کاري ځانګړتیاوو، د هغو تر منځ د عمومي فزیکي خاصیتونو، سیګنال یا نورو ځانګړتیاوو له لارې تعریف کیږي. |
| ILF | د یوی ورځني پورونو اسانتیاوي | هغه کریډټ چې د یوی کاري ورځی څخه د کمي مودې لپاره تمدید شوی وي. کریډټ د مرکزي بانک لخوا یو مشترک (بانک) ته په بازار کي د سیالیت د وړاندې کولو په موخه چې دلته د ATS سیستم دی، وړاندې کیږي. |
| ISO | د معیارونو نړیواله اداره | د معیارونو نړیواله اداره یو نړیوال فدراسیون دی چې شاوخوا د 140 هیوادونو د ملي معیارونو د ادارو څخه بشپړ شوی دی. د دي اداري دنده دا ده چې د معیاري کولو بهیر دود پیاوړی کړي ترڅو د توکو او خدمتونو په نړیواله تبادله کي اسانتیاوي رامنځ ته شي. |
| | په کتبي ډول | د خوندي بریښنالیک له لارې لیږل کیږي او د هغو مشترکینو لپاره چې خوندي بریښنالیک نشي ترلاسه کولای، د تصدیق شوي فکسونو یا د سویفټ د MT 999 یا د MX د پیغام په ډول ور لیږل کیږي |

| | | |
|---|---|---|
| LAN | د ساحې دننه شبکې (اړیکې) (LAN) | یو کمپیوټري شبکه چې نسبتاً کوچنی ساحه رانغاړي. د ساحې دننه شبکې یوه ودانی یا د ودانیو ډلې پورې محدوده دي. یوه شبکه د بلې شبکې سره په هر واټن کې د ټیلیفوني کرښو او د راډیویي څپو له لارې د نښلولو وړ دي. د ساحې دننه یوه شبکه چې په دې طریقه وصل شوی وي، د ساحې دننه شبکې په نوم یادیږي. |
| | سیالیت | د تصفیې سیستم د یو مشترک هغو وړتیاوو ته ویل کیږي چې د پانګی (Funds) یا د بیه لرونکو پاڼو د لیږد په تړاو خپل اوسني مکلفیتونه پرځای کوي. د ترانسپورټ د اتومات سیستمونو په چوکاټ کې د تصفیې په بهیر کې د یوه مشترک سیالیت د څلورو برخو له لارې سنجش کیږي: په جاري حساب کې شته پانګی (Funds) (بیلانس)، د تصفیې په سیستم کې د نورو مشترکینو څخه خپل حساب ته د کتار شویو اداینو لیږد، د مرکزي بانک لخوا غځول شوي پورونه او د بانکونو ترمنځ د پیسو بازار د معاملو پانګه Funds) |
| | حدود | حدود یوازې د یو حساب څخه د معین مقدار وجوه د برداشت اجازه ورکوي. د ATS پروګرام یوه داسې عملیه وړاندې کوي چې مشترکین دې ته چمتو کوي چې د نورو مشترکینو په وړاندې دوه اړخیزه حدود وټاکي. |
| | مواد | هغو قوانینو او هرې اړوندې ملپاڼې او ضمیمې ته وایې چې دې سند پورې تړلې او د کاروونکو د لارښوود، معلوماتو، پروسو او د مرکزي بانک لخوا برابر شوي نور اسنادو په ګډون د اړوندو مواد په مرسته بشپړیږي. |
| MOF | د مالیې وزارت | د حسابونو حکومتي مدیر دی. د مرکزي بانک له لارې د ATS سیستم کاروونکی دی. |
| NSI | د خالصې تصفیې هدایت | د خالصه تصفیې هدایت د بانکونو لپاره پانګه (Funds تصفیې کریډټ او ډیبټ رانغاړي چې صفر سره جمع کیږي. د خالصه تصفیې هدایت د ATS سیستم ته لیږدول کیږي چې هلته د بانکونو د تصفیې حسابونه د هغې سره سم ډیبټ او کریډټ کیږي. |
| 1 | نهایي | د دوو یا زیاتو خواوو یا مشترکینو ترمنځ د مکلفیتونو د جبرانولو توافق یا هوکړه چې له لارې یې ګڼل شمیر مکلفیتونه یو لړ شمیر مکلفیتونو ته راکمیږي. |
| | کاري ساعتونه | د ATS سیستم کاري ورځ د یو شمیر عملیاتي **پنجرې** له لارې تعریف کیږي چې د ورځ پیل، لومړنی پرېکون، نهایي پرېکون او د ورځ پای رانغاړي. |
| | د مشترکینو امنیتي مدیر | هغه شخص چې هر مشترک پورې اړه لري او د مرکزي بانک سره د اړیکو نیولو مسؤلیت په غاړه لري، چې د کاروونکو اضافه کول یا حذفول، د کاروونکو د معلوماتو د سمولو ترڅنګ د پروفایلونو، الکترونیکي ټوکنونو او تصدیق لیکونو مدیریت رانغاړي. |
| | ادایني | د ادا کوونکي لخوا ترلاسه کوونکي ته د وجوه لیږد، د ترلاسه کوونکي د پولي دعواوو په برابر کې د وجوه په معقوله توګه لیږد چې د هغې (ترلاسه کوونکي) لپاره د منلو وړ وي. |
| | د ادایني هدایت | د ادایني دستور ته مراجعه وکړئ. |
| | | د الکترونیکي میکانیزم له لارې د لیږدول شویو معلوماتو ټولیزه چې د |

| | | |
|---|---|---|
| | د ادايني پيغام | ليږوونکي او د ترلاسه کوونکی د معاملې او د ليږد مبلغ ښکاره کوي، چې د مشترکينو تر منځ د معاملو د تصفيې لپاره د ادراينو په سيستم کې لاره جوړوي. |
| | د ادايني دستور | يو دستور (هدايت) يا پيغام چې د وجوه د ليږدولو غوښتنه کوي. دستور (هدايت) د کريډټ ليږد، د ډيبټ ليږد يا د چک له مخې ادراينو سره اړه لري. |
| PO | د ادراينو په لاره اچونکی | د ادراينو په لاره اچونکی د ATS پروګرام يوه برخه جوړوي. دا پروګرام پر ويب متکي دی چې يو مشترک/مرکزي بانک کې واک لرونکی کاروونکو ته اجازه ورکوي چې معاملې واردې کړي. |
| | د انتظار په حالت کې کتار | د انتظار په حالت کې کتار چې پکې د ادراينو هدايتونه چې تصفيه يې د وجوه د کموالی له امله ځنډول شوی وي، ساتل کيږي. |
| | د ادراينو سيستم | د ادايني سيستم چې د ادراينيز ابزارونو، بانکي کړنلارو او د بانکونو ترمنځ د پانګی (Funds د ليږد نمونه يي سيستمونو يوه ټولګه (مجموعه) رانغاړي چې د پيسو د خوندي ګردښت څخه ډاډ ترلاسه کوي. |
| | د ادراينو د ساتلو ځای | د ادراينيزو معاملو ساتلو ته د وروستی اجرااتو لپاره په ټاکل شوی نيټه کې اشاره کوي. د ATS سيستم د HV معاملو ته اجازه ورکوي چې د راتلونکو نيټو لپاره وساتل شی او د ډيبټ مستقيم فايلونو ته د طي مراحلو د رد اجازه ورکوي څو د هغې د ارزښت له نيټې مخکې ثبت شي. |
| | تضمين | د ملکيت سپارنه د مکلفيت د خوندي کولو لپاره چې د يو پلوی (پوروړی يا تضمين کوونکی) څخه د بل (خوندي پلوی) ته ترسره کيږي. ضمانت د ملکيت د سپارلو په بهير کې تضميني تکتانه رامنځ ته کوي. |
| | پروفايل | د هغو عمليو لست چې د ATS په سيستم کې د لاسرسۍ وړ دی او يو ځانګړی کارونکی يا د کاروونکو د يوې ځانګړی ډلې ته سپارل کيږي او پدې ډول ځانګړی کارونکی يا د کاروونکو يوه ځانګری ډله يوازې دغو عمليو ته لاسرسۍ لري. |
| PKI | د عامه لارو بيخبنسټونه | د عامه او خصوصي لارو د کارولو پر بنسټ د لاسرسی او د معلوماتو د ليږد د ساتلو لپاره يو شديداً خوندي ميتود دی. دا ميتود د معلوماتو په پاسوړډ خوندي کول، د سرور تصديق کول، د پيغام بشپړتيا او د مشتري تصديق د کاروونکي براوزر او د اپليکيشن د سرور لپاره لاره جوړوي. د معاملو د نه ردېدو لپاره کارول کيږي. |
| | عمده ساحه | د ATS سيستم د فعاليتونو عمده ساحه. |
| | امنيتي لارښووني | په دې قانون کې تخصيص شوي طريقې او لارښونې. |
| Repo | د بيه لرونکو پاڼو بيا اخيستل | يو موافقت ليک چې، له لارې يې د ګټې په اساس د مالکيت د بدلون سره د بيه لرونکو پاڼو په بدل کې پيسې په داسې توګه په پور ورکول کيږي چې د ورځې په پای يا په بله ورځ باندې بيرته پيرل کيږي. دا بهير اتومات کيږي. |
| | د حقيقي مودې ناخالصه تصفيه | ناخالصه تصفيه چې په کې طي مراحل او تصفيه په حقيقي موده کې ترسره کيږي (په دوامدار توګه). |
| | د زيرمو حساب | د ATS په سيستم کې هغو حسابونو ته ويل کيږي چې مشترکينو ته د يوی ځانګړي موخې لپاره د وجوهو د تخصيص کولو اجازه ورکوي.<br>په زيرمو کې شته پانګی (Funds (يوازې د TCC سره د ځانګړو معاملو |

| | | |
|---|---|---|
| د تصفيی لپاره کارول کيږي، لکه د ځانګړي کليرنګ هاوسونو لپاره د NSI معاملې. | | |
| په بانک کې صلاحيت لرونکی شخص يا مشترک چې د ATS سيستم د کاروونکو د تفصيلاتو او د کاروونکو د پروفايلونو د ساتلو لپاره دغې سيستم ته لاس رسی لري. | امنيتي مدير | |
| د مرکزي بانک سره يو حساب چې د يو مشترک ادارې لخوا چې د ATS سيستم د اصولو او لارښوونو تابع وي، ساتل کيږي. | د تصفيي حساب | |
| هغه سيستم چې پکې د تصفيي عمليه ترسره کيږي. | د تصفيي (خدمتونو) سيستم | |
| په يوه سيستم کې د تصفيي پروسې مشترک ته ويل کيږی چې دنده يې د پانګې (Funds او بيه لرونکو پاڼو ليږدول دی، چې د تصفيي په اداره کې د يو يا څو حسابونو له لارې د تصفيي د نورو مشترکينو ترمنځ پانګه (Funds يا بيه لرونکې پاڼې ترلاسه او ليږي چې موخه يې په سيستم کې د بيه لرونکو پاڼو يا پانګې (Funds تصفيه کول دی. | د تصفيي مشترک | |
| هغه ټول خدمتونه چې د دغو قوانينو په تعقيب د مرکزي بانک لخوا وړاندې شوی وی يا وړاندې کيږي، رانغاړي. | خدمتونه | |
| د يوټوټه شويو سيستمونو برابرول چې مشتريان له (بانکي) حساب، کريډټ او د ادانيزو معاملو د عملياتي مديريت له طی مراحلو (او نورو) سره نښلوي. د اس ټي پي (STP) د کاغذ او مداخلې طی مراحل لکه د يو او بل سيستم ترمنځ د معاملو بيا جهت ورکول، رفع کوي. | مستقيماً د طي مراحل له لارې | STP |
| د فرعي پيغام ډول د هغه ډول پيغام ښکارندوی دی چې پکې د سويفټ منځ پانګې لکه MX يا MT298 يا د پيغام اړوند ډول وي، چې کولای شی هغه معلومات ولری چې پيغام يې غواړي. | د فرعي پيغام ډول | SMT |
| د دوو شبکو نښلوونکي (Gateway) ته مراجعه وکړئ | دSTP مسير | |
| په تضمين کې د اينودل شويو بيه لرونکو پاڼو بيرته راګرځول، بيا پرانيستل يا هغه بيه لرونکی پاڼې چې د يوه پوروړی څخه په پور اخيستل شوی وی، د نورو بيه لرونکو پاڼو سره بدلولو ته تعويضول ويل کيږی چې د يادې شوې معاملې د اجراء پر مهال د بازار ارزښت سره برابر وي. | تعويضول | |
| د اداينې هدايت چې د يو ادا کوونکي لخوا د هغې د حساب د ډيبټ کولو لپاره او د ذينفع شخص (لکه د کريډټ ليږد) د حساب د کريډټ کولو لپاره ترسره کيږي. | د کم ارزښتو اداينو فرمايش | SVPO |
| د USB ټوکن چې ځان سره نښتی Chip لري او يوه حافظه (Memory) او/يا پروسسر ورسره مل دي چې پکې د يوه مشخص کاروونکي لپاره ځانګړی شوی ډيجيټلي تصديق ليک شامل دی. | الکترونيکي ټوکن | |
| نړيواله اداره چې د بانکونو تر مالکيت لاندې دی چې دې ته لاره هواروي چې الکترونيکي پيغامونه د بانکونو او د مالي ادارو ترمنځ په خوندي توګه وليږل شي. | د نړی د بانکونو تر منځ د مالي معاملو ټولنه | SWIFT |
| هغه سړی چې د مرکزي بانک لخوا د ATS سيستم د عملياتو د څارنې لپاره ټاکل شوی وي. | د سيستم مدير | |
| د سوداګرې ورځ په پای کې هغه مهال چې سرورنه او نور تجهيزات چې EPS سره مرسته کوي، بند کيږي، لکه څنګه چې د دغو اصولو په لسمه | د سيستم بندول | |

| | | |
|---|---|---|
| | | ضمیمه کې بیان شوی ده. |
| | د سیستم چلونکی | هغه اداره چې د ادااینو سیستم د کارولو او د کاري قوانینو د تعینوولو لپاره قانوني مسؤلیت لري. |
| | له تخنیکي پلوه منل کیدنه | هغه نقطه چې پکې شکل (فارمټ) او نور تخنیکي منل شوي موارد د ATS سیستم لخوا بشپړ شوی وی او دې سیستم یوه ادااینیزه هدایت د اعتبار وړ په توګه منلي وي خو د پانګی (Funds د شتونتیا کتنه (چک) یې ترسره کړی نه وي. |
| | تخنیکي چلوونکی | هغه اداره چې د یو سیستم د چلولو لپاره تخنیکي مسؤلیت ولري. |
| TTC | د معاملي د ډول کوډ | د ATS سیستم د معاملي د یو ډول کوډ څخه کار اخلي څو د ادااینو هر ډول پیغام وپیژني او دا چې څه رنګه طی مراحل شوی دی. |
| UAT | د کاروونکي د منل کیدلو ازموینه | د کاروونکو لخوا د یوه سیستم وروستی ازمایینت چې ټولی کاري دندې او فعالیتونه او تر فشار لاندې د سیستم کړنه او له ناورین څخه د بیرته راګرځیدو کړنلارو پلټل رانغاړي. د ازمایینت حدود د ATS سیستم د فعالیت وړتیا او د طرحي (ډیزاین) د ځانګړتیا پر اساس ولاړ دي، چې په دې لومړي راپور کې تعریف شوي دي. |
| | کاروونکی | د مشترک د اړوند قانون او کړنلارو سره سم، د یوه مشترک ټاکل شوی کارکوونکی یا استازی چې د دغو اصولو او د EPS د اسانتیاوو د کارولو حق ولري او هغي ته یو الکترونیکي ټوکن، PIN، USERNAME، او PASSWORD د لاس رسی د کنټرول لپاره ورکړل شوی وي. |
| | د کاروونکي لاربنوود / لاربنووني | د کاروونکي لاربنوود/لاربنووني د ATS سیستم د کارولو څرنګوالی تعریفوي. |
| | د ارزښت نیټه/د ارزښت ورځ | هغه نیټه (په جنتری کې هغه ورځ) چې پکې د انتقالي وجوه مبلغ د بانکي وجوه د ترلاسه کوونکو یا د مشتریانو په واک کې راځی. |
| WAN | د پراخي ساحي شبکه (اړیکي) | د ساحي دننه شبکي (LANs) چې ورته شبکو سره په پراخي ساحي کې د تیلیفوني کربنو او د راډیویي څپو له لارې یو بل سره تړاو لري. |